



*Download From; Aghalibrary.com*

# د کتاب پيژندنه


سريزه ........................................ ۵
دشيطان تاريخي ليرليد ........................................ ۷
شيطان په ادبياتو کي ........................................ ۱۰
دشيطان معمول نومونه ........................................ ۱۸
شيطان په غير اسلامي دينونو کي ........................................ ۲۶
شيطان په زرتشت کي ........................................ ۲۶
شيطان په بوديزم کي ........................................ ۲۷
شيطان په هندويزم کي ........................................ ۲۸
شيطان په يهوديت کي ........................................ ۳۲
شيطان په مسيحيت کي ........................................ ۳۵
په انجيل کي د شيطان نوم او دهغه معادل : ........................................ ۳۶
په انجيل کي د پول ته ورکړسوی القاب ........................................ ۳۷
د شيطان دزوال دليلونه ........................................ ۳۸
د شيطان سزاوي ........................................ ۳۸
د شيطان کارونه ........................................ ۳۸
د شيطان امر نه منل ........................................ ۳۹
د شيطان دندي ........................................ ۴۰
شيطان په اسلام کي ........................................ ۴۱
ابليس ........................................ ۴۱
شيطان ........................................ ۴۴
د شيطان د نفوذ مهمي لاري ........................................ ۴۵
د شيطان خوښی ........................................ ۴۶


Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

دشیطان نومونه ..... ۴۸
د شیطان کارونه ..... ۵۰
دشیطان مهمي موخې ..... ۵۲
شیطان پرچا برلاسی کیږي ..... ۵۳
شرک ..... ۵۶
شرکي دینونه ..... ۵۸
بت پرستان ..... ۵۸
صابیان ..... ۵۸
قرامطه او زنادقه ..... ۵۸
السوفستائیه ..... ۵۹
زرتشت ..... ۵۹
ماني ..... ۵۹
فتیشسم (روح پرستي) ..... ۵۹
توتمیسم ..... ۵۹
آنیمسیم (م قبیله ای) ..... ۵۹
هندویزم(برهمائي) ..... ۶۰
بدعت ..... ۶۱
د بدعت لغوی مفهوم: ..... ۶۱
له توحیدی دینونوڅخه جلا سوي مذهبونه اوفرقي ..... ۶۴
یهودیت ..... ۶۴
له یهودیته جلا سوی مذهبونه او فرقي : ..... ۶۵
دمسیحیت مذهبونه او فرقي ..... ۶۷
د میسحت دمذهبو او فرقو ډلبندي ..... ۶۸
د اسلام د دین مذهبونه او فرقي ..... ۷۰
د مذاهبو اوفرقو د راتلو علتونه ..... ۷۲
د اعتقاد له نظره د اهل سنت فرقي ..... ۷۵
اسلامی مذاهبو ته ورته فرقي ..... ۷۷

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

شیطان پرستان ........ ۸۳
الف : دختیځ شیطان پرستان ........ ۸۳
ب : دلویدیځ شیطان پرستان: ........ ۸۳
نوی شیطان پرستان ........ ۸۴
بی دینان ........ ۸۶
ګناه ........ ۸۷
په ګناه لعنت سوی دلي ........ ۸۹
دګناه ډولونه ........ ۸۹
لويي ګناه وي ........ ۸۹
وړې ګناهوی ........ ۹۴
د ګناهونو کیلی ........ ۹۴
د شیطان کړه ........ ۹۷
د شیطا ن شکلونه ........ ۱۰۳
په بدن کې د شیطان ځای ........ ۱۰۵
۱- د نفس یا هوایا نفس اماره ........ ۱۰۵
۲-ناصیه ........ ۱۰۹
دشیطان ډولونه ........ ۱۱۳
الف :دزه بیني (جن) شیطانان ........ ۱۱۳
۱۱۹
۲-ساینس پوهان او تیوریسنان ........ ۱۱۹
فضا ته فضایي شتلونو په اړه لنډ مالومات ........ ۱۲۱
۳-دپلاستکی طب ماهران اود تیوانځورګران ........ ۱۲۲
شیطان او ساینس ........ ۱۲۳
ددعا او عبادت اغیز ........ ۱۲۷
پایله ........ ۱۳۰
اخځونه ........ ۱۳۳



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

Copyright: www.tanzona.com

# سریزه

الله (ج) درې ډوله عاقل موجودات پیداکړي دي،لومړی آدم دی، چي له خاوري جوړسوی دی ،دانسان پلار آدم (ع) او مور يي بي بي حوا ده. دویم يي ملايکي دي، چي له نوره پیدا سوي دي . الله (ج) ته کاملا تسیلم دي ، او خلقت يي له پیریانو او انسانانو څخه تر مخه دی او آدم ته يي سجده کړي ده.

او دریيم يي پیریان دي، چي الله (ج) له بي دوده اوره پیدا کړي دي ، هغوی هم له انسان څخه مخکي پیدا سوي دي. دپیریانو پلار« مارج» او موریي «مارجه » نومیده . پیریان دوې طایفي لري یوه طایفه يي پیریان اوبله طایفه يي شیطانان دي .

دشیطانانو نیکه ابلیس دی . ابلیس اصلي نوم « الحارث» و کنیهيي«بومره» ده، چي له ملایکو سره يو ځای اوسیده ،د الله (ج) دامر د نه منلو په وجه د الله (ج) په غضب اخته سو.

په قرانکریم کي د شیطان په اړه ټول مسایل علمي دي مگر د خلکو له نا پاهمي اوبي علمي څخه د شیطان په اړه ډیر خرافات ویل سوي دي ، چي منطقي نه دي. دشیطان نوم موږ ذهن کي یو عجب اوغریب موجود چي لکی او ښکرونه لري انځوروي، چي موذي ، ځوروونکی ، دښمن، بد عمله او ختا ایستونکی دی .

تر هغه چي ذره بیني موجودات نه وه کشف سوي چا باور نه کوئ، چي په یوه ځاځکه وینه کي په زرونو ژوندي موجودات چي انسان هغه نه ویني لري. پوهان وایي دانسان سترگي لږ رنگونه ویني اوغوږونه يي یوه محدوده فریکوینسي ږغونه اوري ؛نو دذره بیني موجوداتو لیدل په عادي سترگو امکان نه لري . دساینس له ودی سره پوهانو ته دا امکانات تر لاسه سوي ،چي د ذره بیني موجوداتو په هکله په قرانکریم کي پلټنه وکړي ؛ ځکه هیڅ امکان نه لري، چي په یو کامل کتاب کي دداسي موجوداتو په هکله ذکر نه وي سوی ، یوازې ددي موجوداتو د انسان لخوا ایښول سوي نومونه د قرانکریم له نومونو سره توپیر لري؛ نو دهغو له تشریح، تفسیر او احادیثو څخه ددې موجوداتو د تشخیص امکان سته.



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

خدای تعالی شیطان دانسان دښمن بللی دی، دښمن هغه څوک دی چې انسان ته غلطې لارې ښيي ، هغه ناروغه وي چې عبادت ونه کړي، هغه ته د کايناتو او د بشر د منشا په هکله دروغ وايي او دهغو ذهنيت خرابوي او داسې نور .

ما هڅه کړې په دې هکله د ټولو اديانو معتبر کتابونه په ځانګړې ډول قرانکريم چې د خدای (ج) لخوا انسان ته راليږل سوی، اخير کامل کتاب دی او د رسول الله (ص)معتبر حديثونه په ځير سره ولولم او ددې ذره بيني موجوداتو په هکله پټ رازونه وپلټم هغه را ټول او ځان په پوه کړم ؛د الله (ج) شکر پر ځای کوم چې زما قناعت حاصل سو چې هيڅ پټ شي د قرانکريم له ذره بين څخه پاته نه دی ،چې د هغه په باب يې ذکر نه وي کړی . زه دا خپل مالومات ستاسو سره شريکوم اميد چې د قبول وړ مو وګرځي .

په درناوي

پوهنمل محمود نظري

لندن ۲۰۱۲

Copyright: www.tanzona.com

# دشیطان تاریخي لیرلید

دنړی له لرغوني تاریخ څخه مالومیږي، چي د شیطان افساني له اسلام نه مخکي وې ، ویل کیدې.انسانانو په هره بدمرغي کي دشیطان لاس بلی .

تاریخ پوهان وایي د شیطان کلمه لومړی په زرتشت کي د اهریمن په نوم راغلي ده ،چي بیا یې سامي دینونو ته لاره پیدا کړې ده، له هغه ځایه تر عربو پورې رسیدلي ده.

لویدیځ پوهان لیکي ،چې په «اومیشار» کتاب کي چي له بودا وروسته لیکل سوی دی، د مړیني د خدای یادونه سوې ده ،چي په بودا یې مذهب کي هغه د بودا دښمن یادسوی دی، او اهریمن هم همدا مفهوم ورکوي، چي له زرتشت څخه سامیانو ته او له هغه ځایه عربو ته تللی دی .

د عربو په ادبیاتو کي شیطان شعري باور درلود، چي شاعرانو ته القا کوي؛نو هر شاعر ځان ته یو شیطان درلود لکه د (عبید شاعر )شیطان «هبید» و ،د (الاعشی) شیطان «مسحل» و، د عمروبن قطن او بشار شعري شیطانان « جهنام او سنقناق» وه.

شاعرانو ته دي شیطانانو ډیر اهمیت درلود او ځانونه یې دهغو پوړولي بلله.

ان هغه وخت د ځینو شاعرانو نومونه او ستاینومونه شیطانان وه لکه :شیطان د فرزدق نامتو شاعر .

دعربو په لرغوني تاریخ کي د ځینو لویانو او واکمنو نومونه شیطان راغلي دي لکه : د بني حشم شیطان بن مدلج ، شیطان بن الحکم، شیطان بن بکر بن عوف ،الحارث بن فروه بن الشیطان .

ان د ځینو عربو قبیلو نومونه شیطانان وه لکه : بنو شیطان .

عربو مار ته هم شیطان وایه .عربو هغه رسی ته چي په سلواغه له څاه څخه داوبو ایستلي لپاره ترل کیده ته شیطن وایه .

ویل کیږي ،چي په لرغونو متونو کي د اوښ له ورانه له سره تر پښو پورې هغه مار پیچه ډوله علامه یا نښه چي هغه مهال دود وه هم شیطان نومیده .

د شیطان د نومونو ریښې :



www.tanzona.com

۱- شیطان: شیطان یو خاص نوم دی ، دیو معین موجود نوم نه دی . شیطان هر مضر او بدلاري یاغي موجود ته ویل سوي دي که انساني وي که غیرانساني .

ځیني پوهان شیطان د عبري لغت «هاشتطین» چي د مخالفت او دښمني مانا لري ریښه بولي .

دځینو نور پوهانو په اند د شیطان کلمه د یونان د «تیتان»سره ورته والي لري .یونانیان « تیتان » د المپ دخد ای دښمن بولي او ځیني نور بیا باور لري، چي شیطان عربي توری نه دی، هغه له یوناني توري «پایولس» څخه چي مانا یي چغولي ده اخیستل سوی دی .

ځیني بیا د شیطان اصلي ریښه «اپلیون» چي مانا یي ده وژنه بولي .

ځیني بیا باور لري چي شیطان له «شاط، یشیط» د فعلان په وزن چي جمع یي «شیاط» یا «شیاطي» ده څخه اخیستل سوی دی . ځیني بیا غضبان ا و سکران د هغه ریښي بولي . ځیني بیاد شیطان ریښه له شطن څخه بولي، چي مانا یي ده اوږده رسی یاني لیري کیدل ( لیري کیدل له حق څخه) .

۲- ابلیس: ابلیس یو خاص نوم دی .

د ابلیس کلمه مفرده او د هغه جمع (ابالیس او بالسه ) دی . ځیني پوهان وایي ابلیس یوه عربي کلمه ده ،هغه یو حقیقي او ژوندی موجوددی ،چي شعور لري او نامریي دی ، ختا ایستونکی دی، او د خدای (ج) له امره یي سر غړولی دی .ځیني پوهان وایي ابلیس عربي کلمه نه ده شایدله« ابلس» چي مانا یي شر اووسوس دی یا هم له «بلس» چي مانا یي ناهیلي او حیرانتیا ده، یا له « ابلاس» چي مانا یي دخدای له رحمته ناهیلي کیدل، یا هغه غم چي له نامیدي څخه پیدا کیږي یا غمجن اوسر په ګریوان کې کول څخه اخیستل سوی دی .

۳- عزازیل :عزازیل یوه عبري کلمه ده، چي مانا یي عزیز دی ، دا د یوې ملایکي نوم دی چي ابلیس هغه ختا ایستلي دی ، نوم یي د شیطان سیمبول سوی دی .

تکبر عزازیل را خوار کرد

به زندان لعنت گرفتار کرد

عزازیل دیوې وزې نوم دی چي عربود خپلو د ګناهونو کفاره پر هغې اچووله ، هغه به یي په وچه دښته کي خوشي کوله چي د کام دګناهونو کفاره ناماللوم ځای ته یوسي .



www.tanzona.com

۴-مذموم ؛ ړتل سوی

۵-عفريت : واک لرونکی خبيث

۶-شيصبان :د شيطان بل نوم دی

۷-ابولبيني : دابليس لور(لبينی ) وه

او داسي نورد ابليس ستاينومونه دي .

له دي مالوميږي چې له اسلام څخه مخکي عرب له دې کلمي سره اشنا وه، څکه له اسلامه مخکي په نورو دينونو کي دشيطان صفتونه هم راغلي دي ،چي عرب ورسره روږد وه ؛نو عربوته په قرانکريم کي د شيطان نوم او مفهوم نوی نه و.



www.tanzona.com
Copyright: www.tanzona.com

# شیطان په ادبیاتو کي

د شیطان تر تولولرغوني ریښي د عربي ویيونو په کتاب کي د «رؤبه» په یو شعر کي راغلي دي :

و فی أخادید الشیاط المشن

شاف لبغی الکلب المشیطن

د شلاغو نبني شفا ده دسپي تپ ته

دي کوڅه ډب ، مردار، لیري سوي ته

د شطن اصلي مانا لیري سوی دی .

د«نابغه» په شعر کي شطون لیري والي ته ویل سوی دی .

نات بسعاد عنک نوی شطون

فبانت و الفؤاد بها رهین

د ژور څاه رسی ته هم شطن ویل سوي دی او شیطان يې وجه تسمیه ده یاني لیري والي .

«جریر» په خپل یو شعر کي وايي :

ایام یدعوننی الشیطان من غزلی

و هن یهویننی إذ کنت شیطانا

کله چي یاغي اومتکبر وم

شیطان زه عاشقي ته وبللم

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

«عنتره » په یوشعر کې وايي :

يدعون عنتر و الرماح كانها
اشطان بئر فی لبان الادهم

په عربي کې دشطن جمع اشطان یاني رسیاني ( تناونه ) ته وايي .
شطن رسی ده اومشاطن هغه څوک چې له څاه اوبه راباسي .
«ذوالرمه» په خپل یوشعر کې وايي:

اخو قنص یهفو کان سراته
ورجلیه سلم بین حبلی مشاطن

یو عرب شاعر خپله ښځه داسې رټلې ده .

عنجرد تحلف حين أحلف
كمثل شيطان الحماط أعرف

چې زه قسم خورم هغه هم قسم خوري
شیطان دی لکه دحماط تاج لرونکی مار

یو عرب شاعر دخپلې اوښې داسې صفت کوي :

تلاعب مثنی حضرمی کأنه
تعمج شیطان بذی خروع قفر

عنان د حضرداوښ پرشا لکه مار پیچل سوی
لکه شیطان چې شین سوی وي په دښته کې

له اسلام څخه وروسته ډیرو شاعرانو دشیطان دبد توصیف په هکله ډیر شعرونه ویلي دي :



Copyright: www.tanzona.com

مولانا په مثنوی کي شیطان او دهغه پلویان د نیکانو ضد بولي او وايي :

دو علم بر ساخت سپید و سیاه

آن یکی آدم دیگر ابلیس راه

هم چنان دور دوم هابیل شد

ضد نور پاك او قابیل شد

هم چنان این دو علم از عدل و جور

تا به نمرود آمد اندر دور دور

ضد ابراهیم گشت و خصم او

و آن دو لشکر کین گزار و جنگجو

چون درازی جنگ آمد ناخوشش

فیصل آن هر دو آمد آتشش

پس حکم کرد آتشی را ونکر

تا شود حل مشکل آن دو نفر

دور دور و قرن قرن این فریقو

تا به فرعون و به موسای شفیق

سال ها اندر میانشان حرب بود

چون زحد رفت و ملولی می فزود

آب دریا را حکم سازید حق

تا که ماند کی برد زین دو سبق

هم چنان تا دور و طور مصطفی

با ابوجهل آن سپهدار جفا



www.tanzona.com

هم نکر سازید از قوم ثمود

صیحه ای که جانشان را در ربود

هم نکر سازید بهر قوم عاد

زود خیز تیز رو یعنی که باد

هم نکر سازید بر قارون زکین

در حلیمی این زمین پوشید کین

تا حلیمی زمین شد جمله قهر

برد قارون را و گنجش را به قعر

دوې لارې جوړې کړې بادار

یو د آدم اوبله د ابلیس لار

همداسي دویم وار د هابیل سو

د هغه د پاک نور ضد قابیل سو

دا دوې لارې دعدل او ځور

تر نمروده ورسیده دهغه دور

د ابراهیم ضد سو او دبنمن د هغه

دوه لښکره غچ اخیستونکی اوجنگره

داچي د جنگ پایښت پر زور سو

د دواړوتر منځ حکم بل اور سو

نو حکم يي وکړاور ته دنکر

چي ختم سي د دي دوو ربر

دور دور او پیری پیری وو دا فریق



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

تر فرعون او تردوره دموسی شفیق

کلونه يې تر منځ جنګونه وه

چې له حده ډیر یده غم يې زیږوه

دسیند اوبوته حکم وکړ حق

چا له دې دوارو ښخه واخیست سبق

همداسې په دوران کې د مصطفی

له ابوجهل سره چې و پاچا د جفا

هم يې سزا ورکړه قوم د ثمود ته

غیبي چغه په سپیدو تولة مړه کړه

هم يې سزا ورکړه قوم ته دعاد

د سهار په تیز او توند باد

سزا يې ورکړه قارون ته د دبنمني

دا دبنمن يې ننه ایست پر مځکي حلیمي

تر هغه چې دا حلیمی سوه تولة غوسه

ننه ایست قارون او ګنج يې د مځکې دننه

سنایی په حدیقة الحقیقه او مولانا په مثنوي کې لیکي :

دیو از این عقل گشت با شر و شور

تا بمخراق لعنتي شد کور

شیطان ددې عقله سو په شر او شور

چې د لعنت په مخراق کې سو کور

بگذر از عقل و خدعه و تلبیس



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

که عزازیل از این شدست ابلیس

تیر سه له عقله ، خدعه اوتلبیس

چي عزازیل له دي سو ابلیس

د عزازیل هغه لویه ملایکه وه چي ابلیس ختا ایستله چي بیا له هغه څخه دشیطان سیمبول سو

ډیر صوفیه داستانونه شیطان یو سیمبولیک شی بولي . .

مولانا د آدم او شیطان په داستان کي لیکي :

گفت شیطان که بما اغویتني

کرد فعل خود نهان دیو دني

ویل شیطان بما اغویتني (زه دی ختا ایستلم)

خپل کړه یي کړه پټ،دیو دني( خوی)

ابلیس خپل سرکشي په خدااچوي او وایي«بما اغویتني»

گفت آدم که ظلمنا نفسنا

او ز فعل حق نبد غافل چون ما

ویل ادم چي ظلمنا نفسنا

او دحق له فعله غافل نه و لکه ما

سنایي د شیطان له خولي وایي :

مي‌خواست تا نشانه ي لعنت کند مرا

کرد آنچه خواست، آدم خاکي بهانه بود

غوښتل یي چي ما کړي د لعنت نښانه

خپله غوښتنه یي پوره کړه دا خاورین آدم یي بهانه کړه .

مولانا د ابلیس په هکله وایي :



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

اول آنکس کین قیاسکها نمود

پیش انوار خدا ابلیس بود

گفت نار از خاک، بيشک بهتر است

من ز نار و او ز خاک اکدرست

لومړی کس چي وکړه دا پرتله

د خدا انوارو ته ابلیس و هغه

ویل اور تر خاورو بي شکه ښه دی

زه له اوره او هغه له تورې خاورې دی

په ډیرو داستانونه کي شیطان د نفس اماره سیمبول بلل سوی د ی .

یو شاعر د شیطان په هکله وايي :

دشمنی داری چنین در سر خویش

مانع عقل است و خصم جان و کیش

يك نفس حمله کند چون سوسمار

پس به سوراخی گریزد در فرار

در دل او سوراخ ها دارد کنون

سر زهر سوراخ می آرد برون

که خدا آن دیو را خناس خواند

کو سر آن خار پشتك را بماند

می نهان گردد سر آن خارپشت

دم به دم از بیم صیاد درشت

تا چو فرصت یافت سر آرد برون



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

زين چنين مکری شود مارش زبون

داسي دښمن لري په سر کې خپل

دښمن د ځان او دين دی مانع د عقل

يو واری برید وکړي لکه سوسمار

بیا په سوري ننوځي او کړي فرار

اوس سوري لري د هغه زړه

له هر سوري راباسي سر هغه

خدای هغه دیو ته خناس وواېه

چې سر يې ځيرګي ته دی ورته

ځيرګی خپل سر پټوي

هر ګړی له ويرې د ښکاري

چې فرصيت پيدا کړي سر کړي بهر

مارخوارو زار کړي دهغه دا مکر

شیطان کله دغوسي ، دشراوفساد او بدي سيمبول او کله نفس اماره بلل سوی دی .

ابليس په دري شعر کې په درو نومونو راغلی دی .

دآدم (ع) د خلقت مخکې هغه ته عزازيل ، دآدم (ع) د پيدا کيدو په وخت کې هغه ته ابليس او دآدم (ع) له خلقت وروسته ياني په مادي ژوند کې شيطان راغلی دی .

په لويديځو ادبياتو کې انګريز ي شاعرانو لکه ويليام بليک ( ميلتون په ورک جنت کې)، کريستوفر مارلو د( هر يو شيطان) دشيطان يادونه کړي ده مګر په لويديځو ادبياتو کې د ابليس کلمه نه ده راغلي .



www.tanzona.com

Copyright: www.tanzona.com

# دشیطان معمول نومونه

شیطان یو نوم دی چې مانا یې ده ( دطبیعت لوړ موجود) ، چې په لوېدیځو دینونو کې د بدیو دتجسم مرکز بلل سوی دی . شیطان په نورو نومونو لکه ابلیس ،اهریمن ، دیو، لوسیفر، دیول،او سیتان هم یاد سوی دی .

دشیطان لاتیني لغت« دیول » یوناني کلېمه «دایابولیس » ده ،چې مانا یې له تور اوتهمت څخه اخیستل سوې ده اوکله یې بیارېښه « دایابولیس» بولي . د یوناني «دیول »لومړی مانا ملایکه ده، چې

په اریایي فرهنګ کې په «دیو» او «دیوه» اوښتې ده، چې هندي او اروپایي رېښه لري ،چې مانا یې خدای دی ، دا کلېمه مقدسه بلل سوې ده. اوس په اروپایي ژبو کې د «دیوه » د خدای، آسمان اوجنت رېښه هم بلل سوې ده او په وادها( په هندو مقدس متونو کې) تر اوسه دا نوم خپل تقدس لري مګر په فارسي کې یې خپل مفهوم دلاسه ورکړي دي ،د شیطان ، اهریمن ، دښمن، د دین ضد، پردی و یا وحشي مفاهیم یې دودسوي دي .

زرتشتانو بیله یو خدای(«اهورا مزدا» نور خدایان باطل او« دیو» بلل هغو ته یې دیو یا اهریمن وایه دشیطان اصلي کلمه له یهودیت څخه راغلي او په مسیحیت او اسلام کې تکمیل سوی ده .

د شیطان هغه نومونه چې ډیر معمول دي

بافومیت Baphomet عزازیل :Azazel, Asael : (عبري) - د شیطانانو پاچا.

هغه شیطان دی چې شوالیه تیمپلر د هغه عبادت کوي .

بلزبوب (Beelzebub :

Copyright: www.tanzona.com

( عبري) - دمچانو خدای( میتو۲۵:۱ )

بیلیال:Belial, Beliar, Bheliar

( عبري)- بې خدایه ، د غرور خدای( قرونتیان ۱۵:۶)

مستما :Mastema

د جوبیلی د کتاب شیطان

سمیل :Sammael, Samiel, Sammael

دخدای زهر

هغه عناوین چې تل شیطان ته راجع کیږي :

۶۶۶(یا ۶۱۶ )بد نمبرعدد، اهریمن،بدی غوښتونکی روح ، نامقدس روح (Angra Mainyu انگره مینیو)

د مسیح ضدـ دشیطان راتگ فاني دینا ته

تور خدای ( Dark Lord)

دیر لیبهافتگ (Der Leibhaftige):

( جرمني) – هغه خپله نیازمند دی

دیابولوس(Diabolus, Diabolos :

( یوناني )- پرې کول

ابلیس (Iblis ) -د اسلام شیطان

دمځکي لاندې لارد، د دوږخ لارد ،ددنیا لارد

Lord of the underworld / Lord of Hell / Lord of this World

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

- دسهار ستورى ( يوناني او رومي ): د روښنايي راوستونكى ، روښانه كوونكى ، د وينوس ستورى
.

لوسيفير ( Lucifer): ستورى

ليوياتان (Leviathan ):

هغه چي له نوره ويريږي .

ميفستوفيل(Mephistopheles):

پخوانی ټپ، پردی، پخوانی نیک، زوړ فریب،

Old Scratch, The Stranger, Old Nick

د تیارى شهزاده/ Prince of Darkness هوا

Old Hob

سيتان :Satan

دښمن، متهم کوونکى او تعقيبوونکى

Shaitan ) شيطان د سيتان عربي نوم دى

كولسكي ( Kölski ) : ( ايسلند)

والند ( Voland) :

(په فرانسه کې- په منځنيو پيريو کې)

هغه نهادونه چي شيطان ته راجع كيږي لكه :

Abbadon, Angra Mainyu, Satan, Asmodai, Beelzebub, Lucifer, Belial, and Iblis.



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com



Azazel



**Baphomet**

Copyright www.tanzona.com




www.tanzona.com



Beelzebub



(Dark Lord)




Der Leibhaftige

Copyright: www.tanzona.com



Diabolus, Diabolos



Lucifer



Satan

Copyright: tanzona.com



www.tanzona.com



Leviathan




۶۶۶



Kölski

Copyright www.tanzona.com



www.tanzona.com




voland



Iblis

Copyright: tanzona.com

# شیطان په غیر اسلامي دینونو کې

### *شیطان په زرتشت کې*

زرتشتان دوه ګوني پرسته دي، په دوو خدایانو یو د خیرخدای ( اهورامزدا ) او بل دشرخدای « اهریمن» باور لري،د هغو په باور اهورامزدا نور دی ، دپاکي او ښو خالق دی او اهریمن د تیارې او بدي خالق دی، چې بد او درواغجن دی .

زردتشتان باور لري ،چې په طبیعت کې دو متضاد واکونه سته یو خیر(سپنتا مینو- د روښنا یي اثر) او بل شر (انګره مینو - دتیارې اثر) د ی چې د ا دواړه تل په جګړه کې دي .

اهریمن یا اوستایي «اګره مینیو» هغه موجوددی ،چې د نیکیو له منځ وړولو لپاره هڅه کوي مګراخیر اهورامزدا پر هغه بریالی کیږي او اهریمن له منځه ځي .

زردتشتان باور لري اهورامزا د ټولو انسانانو ، امشاسپندانو ، نورا یزدانو ( ملایکو) او نیکو موجوداتو (مزدا) خالق دی ، چې له دیوانو سره چې اهریمني موجودات دي د بري لپاره په جګړه کې دي .

په پارسی کې «اهریمن» ته «اهرمن» وایي ، چې د شیطان سیال دی .

د شیطان اصلي مانا دروا غ او ختاایستل ده ، چې دزرتشتانو په کتاب «ګاته »کې« ۶۰۶ »واري رټل سوی دی او «انګره مینو» یاني د ټولو دښمنه روح یوازې یو وار په سترګو کیږي ،ددې دین په باور انګره مینو او ډیر شیطانان وجود لري، چې دخیر له ملایکو سره په شخړه کې دي . دهغوی دا شیطانان دا دي : د وړې شیطان ، دترې شیطان ، دخبنم شیطان ، دکرکې شیطان ،د حسد شیطان ،د درواغو شیطان ، دوچکالي شیطان ، د ژمي شیطان اود بدکار شیطان ...

د اوستا به ګاته ( پخواني ټکسټ کې ) په یو شعر کې د خدای د دښمن په اړه راغلي دي :



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

دلته اهورامزدا د ربنتیا خالق دی، او اهریمن درواغجن او هرج اومرج غونديې یوشی دی

یاني شاعر شیطان د خدای دبنمن نه بولي .

په کلاسیک زرتشت کې بنه خدای ته « اهورامزدا» او شریر سیال ته یې« انگره مینو» او« زمان » یا (زوروان) یې زامن بلل سوي دي .

دهندیا په پارس کې د( ۱۹ پیړی) په یوه ژباړه کي «انگرمینو» د «اهورامزدا» ویجاړونکي تجلي بلل سوې ده، او مزدا ( پنځوونکي تجلي) بلل سوې ده او وایي انگره مینو د سپینتا مینیو سره په شخړه کې دي .

### *شیطان په بودیزم کې*

بودایان شیطان ته « مارا» وايي او هغه دآسماني شیطانانو رییس بولي او دریاست قلمرویي د هوس حس دی .

بودایان باور لري، چې « سیدهارتا» چې بیا وروسته« بودا» وبلل سو ، د پیغامبري د دعوا تر مخې د «مارا »لخوا وسوسه سو؛ یاني مارا بودا وسوسه کړ چې د هغې بنکلي لور ته وگوري، مگر هغه یې دخپلې لارې ونه بنویوئ .

«مارا» د غوبنتونو او بدو لارو سیمبول دی او وایي مارا د انسان په معنوي او روحي ژوند بده اغیزه لري یاني انسان له معنوي کارونو څخه باسي او پام یې دیني کړو وړوته اړوي ،او بد بنه ورته مالوموي یا په بله مانا « مارا »د یو سړي غوبنته ده چې دانسان په ذهن کې ده ، انسان نه پریږدي ربنتیا ووینې،نو «مارا »مستقل نه دی د انسان یوه برخه ده .

د بودا په ورځني ژوند کې د شیطان رول «دیواداتا» ته ورکول سوی دی ، چې دشیطان د اکا زوی ورته ویل سوی دی .

د بودایزم په آرت او لیکونو کې یو بل موجود د «راهو» په نامه سته، چې د ترور او وحشت د الهي په نوم یادسوی دی .



www.tanzona.com

### شیطان په هندویزم کې

هندوان باور لري، چې په دنیا کې بدي ستنه ، مګر هغوی د شیطان غوندي کوم مرکزي نهاد نه لري، هغوی په « اسورا » یا بدو ارو‌ا باور لري مګر وایي بدي اروا‌وي د تل لپاره بدي نه پاته کیږي . هغه د« نارکا» څخه بولي اوباور لري کیدای سي ښې او نیکي سي،په هرحال بد( اسوراس) ځینې وختونه د خدای د غوښتونو ضد عمل کوي او انسانان د ربړونو سره مخامخ وي ، دهغه کرکټر شیطان ته نژدې دی او تر ټولو وتلی یې « اسورا» « راهو» بلل سوي دی .

په هندي افسانو کې« راهو» مار دی ،چې لمر او سپوږمۍ ښوی تیروي او د ترنديږ( خسوف )سبب ګرځي.

دافسانو په اساس« راهو » له الهی شاتو ( دژوند عسل) څخه څه ښبي او مخکې له دې ، چې شات د هغه له ستوني تیر سي ،موهیني( د ویشنو ښځه) د هغه سر پرې کوي نو د راهو سر ابدي ژوندی پاته کیږي .

دهندوانو په فلسفي کې «اسوراس» لکه په ابراهیمي دینونو کې شیطان دومره واک نه لري،

د هغه واک لږ دی ، هغه لکه په مغز کې یو خیال غوندې دی، اسوراس په موقت ډول بدنیته انسان هم کیدای سي.

په«ویشنو پورانا »کې راغلي چي «اسورس »له خپلي ټولي بدي کورنۍ سره د « ویشنو» منفي مظهر دی او مدام د نرۍ د ویجاړولو لامل ګرځي.

په «اواویزي » کې د شیطان ورته انځور« کروني » راغلی دی، هغه یو وړی دیب( دیو ) چي اندامونه یې د غرونو په اندازه دي،چې د بدي تجلي بلل سوي ده ، او په ډول ډول شکلونو او عمرونو لیدل کیږي لکه : « راونا» او« دورادهانه» او داسي نور .

د هندوانو په کتاب «باګاواد ګیتا » کې د «ارجون » او له شر او بد غوښتونکو سره د جنګونو نکلونه راغلي دي او هم شیطان هغه چا ته ویل کیده چې سوچ یې کوی ډیر واک لري ، شر پیدا کوي او انسان وسوسه کوي .

نو ویلای سو په هندویزم کې هم دوګوني ستنه یو ښه اوبل بد .

په ډیر ګمان اسورا راهو دی ،چې کږه وږه یې شیطان ته پاته کیږي او د هندوانو په باور ویشنو پر هغه بریالی کیږي .



www.tanzona.com

دتبت د» راهون» یا شیطان انځور د یهودیت ، مسیحیت، اسلام او زرتشت دشیطان ضد دی .

.



راهو



د تیبتیانو راهو


Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

اهریمن





مارا


Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com



Angra Mainyu



asura

Copyright www.tanzona.com

***شیطان په یهودیت کې***

په یهودیت کې لکه مسیحیت او اسلام د «دیول» اود شیطان په مفهوم کوم موجود نسته.

په عبرو کې د «بابلي »کلمې « سیتان »مانا دښمن یا خنډ او تعقیبوونکی یا مدعي دی .

دیهودو په لرغونو کتابونو کې د «سیتان »کړه د مسیحیت د «دیول» او داسلام دشیطان ته ورته دي .

د حکمت په کتاب( ۲:۲۴ ) کې سیتان دټولو بدیو لیکونکی بلل سوی دی ، چې دنیاته مړینه راوړي،هغه دبي بي حوا ختا ایستونکی بولي چې د شرارت په وجه له جنته له نورو ملایکو سره ایستل سوی دی .

(دا ینوخ دویم کتاب ۲۴ ) کې راغلي دي ، چې مخکې د هغه نوم «ستانیل» و ،بیا دهغه نوم په «سیتان» بدل سوی دی ، چې د بابلي کلمې«ستانیل» ریښه لري ،چې له « سپیل »څخه اخیستل سوی دی چې مانا یې ملایکه وه . دهغه ملایکې وړونو لکه : مکایل ، رافایل، اوریل او ګابریل دي .

(د اشعیا دشهادت ۲:۲ ؛او د آدم او حوا ژوند۱۶) کې راغلی چې « سیتان» پر ټولو ملایکو پاچاهي کوله .

( د جوبلي کتاب ۱۸:۱۷ )کې راغلي، هغه خدای (ج) وهڅوئ چې له ابراهیم (ع) څخه د هغه د زوی اسحق د قرباني امتحان واخلي ( دلته قرانکریم ضد د اسمعیل (ع) پر ځای اسحق(ع) راغلی دی)

د« توبت» په کتاب کې« اسمودیوس» د «سیتان» ورته بلل سوی دی په ځانګړې ډول د هغه شر او بدي ،هغه ته د شر پاچا یا ( سمویل) هم ویل سوی دی .

د یهود و په کتاب «تلمود» کې یې سیتان ته ځانګړې مفاهیم ورکړي دي لکه :

سمویل: چې د سیتان پاچا دی ، مخکې د جنت د ملایکو لوی شهزاده و.

سمویل لکه نور آسماني موجودات و، لکه الوتونکي الوتلای سو ، غرڅه غوندې و،ښځه وه، ګدا و، یو ځوان سړی و. پورته پورته غورځید، په خیال کې دبزې (وزې) په ډول ظاهریدی .

د هغه دټول شرر تجسم ( بهرنی ډول ) دی،هغه ټول خپل سوچ او کړه د انسان دبې لارې کولو لپاره په کارول .

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

سیتان : سیتان په یهوو کې دښمن یا ( تهمت کوونکی ) مانا لري هغه دخدای ددښمن نه بلکې د هغه یو خادم راغلی دی، چې د بشر ایمان امتحانوي .سیتان شرر خپروي ، او د مړیني ملایکي ته ورته شخصیت لري .

سیتان مار د انسان د ختاایستلو یو فعال استازی دی . چې د قابیل پلار بلل سوی دی ، د موسی (ع) د مړیني او له بت شیوا سره د داود (ع) دگناه وسیله و .

که سیتان خپلي موخي ته ونه رسیږي ډیرپه غوسه کیږي؛ اسراییلو ته د تورات ورکول هغه ډیر خواشیني کړ نو د اسراییل یي ختا ایستله ، چې د زرو دخوسي عبادت وکړي .

سیتان پلیدي زیاتوي، د زیږیدو په مهال مور ملامتوي، هغه دمسیح دښمن او دجال دی .

ها سیتان: په اتلسمه پیړی کې چاسیدیک یهودوانو« هاسیتان » بعل داور( دښمن) بللی دی .

په عبري انجیل کې ( ها سیتان) ته دښمن ویل سوی دی ، وایي هغه لکه یوه ملایکه بشرامتحانوي .

ها سیتان د متهم یا دښمن په مانا هم راغلی دی – ( سام(۱۰۹:۶)،لومړی سمویل(۴:۲۹) او اعداد( ۲۲:۲۲)

ها سیتان( ۱۳ )واري د ماسوراتیک تیکست د عبري بایبل په دوو کتابونو کې راغلی دی .

لوسیفر: په مسیحیت کې ځیني ځایونه سیتان ته لوسیفر هم ویل سوی دی ،چې په یهودیت کې هم راغلی دی . لکه :

په اشعیا ۱۴:۱۲ کې راغلي چې لوسفیریا د سهار زوی د بابولي پاچا یو ریفرنس دی .

شیطان ودرید د اسرایلو په مقابل کې – ( سام ۱۰۹:۶دویمه برخه)

او خدای هغه د « ریزن» د« یلیاد» زوی پرضد وهڅوئ ( ریزن داسراییلو دښمن و چې د سلیمان (ع)په وخت کې اوسیده )- لومړی گینگ۱۱:۲۳

دسامیانو په اند مار د پورته نړی سره اړیکي لري . د تورات په اساسآدم (ع) شیطان د مار په ډول ولید.

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com



لوسفیر



دیول





Copyright tanzona.com
www.tanzona.com

ها سیتان



سمویل

***شیطان په مسیحیت کې***

په ابراهیمي دینونو کي« دیول» یوه یاغي ملایکه راغلي ده، چي انسانان وسوسه کوي او گناه ته یې اړ باسي .د مسیحیت په اصلي مسیر کي معمولا خدای او« دیول » داسي انځور سوي دي ،چي گواکي هغوی د انسا ن په روح کي سره مبارزه کوي ؛ نو «دیول» خلک ختاباسي او گناه ته یې اړباسي .

وايي «دیول» یو ه ملایکه ده چي دشر دواک دومین( پلیده رو ح) « لارد» یا خدای دی ، چي ژوندی دی او انسانان خوروي. دیول یو پیداسوی موجو د دی، خدا نه دی .

په عمومي ډول شیطان په زوړ تستمنت کي دولس واري راغلی دی ،چي لس واري یې «دیول» یو وار« دیابالس» او یو وار «سیتان » راغلی دی .

د «دیول» ریښه د«سیتان» او «ها سیتان » سره مترادفه ده ، منځینی انگریزي هغه ته «دیول »او زړې انگریزي هغه «دی افل» بللی دی ،چي وايي هغه لرغوني لاتیني جرمني د « دیابالس» ریښه لري چي اصلي کلمه یې لرغوني یوناني دیابالس ( مفتري) کلمه ده .

په نوی تستمنت کي «سیتان» تر دیرش واري زیات راغلی دی، چي د یوناني دیابالس دیول ) سره دواړه یو موجود دی .



www.tanzona.com

په مسیحیت کې راغلي دي ، چې سیتان د ملایکو کوربه و، خدای تعالی یې وهڅوئ ، چې ابراهیم (ع) د خپل زوی اسحق په قرباني کولو امتحان کړي .

دمسیحیت په ډیرو څانګو کې شیطان ( لوسیفر) راغلی دی ، چې په اصل کې یو روحاني موجود یا ملایکه وه ،مګر خدای (ج) هغه د غرور له کبله له خپله دره وشړئ.

وایي :سیتان ویل انسان خدای کیدای سي، نو ځکه له جنت څخه ویستل سو.

سیتان په انجیل کې دبښمن یا د بشر خنډ په مانا راغلی دی ،په عبرو کې« ها سیتان »

راغلی دی ، چې هغه ته په مسیحیت کې« دیول» او په قرانکریم کې شیطان ویل سوی دی .

«بلیزیبوب» په اصل کې د فلسطین خدای دی( چې یو ډول بعل و، لکه بعل زیبوب)

په نوی تستمنت کې هغه د مچانو لارډ (خدای) لکه سیتان راغلی دی .

دځینو عیسویانو په باور سیتان یو موجود نه دی ، هر دښمن یا دانسان ګناه او وسوسې ته ویل سوی دی .

کاتولیکان وایي سیتانان مخکې ملایکې وې چې خدای پیدا کړې مګر هغو ی دخدای دښمنان سول .

وایي : دیول د ملحد ، کافر او جادوګر سره ملګری کیږي او دیول اوسني مفاهیم د انسان کښنته طبیعت ، ګناه او بې سده سرې انرژي ته وایي .

## په انجیل کې د شیطان نوم او دهغه معادل :

سیتان : متی( ۴:۱۰)،مارک(۳۰:۱ )،لوکا (۸:۱۰ ) راغلی دی

دیول :متی(۱:۴) راغلی دی

دښمن :لومړی پطروس (۸:۵)، متی،(۱۳:۳۹ ) راغلی دی

متهم :مکاشفه( ۱۰:۱۲) راغلی دی

لرغونی مار :مکاشفه( ۲:۲۰ ) راغلی دی



Copyright: www.tanzona.com

www.tanzona.com

لوی ښامار :مکاشفه(۹:۱۲)راغلی دی

بیلزیبوب او بیلیل :متی(۲۵:۱۰ ) راغلی دی

حوا يي ختا استل :قرنتیان(۳:۱۱ )) راغلی دی

هغه دنیا ته مړینه راولي :عبرانیان( ۱۳:۲ ) راغلی دی

غولونکی دی :لومړی پطروس(۸:۵ ) راغلی دی

هغه ان عیسی وسوسه کولای سي :متی( ۴) راغلی دی

لوسیفر :اشعیا( ۱۴ : ۱۲ ) راغلی دی

-د شوخو ماشومانو روح: افسسیان (۲:۲)راغلی دی

## په انجیل کې د یول ته ورکړسوی القاب

۱-دیول د نړی شهزداه راغلی دی

(مکاشفه۱۲: ۹او ۲۰:۲۲ ) - شیطان دنړی شهراده دی .

۲-دیول د هوا شهزاده راغلی دی

(یوحنا۱۲:۳۱و۱۴:۳۰)- هغه د هوا د واک شاهزاده راغلی دی او هم « میریریم» بلل سوی دی

۳-هغه د دنیا خدای بلل سوی دی

دویم قرنتیان( ۴: ۴)-ددی دنیا خدای دی

۴-شیطان ددې جهان حاکم او هوا د واک ریس سو

یوحنا ۱۲: ۳۱، قرنتیان ۴: ۴، افسسیان ۲:۲

په عبري بابیل کې د انسان دبنمن ته : حداد، ایدمایت او د سورې ریزن راغلی دی



Copyright: www.tanzona.com

خو دا نومونه بې ژباړې پاته سوي دي، لیکن د سیتان کلمه په یوناني ژباړل سوي ده.

په نوی تستمنت کې خدای (ج) عیسی (ع) ملامت وي، چې د بیلزوبیب استازی سوی دی .

عصري عیسویان باور لري «دیول» یوه ملایکه وه چې د یو پر دریو تولو ملایکو کوربه و.

( دومین) چې د خدای ضد و ، په پایله کې د اور سیندته اچول کیږي ځکه هغه د انسانو په روح کې درواغ ، غچ او ویجاړی خپره کوي،ځیني عیسویان « دیول» دانسان ته د ګناه او وسوسي اچولو مسؤل بولي .

## د شیطان دزوال دلیلونه

- شیطان دملایکو تر منځ لوی مقام درلود، دی مقام هغه مغرور کړ او غوښتل یې خپل تخت د خد ا د تخت پورته کښیږدي - (حزقیال ۲۸ : ۱۲-۱۴)

- د شیطان غرور د هغه سقوط لامل سو -اشعیا ۱۴ :۱۳-۱۴ ، حزقیال ۲۸ : ۱، ۱۵ ،تیموتاووس ۳:۶.

دی ملایکه یاني سیتان د یو مار په وسیله له حوا سره خبرې وکړې او هغه یې په درواغو دخدای نافرماني ته وهڅوله؛ نو سیتان په داسې شي برید وکړ چې دخدای سلطنت نومیږي نو سیتان په دې دلیل ابلیس سو(- پیدایش ۳:۵-۱؛ ایوب ۱:۱۱-۸؛ مکاشفه ۹:۱۲)

## د شیطان سزاوي

د شیطان اخیر ځای د اور په سیند کې دی - (مکاشفه ۲ : ۱۰)

## د شیطان کارونه

- هغه د وروڼو مدعي دی - (مکاشفه ۱۲: ۱۰).

- وسوسه کوونکی دی -(متی ۴: ۳، 1 تسالونیکیان ۳: ۵)

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

- سیتان هڅه کوي خلک ختا باسي چې د هغه عبادت وکړي .

دهغه یوه لاره د کاذب دین راوړل دي -(۲ قرنتیان ۱۱:۳، ۱۴)

- سیتان په خلکو کاذب دین مني هغوی داسي باور ي کوي ، چې دحقیقي خدای عبادت کوي اماپه واقعیت کې هغو د سیتان عبادت کوي(یوحنا ۸:۴۴)

ځینې خلک ممکن ستاسو وغواړي چې په دي کارونوکي له هغو سره یو ځای سئ خو په یاد ولرئ ، چې دا سیتان دی چې له تاسو غواړي، چې دا کارونه وکړئ .( ۱ قرنتیان ۶:۹، ۱۰؛ ۱۵:۳۳)

-سیتان غواړي تاسو وویروي ، چې د« یهوه» په هکله زده کړه مه کوئ، اجازه مه ورکوئ سیتان بریالی سي .(متی ۱۰:۳۹-۳۴؛ ۱ پطرس ۵:۸، ۹)

## د شیطان امر نه منل

-که غواړئ خدای خوشاله کړئ نوباید له ارواحو سره له اړیکو نیولو څخه ډډه وکړئ .

همدا علت دی، چې خلک له اروا حو څخه غواړي چې وړاندوینه ورته وکړي —( تثنیه ۱۸:۱۰-۱۲؛ اعمال ۱۹:۱۸، ۱۹)

-ځینې نور انتظار لري، چې سیاسي سازمانونه د بشرربرونه حل کړي هغوی په دي کار د خدای (ج) ملکوت ردوي ؛د خدای ملکوت موږ ته د مشکلاتو یوازینی د حل لاره ده .(اعمال ۱۰:۳۴، ۳۵)

-د یهودوپه زده کړې سره د سیتان په مقابل کې مقاومت وکړئ .( دانیال ۲:۴۴)

-یهوه موږ ته وایي، چې د بدو کارو ځان وساتئ ځکه هغه پوهیږي، چې هغه موږ ته زیان رسوي (غلاطیان ۶:۷، ۸)

-که د ابلیس په مقابل کې« یهوه» خوشالوئ وښیئ چې د هغه له سلطنت څخه ساتنه او ملاتړ کوئ( امثال ۲۷: ۱۱)



Copyright: www.tanzona.com

www.tanzona.com

## د شيطان دندې

د جاب په کتاب کې راغلي دي «ها سيتان» د الهی شورا غړی و ، « دخدای زوی و» او دخدای فرمانبرداره و، او څو واري د قاضي په نامه هم ژباړل سوی دی ، خدای هغه په دی متهم کړی دی ،چې انسان ته وسوسه وراچوي .



The Devil as Baphomet



Copyright: www.tanzona.com

# شیطان په اسلام کې

***ابلیس***

ابلیس له« بلس» څخه مشق سوی دی، چې مانا یې ناهیلي او ناامیدي ده. ابن منظور او زمخشري ابلیس یو عجمي لغت (ویي) بللی دی . لویدیځوال ابلیس له « دیاپلوس» څخه اخیستل سوې کلمه بولي .

ځیني پوهان وایي ابلیس په اصل کې له پیریانو څخه و ،هغه د پیریانو یو لوی عالم او عابد و ،چې د خدای دامر د نه منلو په سبب ملعون سو .ځیني پوهان وایيابلیس د جان زوی دی .

ابلیس په مکي سورتونو کې شیطان ته کارول سوی دی او په مدني سورتونو کې یوازې شیطان یادسوی دی، په قرانکریم کې یوولس واري ابلیس راغلی دی چې نهه واري دآدم (ع) په داستان کې راغلی دی .

( سوره بقره آیت : ۳۴؛ سوره اعراف آیت :۱۱؛ سوره حجر آیاتونه ۳۱و ۳۲؛ سوره اسراء آیت :۶۱؛ سوره کهف آیت : ۵۰؛ سوره طه آیت : ۱۱۶؛ سوره ص آیات :۷۴،۷۵) راغلي او دوه واري چې د خلقت په اړه نه دی لکه : (سوره شعراء آیت ۹۵؛ سوره سبا آیت ۲۰) چې یوځای د ابلیس لویدل جهنم ته اوبل ځای د ډیرو خلکو ختاایستل راغلي دي .

ابلیس شیطان د ی خو هر شیطان ابلیس نه دی .

په قرانکریم کې دشیطان کلمه د ابلیس مترادف بلل سوې دی او کله هم په ژباړه کې د ابلیس پر ځای د هغه غلطه ژباړه شیطان راغلی دی .

ابلیس د خدای تعالی یو موجود و، چې د آدم (ع) د خلقت مخکې د ملایکي په ډله کې اوسیده،ابلیس له اړه د جن له ذاته دی، هغه له اوره پیدا سوی دی . د هغه کار دا دی ،چې خلک گمراه او زیانمن کړي ، هغه آدم (ع) ته له سجدې څخه د سرغړوني له امله د الله له حکم څخه انکار وکړ نو ځکه د



www.tanzona.com

الهی لعنت وړ وګرځېد . ابلیس د انسان ازلي او فطري دښمن دی، هیڅوک باید د هغه پیروي او په خوله و نه کړي .

الحجر دسورې په( ۳۲-۳۸) مبارکو آیاتونو کې د ابلیس نکل داسي راغلی دی :

خدای ویوښتل : اې ابلیسه! ولي دی سجده ونه کړه؟!

وویل (ابلیس): ماته نه ښایي بشر ته چي تا له وچو بوی لرونکو کړنیدونکیو تورو ختو څخه جوړ کړی دی سجده وکړم!

وویل (ابلیس): خدایه !ماته تر قیامت وخت راکړه .

ویې فرمایل : تانه مې مهلت درکړ تر ورځې معیني پورې .

هم دا مطلب د الاعراف د سورې په ( ۱۲-۱۷ ) مبارکو آیاتونو کې هم راغلی دی :

خدای (ج) ابلیس ته وویل : ولي دې زما امر ونه مانه او انسان ته دې سجده ونه کړه؟

هغه ویل زه له هغه ښه یم، زه دې له اوره او هغه دې له ختو پیدا کړی دی .

وویل( الله (ج)) : کښته سه! له آسمانه، نه ده لایق تا ته چي تکبر وکړې په دې ځای کې نو ووځه ته له ذلیلانو څخه یې ...

ابلیس دا نامناسب قیاس وکړ ځکه آدم (ع) یوازې خاوره نه وه، بلکې د الله روح هم ورسره وه.

اوبل داچي شیطان ځان ته حاکمیت او آزادي قایل سو؛ نود خدای (ج) لخواېر هغه لعنت وسو؛ نو هغه د انسان سره دښمني پیل کړه او قسم یې واخیسته چي په هره لاره چي کیږي انسانان به ګمراه کړي .

الکهف د سورې په( ۵۰) مبارک آیت شریف کې راغلی دي :

«هغه وخت په یاد کړئ، چي موږ ملایکو ته وویل : آدم ته سجده وکړئ، هغو ټولو سجده وکړه مګر ابلیس چي له پیریانو له ډلې څخه و د خدای (ج) فرمان یې ونه مانه ،نو آیا تاسو هغه او اولاده یې زما پر ځای خپل اولیا غوره کوئ، په داسي حال کې چي هغوی ستاسو دښمنان دي او دا بد غوراوی دی د ستمکارانو لپاره»



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

چه تلبیس ابلیس منظور شد

ملائك پس سجده ماءمور شد

یکایك بدین سجده اقرار کرد

جز ابلیس کز سجده انکار کرد

به خود گفت من ز آتشم او ز خاك

گر از سجده روی از تو تابم چه باك

تکبر به سویش چه آورد روی

بشد طوقی از لعنتش در گلوی

قران کریم د تفسیرونو او احادثو په اساس ،ابلیس یو له پیریانو څخه دی، چې له ډیر ي تقوا یې د ملایکو درجه پیدا کړه .مجمع البحرین دابلیس د لغت په هکله لیکي :

هغه وخت چې خدای (ج) اراده وکړه شیطان ته بڼځه ورپیدا کړي دهغه له غضبه یوه ټوټه انګا ریپدا سو او هغه انګار هغه ته بڼځه جوړه کړه.

بل روایت وایي د ابلیس نوم عزازیل و، هغه د یوې انجلۍ د « روحا» د لور «لهبا» سره واده وکړ ،چې د پیري له ټبره وه، دهغو ډیر اولاد ونه پیدا سول، چې مځکه پر ډکه سوه ، په ټولو کې یې ابلیس ډیر عبادت کوی،بیا د جن او نسناس( د انسان تر مخه یو طایفه) په جګړه کې دواړې طایفي مړې سوې او یوازې ابلیس پاته سو ، ملایکو هغه آسمان ته بوت اوهلته یې آدم (ع) ته د سجده نه کولوپه سبب د خدای (ج) لخوا ورټل سو.



www.tanzona.com
Copyright: www.tanzona.com

***شيطان***

شيطان په عربي کې« الشيطان» ختا کار ، تيرى کوونکي او دښمن په مانا راغلى دى ،شيطان عربي لفظ دي چې له «شطن »څخه اخيستل سوي دي او شطن دليري والي او نا فرماني په مانا دى . ځيني يې ريښه «شيط» بولي او ځيني يې «شيطن، تشيطن» بولي ،چې هغه اوږدي رسى ته هم وايي او هم هغه آس ته وايي چې د خاوند نا فرماني کوي، او «غزوه شطون» ياني اوږد کاراوبار او «نيه شطون» اوږ دي هيلي ته وايي .

شيطان ته الغرور. ابليس، شيطان، الخناس او وسواس ويل سوى دى، د شيعيه مذهبو په باور دشيطان نوم «حارث» يا« حرث » و ددې عبادت له کبله يې هغه ته عزازيل ياني عزيز باله چې له تکبر وروسته ابليس ونوميد.

پيغامبر (ص) وايي: غلي( چوپ) سوي خلک د شيطان د حق ويلو گونگيان دي .

دشيطان صفت يو بل موجود ابليس ته ورکړ سوى دى ، ابليس يو پيرى دى، چې دخداى (ج) له امره يې سر وغړوئ او خدا ى (ج) هغه ورتئ، چې د انس اوجنس دتير ايستلويو منبع سو.

د شيطان بله مانا «خبيث او پست» ده ،شيطان سرکښه او متمرد موجود ته ويل سوى دى اوهم شريره رو(روح) او له حق څخه ليري والي ته وايي.

په قرانکريم کې د شيطان کلمه ( ۶۴ ) واري مفرد او معرفه او( ۶ ) واري مفرداونکره او( ۱۸) واري جمع راغلي ده ،ياني شيطان په مفرد ډول ( ۷۰ ) واري او د جمع په ډول ياني شياطين (۱۸) واري راغلى دى .

په اسلام کې شيطان د انسان دازماينت عامل سوى، د قرانکريم په اساس شيطان په دوه ډوله دى يو انس او بل جنس او هر پيغامبر انسي اوجنسي شيطاني دښمنان لري ،شيطان او دهغه کام دهغه ځايه چې تاسو هغه نه وينئ تاسو ويني اوخداى (ج)وايي آيا تاسو شيطان او اولادونه يې زما پر ځاى خپل دوستان نيسئ؟



www.tanzona.com

شیطان عام نوم ( دجنس نوم ) دی او ابلیس خاص نوم دی ،په بله مانا شیطان هر موذي او منحرف سرکښ اویاغي ته ویل سوی دی .

د شیطان خباثت یوازې په دعوت ، تلقین او وسوسي که نه خلاصه کیږي داچي انسان دننه دري قوی غرایز لکه خښم، شهوت او غضب لري نو شیطان په دعوت ، تلقین او وسوسي سره انسان بې لارې کوي دا درې قوی غریزې انسان له روحي او رواني تعادل څخه بهر وي او له خطر سره يې مخامخوي .

شیطان دقرانکریم په ډیرو آیاتونوکي د اخلاق ضد سیمبول بلل سوی دی .

دیس شریف دسورې په (۶۱-۶۲ )آیاتونو کي راغلي چي انسان دوې لارې لري یوه د خدای لاره او بله د شیطان لاره .

## د شیطان د نفوذ مهمي لاري

د شیطان د نفوذ مهمي لارې دا دي

۱ -خښم او شهوت.

۲- بخیلي، حرص او طمع.

۳- ډیر خوړل که څه حلال وي

۴-د کور د سینګارولو خیال

۵- په کارو کي عجله کول

۶-بخل او ویره له فقیره

۷- مذهبي تعصبات

۸- شخړه او مجادله

۹-په مسلمانانو بد خیال کول

۱۰-د خلکو په زړه کي نامیدي پیدا کول

۱۱-کورنی له یو بل لیري کول.

۱۲-په مسخرو اوټوکو کي افراط کول

Copyright: www.tanzona.com

۱۳-دیو بل سره پټ راز لرل

۱۴- د یوبل غیبت کول

۱۵-دیوبل عیب پلټل

۱۶-د منکراتو په ضد چپه خوله پاته کیدل

۱۷-انسان له صدقې ځخه منع کول

۱۸- انسان هڅول چې له نا پوهي د خدای (ج) په هکله ځه ووايي

۱۹-بدو کارو ته خلک هڅول

۲۰- انسان شرک دوله کړو ته هڅول

## د شیطان خوښی

په یوه روایت کې راغلي چې یوه ورځ موسی (علیه السلام ) په لاره کې له شیطان سره مخامخ سو او پوښتنه یې تري وکړه :

هغه کومه گناه ده چې انسان یې وکړي او ته وربانديې بیا داسي برلاسي سی ،چې هغه په آساني سره هره خوا کشولای سي ؟

شیطان ځواب ورکړ :

هغه انسان چې له خپلو نیکو اعمالو ځخه خوشحاله سي او هغه ورته ډېر لوی ښکاره سي، مگر خپل لوی گناهونه ورته ډېر وړوکي ښکاره سي .پر هغه انسان زه زیات برلاسه یم.

که دغه مکالمې ته ځیر سو نو شیطان دوو ډېرو مهمو ټکو ته اشاره کړې ده ، چې زموږ لپاره دژوند یو لوی درس کیدای سي .

دا د هغو کسانو په باره کې دی چې کله کوم نیک کار سرته ورسوي ، له هغې ځخه زیات خوشحاله وي او ډېر لوی یې شمېري، نو طبیعي خبره ده چې په یوه داسي وران فکر سره انسان دخیر او



www.tanzona.com

برکت له قافلې پاتې کیږي ، څان خدای (ج)او نورو په وړاندې بې مسولیته ګڼي، مثبت او نېک کارونه یې کمېږي او دا په حقیقت کې هغه څه دي چې شیطان یې له موږ ه هیله لري .

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

# دشیطان نومونه

۱- ابلیس: مفرد دی ، چې دوه جمع (ابالیس و بالسه ) لري، چې دهغه مانا ده د خدای (ج) له رحمته ناهیلې او مایوس سوي .

۲-وسواس: وسوسه اچوونکی، وسوسه کوونکی، یاني هغه کلام چې د انسان په باطن کې تیریږي، اود انسان له دننه راپورته کیږي . وسواس په اصل کې کرار ږغ ته وایي ، چې د زینتي شیانو له یوبل سره له مبتلو څخه راپورته کیږي اوبله مانا یې بد فکرونه او سوچونه دي ، چې دانسان په ذهن کې تیریږي او څوک په کرار ږغ یو کار ته اړ باسي.

وسواس په قرانکریم کې پینځه واري راغلی دی

((من شر الوسواس الخناس ، الذی یوسوس فی صدور الناس ))
((فوسوس لهما الشیطان ))
((فوسوس الیه الشیطان ))
((و لقد خلقنا الانسان و نعلم ما یوسوس به نفسه ))

۳-خناس: بیرته را ګرځیدل، یو اړخ ته کیدل، پټیدل ، هر وخت چې انسان د خدای (ج) یادوي او د هغه نوم واخلي شیطان پټیږي ، چې انسان خدای (ج) هیر کړی شیطان دهغه وسوسه او اغوا کولو ته را ځي.

۴-رجیم- د سنګسار ول ، ډبرې ویښتل، اود ګمان له رویه خبرې کول او رټل سوي مانا لري .

۵-عزازیل : یاني د ملایکو تر منځ عزیز و

۶-حارث-شیعیه ګان د شیطان نوم حارث بولي

۷- صاغر:د شیطان یو صفت دی د پست او ذلیل مانا لري

شیطان چې آدم (ع )ته سجده ونه کړه خدا ی(ج) وویل :

فاخرج انك من الصاغرین( له جنته ووځه ته له ذلیل سویو څخه یې)

Copyright. www.tanzona.com

۸ ، ۹-مذئوم و مدموره - په خوارى رټل سوي یا په غوسه شړل سوي مانا لري .

۱۰-مذموم: رټل سوی

۱۱-غوی: د مړيني لاره نیول ، د خدای له رحمت څخه رټل کیدل دی

۱۲-عفریت : قوی زورور، ځیرک، اوخبیث

سلیمان (ع) ته د بلقس تخت عفریت پیری راوړئ دی .

۱۳ او۱۴-مارد او مرید-متمرد شیطان مانا لري.(شیطان مارد و شیطانا مریدا)

۱۵-شیصبان : د شیطان یو بل نوم دی

۱۶-ابومره: ۱۷، -ابوخلاف ۱۸، - ابولبین، ۱۹-ا بیض( خبنم راوړنکی ) ،۲۰- وهار ( په خوب کي مؤمین ځوروی ) ،۲۱- ابولبیني ( د ابلیس یوه لور ده) ، ۲۲-نائل ،۲۳- ابوالجان

۲۴-دشر ملک -شیطان عام نوم دی

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

# د شیطان کارونه

دشیطان ختا ایستل دوه ډوله دي

۱-اغوا: انسانان گمراه کوي مگر نه مخلصين

د النجم دسورې په( ۲) مبارک آیت شريف کې راغلي دي :

«ما ضل صاحبكم و ما غوي"

نه دی گمراه سوی پیغامبر او نه يې لاره ورکه کړې ده ( موخه يې مالومه ده، لاره ورته مالومه ده او موخه يې هم مالومه ده)

۲-اضلال: په ختا ایستلو کې استثنا نسته هر څوک ختا باسي .

د النسا دسورې په( ۱۱۹) مبارک آیت شريف کې راغلي دي:

«و لاضلنهم ولامنينهم ولامرنهم"

ژباړه : (اوزه به گمراه کړم دوی اوپه باطلو اميدونو کې به يې واچوم)

دمحمد دسورې په (۲۵)مبارک آیت کې راغلي دي :

« ...الشيطان سول لهم وأملى لهم»

ژباړه : (شيطان ښایسته کړي دي ( گناهونه) او مهلت دوی ته )

دشیطان مهمه موخه د انسان دوزخي کول دي هغه ددې کار لپاره له ډول ډول وسایلو او چمونو څخه کار اخلي.



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

د قرانکريم د مخی بايد چيري د ملعون له شره د خدای څخه پناه وغواړو

۱- دقرانکريم ويلو په وخت کي

۲-دلمانځه په وخت کي

۳-د شيطان د وسوسی په وخت کي

۴-د لمرختلو او لويدولو په وخت کي

۵- هغه وخت چی سپي او خره ږغ لوړ سي

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

# دشیطان مهمې موخې

۱- شرک

۲-بدعت

۳- لويې ګناه وي

۴- کوشنی ګناه وي

۵- دمباح کارونولومه :

په دې سره دانسان وخت زیانوي اوله عباداتوڅخه يې راګرځوي .

۶- دکمزوروراعمالولومه ده :

په دې سره انسان له ښواوغوره عملو څخه راګرځوي .
داسې کارو يې اخته کوي چې لږ ثواب لري ، اوپه
. له داسې عبادت څخه راوګرځوي چې ثواب يې ترډې زيات وي اوددې پرځای يې
دمصيبتونواوتکليفونولومه ده::۷
کې څوک له ټولوشيطاني کارونو راتېرسو، نوبيا خامخا وربانديې امتحانونه راځي،په داسې حالت که
الله پاک ترې بياشيطان ته موقع په لاس ورځي او هڅه کوي چې داسې خبره يې ترخولې وباسې چې
له عبادتونوڅخه راګرځوي . ناراضه کړي اوياوربانديې دبې صبرۍ خبرې کوي اوياپې

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

# شيطان پرچا برلاسی کيږي

الزخرف دسورې( ٣۶) مبارک آيت شريف کې راغلي دي

«ومن يعش عن ذكر الرحمن نقيض له شيطانا فهو له قرين »

ژباړه : څوک چې ذکر دالله نه کوي مسلط به کړو پر هغه شيطان .

المجادله دسورې( ١٩) مبارک آيت شريف کې راغلي دي :

«استحوذ عليهم الشيطان فأنساهم ذكر الله أولئك حزب الشيطان ألا إن حزب الشيطان هم الخاسرون »

ژباړه :شيطان پر هغوی مسلط دی له هغو يې دالله ذکر کړی دی دغه کسان دشيطان گوند جوړوي دشيطان گوند په زيان کې دی .

دشيطان رابلل د انسان په اختيار کې دی، شيطان خپله وايي ،چې پر خالصو بندگانو واک نه لري

د «ص» د سورې په( ٨٢ او ٨٣) مبارکو آياتو نو کې راغلي دي

«قال فبعزتك لأغوينهم أجمعين إلا عبادك منهم المخلصين»

ژباره :تولـه بندگان اغوا کوم مگر مخلص بندگان

د الاعراف دسورې په( ٢٧) مبارک ايت کې راغلي دي

«إنا جعلنا الشياطين أولياء للذين لا يؤمنون »

ژباړه :شيطانان د هغو اوليا دي چې ايمان نه راوړي

دزخرف د سورې په( ٣۶) مبارک آيت کې راغلي دي

«ومن يعش عن ذكر الرحمن نقيض له شيطانا فهو له قرين »

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

ژباړه :هغه څوک چې د خدای د یادولو سترګې پټي کړي د هغه لپاره شیطان نژدې کوم .

او نحل دسورې په( ۱۰۰ )مبارک آیت کې راغلي دي

«إنما سلطانه على الذين يتولونه والذين هم به مشركون »

ژباړه :دهغه واک پر هغو کسانو دی چې د هغه سلطنت مني

د الشعرا د سورې په( ۲۲۲ )مبارک آیت کې راغلي دي

«تنزل على كل أفاك أثيم »

ژباړه : شیطانان په هر فریب کار ګناهکار نازلیږي

شیطان ضعیف الایمانه سړي وسوسه کوي ، ورسره تماس نیسي ،دهغه سره ملګری کیږي او دهغه میلمه پال کیږي .

دشیطان جزاوي

د ډول ډول شیطانانو لپاره ډول ډول جزا وي ټاکل سوي دي

د یاغي شیطان چې( د کاینانو په اړه مالومات غواړي ) د سزا لپاره د الجن دسورې په( ۹) مبارک آیت کې راغلي دي

«يجد له شهابا رصدا »

ژباړه : هغه په شهاب ولو

د النحل دسورې په( ۶۳) مبارک آیت کې راغلي دي

«لهم الشيطان أعمالهم فهو وليهم اليوم ولهم عذاب أليم »

ژباړه : مګر شیطان او پلویانو ته یې نن دردناک مجازات دي .

د النسا دسورې په( ۱۱۸) مبارک آیت کې راغلي دي



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

«لعنه الله ...»

ژباړه : لعنت د خدای پر هغو دی .

د النسا دسورې په( ۱۲۱ )مبارک آیت کې راغلي دي

«أولئك مأواهم جهنم »

ژباړه :د هغه ځای دوږخ دی .

د الانعام دسورې په( ۱۲۸ )مبارک آیت کې راغلي دي

«قال النار مثواکم خالدین فیها »

ژباړه :ویل د هغه ځای اور دی دابد لپاره .

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

# شرک

سره په شیطان دانسان اصلي دښمن دی، په دې لټه کې دی چې انسان هم دځان په څېرد الله پاک درسپدولپاره له هرممکني دښمنۍ کې اخته کړي اوله تل لپاره یې په عذابونواخته کړي،دې موخې ته هڅې
سره خلک دالله پاک له لارې اوړي اوپه ګناهونوکې یې ډوب ځخه کاراخلي اوهرهغه کارچې په هغه وي تر سره کوي .
رحمه الله تعالی اوه طریقې بیان کړې دي چې په هغوسره شیطان انسان دالله علامه ابن قیم جوزي لارې اړووي اوپه خپلولوموکې یې راګیروي، پاک له
: هغه دادي

شیطان انسان کفراوشرک ته هڅوي،دا د هغه خورا مهم کار دی .: ۱
د شیطان یوه اصلي موخه شرک دی ځکه خدای (ج) وایي هر شی ښښم مګر شرک

النسا د سورې په( ۱۱۶ )مبارک آیت کې راغلي دي

« إن الله لا یغفر أن یشرك به ویغفر ما دون ذلك لمن یشاء ...»

ژباړه : (بیشکه الله نه ښښي شرک او ښښي هغه (ګناه) چې له هغه کښته وي هغه چا ته چې اراده وفرمایي)

دتوحید ضد یاد خدای(ج) سره ملګري پیدا کولو ته شرک وایي .

دانسانانو په تاریخ کې مشریکینو د شیطان په خوله په خومعبودانو اتفاق کړی دی .

هرتبر به بیل بیل معبود ته عبادت کاوه، همدارنګه هري زماني بیل معبودان لرله، په یوه زمانه کې به دیوه معبود عبادت کیده ،ولي په بله زمانه کې به دهغه معبود عبادت کوونکي نه پیداکیدل . نه داچې شرک انسانان دعقیدې له لحاظه بیلوي بلکې په شرک کې ددې صلاحیت نه وي چې انسانان سره متحداو یوځای کړي . همدا علت دی، چې ډیر دینونه منځ ته راغلي دي ، چې په دې ډول شیطان شرک ته لاره پرانیستې ده ځکه شرک د شیطان لومړی موخه ده .



Copyright: www.tanzona.com

www.tanzona.com

دالزخرف دسورې په ( ۳۷ )آیت شریف کې راغلي دي

«وإنهم ليصدونهم عن السبيل ويحسبون أنهم مهتدون »

ژباړه : (شیطان اړوي ملګري له لارې ( حق) ګمان کوي چې دوی د سمې لارې موندونکي دي )

همدا علت دی چې غیرتوحیدي دینونه یې خلکو ته بنکلی کړي دي او هغوی په هغه تینګ ولاړ دي او سوچ کوي د هغو لاره سمه او راسته ده.

د ابلیس یو مهم کار چې دبشر د ختا ایستلو لپاره یې تر سره کړی دی هغه د غیر توحیدي دینونه منځ ته راوړل دي .

دین په روحاني موجوداتو باندې اعتقاد ته وایي یا دین په روحاني موجوداتو باور ته وایي .



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

# شرکي دينونه

***بت پرستان***

عربود جاهليت په دوران کي د بتانو عبادت کوئ، چي ځيني مهم بتان يي دا دي :

ازر-اساف-اسحم-اشهل-اقيصر-اوال-باجر-بجه-بس-بعل-بعيم-بلج-جبت-جبهه-جريش-جهار-خلصه-ذوالخلصه-دار-دوار-ذات الودع-ذو الرجل-ذو الخلصه-ذزيح-ذو الشرى-ذو الکعبات-ذو الکفين-ذو اللبا(المرصع)-رئام-ربه-رضی-رضائ-زور-زون-سجه-شارق-شمس-صدا-صمودا-ضمار-ضيزن(ضيزنان)-طاغوت-عائم-عبعب-عتر-عزی-عميانس-عوض-عوف-فلس(معجم البلدان) قليس-قراض-کثری-کسعه- کعبه-نجران-محرق-مدان-مرحب-منات-منهب-لات-نائله-نسر-نصبمذهب مغان

***صابيان***

صابي په لغت کي له يو دين څخه بل ته اوښتل مانا لري ،ځيني خلک د يونان فلاسفه صابيون بولي،صابيانو هر ورځ د يو ستوري په نامه نومولې ده ، دساري په ډول شنبه په زحل پوري اړه بولي، هغوی دستورو عبادت کوي .

***قرامطه او زنادقه***

قرامطه د قرمط له نامه او زناقه د زندک له نامه څخه اخيستل سوي دي ، چي پيروان يي هغوی پيغامبران بولي او ددې دين پيروانو ته زنديق ويل سوي دي، هغوی په خدای او اخيريت باور نه لري .



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

***السوفستائیه***

ددې دین پیروان باور لري ، هغه څه چې ویني اصلي نه دی، هغه څه چې په ویښه ویني هغه څه دی چې په خوب کې یې ویني.

***زرتشت***

د زرتشت دین پیروان د اور عبادت کوي .

مزدک: دقباد فیروزان په وخت کې یو سړی د مزدک په نامه پیدا سو او د زرتشت احکامو ته یې بدلون ورکړ ،چې زند د هغه کتاب و.

***ماني***

ماني د شاپور بن آردشیر په وخت کې و ،چې د پیغامبري دعوی یې وکړه هغه ښه رسمونه ایستله او دهغه عبادت یې کاوه .

***فتیشسم (روح پرستي)***

ځینې خلک دادین د بشر عمومي دین بولي وایي دا دین د غیر الهي دینونه تادو ( بنیاد ) دی .

فتیش: متبرکه شیانوته لکه : کوشنی ډبرې ، مرۍ ، اوطبیعي شیانو په تقدس باور ته وایي د هغوی معابدونه د غرونو په سوریو کې وه ، چې هغوی د تبرک لپاره هغه مسح کول یا مچول .

***توتمیسم***

ددې دین پیروان چې په افریقا ، شمالي امریکا او استرلیا کې ژوند کوي یو دیوشې یا یوحیوان عبادت کوي .

***آنیمسیم (م قبیله ای)***

دا دینونه قومي ښه لرله، ددې دین پلویان په سختو جغرافیایي سیمو کې ژوند کوي .



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

د« انیم» کلمه د هڅوني په مانا ده ،هغوی د روح عبادت کوي او په نامريي ارواحو او تناسخ يي باور درلود.

***هندويزم(برهمائي)***

په دي دين کي د توتم پرستي اثار ليدل کيږي او هغوی خپل لوی نيکه په غوا کي تجسموي غوا هندوانو ته مقدسه ده هغوی په تناسخ باور لري ، يوگا يي رياضت دی ، او خواږه يي سبزيجات دي،او بودا خپل خدای بولي .

۲- دشيطان دويم مهم کار په دين کي بدعت دی

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

# بدعت

هر هغه نوی کار چې نظير او مثال يې په اسلامي شريعت، سنتو او د صحابو په اثارو کې نه وي هغه بدعت بلل کيږي . ليکن هر بدعت نا پسنديده، ناجايز او حرام نه وي بلکه هغه بدعت حرام او ناجايز ه وي چې د کتاب او سنت د احکاماتو سره ښکاره متعارض او متناقص وي .

يا بدعت سيئه او بدعت ضلاله هغه بدعت ته وايي، چې په واضحه توګه سره د کوم متعين سنت د ترک باعث وګرځي. په هغه عمل سره چې سنت نه ترک کيږي نو بيا هغه ناجايز نه دی بلکي مباح دی .

***د بدعت لغوی مفهوم:***

د بدعت لفظ له بدع نه مشتق سوی دی، چې لغوی مانا يې له کوم پخواني مثال څخه پرته نويو کړو ته وايي.

الله جل جلاله دقرآن عظيم الشان په مختلفو ځايونو کې د بدعت د لفظ مشتقات بيان کړي دي. له کومو نه چې ددی مانا توثيق کيږي . لکه

له بدعت نه مراد هغه کارونه دي ، چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په وخت کې نه وه.

که بدعت داسي يو کار وي، چې د شريعت په امورو کې مستحسن وشمارل سي نو دا ښه بدعت دی او که د شريعت په امورو کې بد وشمارل سي نو دا بيا قبيحه بدعت دی .

له دي تعريفونو نه دا څرګنديږي ، چې په اسلام کې هر نوی کار بايد بد ونه ګڼل سي او هر نوی کار مطلقا حرام يا ممنوع نه ده. بلکي هر نوی کار وليدل سي که ښه و او د نورو سنتو د ترک کيدلو باعث نه وو نو روا او ښه بدعت دی او که نه نو ناروا او بد بدعت دی .

بد يا قبيحه بدعت د شيطان کار دی ، په دي توګه په اسلام کې درزونه اوفرقي جوړي وي .

کومي ډلي چې له شرک نه پيداکيږ ي هغه بيا ورو ورو په قبيلو ، قومونو ، ژبو ، رنګونو ، هيوادونو ،ډولونو او اختلافونو اوړي . بيا دهمدې توپيرونو له زياتيدوله وجې دانسانانو په مينځ کې تعصبي



www.tanzona.com
Copyright: www.tanzona.com

جنگونه پیداکیږي .تردې پورې چې اخیري کار یې په دنیا کې وینه تویولوو ته رسیږي . که چیر ې تاسې دهمدې تعصب موخې او ریښې ته ځان ورسوی نو تاسی ته به مالومه سې چې تادو( بنیاد) یې شیطان ایښې دی .

بدعت دوې مانا وې لرې

١-بدع یانې نوی شی : د اصطلاح له مخې هغه تازه شی ته وایې چې په قران او سنت کې ځای نلرې

٢-کم یا زیاتول : د دین په نامه یا هر هغه کار چې د د یندارې په نوم تر سره کیږې حال دا چې دین هغه نه وې ویلی.

د اسلام په لومړې پیری کې په دین کې بدعت پیل سو او هر یو به بل په بدعت محکوم ول

ابن تیمیه" چې د دې فکرې جریان مشر دی وایې شیعې، معتزلې ، جهمې، اشعرې او خوارج ویاندان ټوله بدعت کاران دې ،ان فارابې او ابن سینا د بدعت په دام کې راګیر سوې دې د هغو دجشنونو لمانځل یو بدعت دی .

اهل سنت بیله ځانه، ټولې فرقې دبدعت اهل بولې او اشعرې بیله خپل مذهب معتزله ،مرجئه او اشاعره دبدعت اهل بولې .

شیعة امامیه بیا اهل سنت ، غلات ، معتزله ، خوارج او صوفیه د بدعت اهل بولې .

وهابیان د شیعیانو کارونه بدعت او حرام ګڼې لکه : ټکی په لمانځه کې ، زیارت ته تګ، امامان حرم، کربلا ته تګ، د ترحیم جشنونه او داسې نور

شیعیه ګان وایې د اهلې سنتو په لمانځه کې د الحمد وروسته امین ویل ، لاسونه تړل ، بدعت دی .

دویم ډول بدعت د روښانا ندې په نامه په دین کې کمول او زیاتول دې .

بدعة ضلالة وکل ضلالة سبیلها الی النار» «کل :حضرت محمد (ص) فرمایې

هر بدعت ختا ایستونکی دی او هر ختا ایستل اور ته لار ده (سنن ابن ماجه) او (سنن ابی داود).

سلیمان بن سحمان النجدی وایې په مسجد کې څلور محرابه چې د څلور و مذهبو لپاره جوړیږې بدعت دی، په لو ړ آواز د قران تلاوت، پر پیغامبر درود ویل ، له اذان وروسته دعا، په لوړ ږغ پر مولود بوللې ویل ، د جمعې د شپې روژې، د اخترو د شپې دعاوې ، د زوی په زیږیدو راټولیدنه ،



www.tanzona.com

د شعر او دورد گډول ، د ذکر په وخت کي تسبیح په لاس کي نیول ، په لوړ آواز«لا اله الا الله» ویل ،؛ په قبر اوبه شندل ، د غونډو په ځایو کي دتورو اوبیرغونو ځړول ،تنبور او دایره وهل ، ، د خدای د نورو نومونو سره د جلاله لفظ تکرار ول ، بدعت دی .

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

# له توحیدی دینونوڅخه جلا سوي مذهبونه اوفرقې

دابلیس بل مهم کار په توحیدي دینونو کي مذهبونه او فرقي جوړول دي .

مذهب : د دین څانګې دي، چې په غلطه دین ته هم ویل سوی دی .

***یهودیت***

یهودیت دبشر یو پخوانی توحیدي دین دی او دهغه پیروان د بني اسراییل کام دی .

اوس ډیرو یهودانو ددین اصلي لاربسووني اوقوانین پرېښي اوپه هغه کي یي ډیر تغیرات راوستي دي ، چي داتغیرات په دین کي دډول ډول مذهبونو او فرقو لامل سوي دي، په عمومي ډول څلور لارې اوهر یوه لاره بیا لسګونو ډلواوفرقو ویشل سوي دي .

۱-ارتدوکس( سنتي)

په درو ډلو ویشل سوی دی

الف :حاردي یا افراطي یهودان

ب : حسدي یهودان

ج: مدرن ارتدکس

۲.اصلاح طلب(یهودان)



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

۳.محافظه کار(یهودان)

۴.قراییم

***له یهودیته جلا سوی مذهبونه او فرقې :***

په ټولو دینونو کې له لرې مدې وروسته ډیرې فرقې اومذهبونه پیدا سوي دي ياني په هغه کې بدعت راغلی دی، ځینې د دې فرقو غتې او ځینې یې کوشنې دي او په هر زمان کې ځینې نوی فرقې منځ ته راځي او ځیني یې هیریږي همدا کار ادامه لري .

۱-فریسیان: فریسیان د یهودانو د کاهنانو فرقه ده چې په قیامت باور لري اود موسی (ع) شریعت مني، دې فرقې تر( ۱۳۵ میلادي) پورې دوام درلود اوس یې پیروان نسته.

۲- صدوقیان: صدوقیان یو ه یهودي روحاني فرقه ده چې «صدوق» نومي ته منسوب ده ، د روښانااندو او یوناني غوښتونکو ګډه یوه فرقه ده چې معاد نه مني .

۳- اینسیان: اینسیان د یهودانو د فقیرانو او خوارانو فرقه ده ،هغوی د خصوصي مالکیت ضد وه او د زرو زیرمه یې حرامه بلله .ددې فرقې پیروانو خصوصي مالکیت نه لره اوپه دسته جمعي ډول یې ژوند کوی .

ددې فرقې اساس اینسوونکی «یوسف او فیلون» یهودان وه ، ددې فرقې پیروانو په غارو اوسوریو کې ژوند کاوه اوبیله عبادت یې بل کار نه لره چې په( ۶۸ میلادي )کا ل کې قتل عام سول .

۴- هرویان:د هرویان فرقې سیاسي رنګ درلود ، په فلسطین کې پیدا سوه ،هغوی دتل لپاره یهودانو ته سلطنت غواړي .

۵- زیلوتان : دزیلوتان فرقې مذهبي رنګ درلود او سیاسي غوښتنې یې درلودې، هغوی د رومیانو مخالف وه، دجلیل په ښار کې اوسیده چې د «جلیل یهوای »په نامه هم یادیږي .

۶- قرائون : قرائون په (۷۶۷ میلادي )کې د ((عانان بن داود)) لخوا تاسیس سوه، هغو تلمود ته اعتبار نه ورکاوه او یوازې یې تورات منی، دشپې یې شمع لګول منسوخه بلله، غوښه یې نه خوړله او طبیب ته یې تګ مکروه باله .

۷- عنانیه: عنانیه د فرقې مؤسس ((عنان بن داود)) دی ،چې په((راس الجات ) منسوب و ،هغوی دشنبې په ورځ د چرګ ، کب ، هوسۍ او ملخ غوښه نه خوړل .هغوی عیسی (ع) مني او هغه یې د موسی (ع) پیرو بلی .



www.tanzona.com

۸- کاتبان: دکاتبان ډلي ته «ربي» هم ويل سوي دي، هغوی تجارت کوئ اومقدس کتابونه يي کاپي کوله
9- عيسويه: عيسويه فرقه عيسی بن يعقوب اصفهاني ته منسوب ده اوځيني عوقيد الوهيم ياني عبدالله چي د منصور عباسي په وخت کي يي ژوند کوی د هغه مشر بولي، هغوی په يوه دايره کي درېدل او باور يي درلودپه هغوی د دښمن وسله کار نه کوي

۱۰- ربانيون : ربانيون دا ديهودانو دروحانيونو فرقه وه ،دهغو کار د تورات او نورو يهودي مقدسو کتابونه ژباړه او تفسير و ،هغو خلکو ته په کنيسه کي موعظه کوله ،هغو ی ته ښوونکي هم ويل سوي دي .
۱۱- تناسخيه: تناسخيه فرقه په تناسخ باور لري هغوی وايي د دانيال په کتاب کي خدای (ج) بخت نصر مسخ کړ او د اوو ژويو په شکل يي واړوئ .

۱۲- راعيه: راعيه يو يهودي فرقه ده چي مشر يي د بزرگي دعوا کوله .
۱۳- سامره: دسامره ډلي د موسی (ع) ، هارون (ع)او يوشع (ع)رسالت نه مانه .
۱۴- دوستانيه : دوستانيه د سامري فرقي انشعاب دی، چي ددنيا په عذاب باندي باور لري .
۱۵- کوستانيه : کوستانيه هم لکه دوستانيه ده، هغوی بيت المقدس (جبل نابلس ) خپله قبله مني .

تاريخ پوهان وايي دا فرقه همدغه دسامره فرقه ده چي دنيا د ثواب او عذاب ځای بولي .

ابوريحان البيروني وايي : دسامره قوم له بابل څخه شام ته هجرت کړی دی، دا مذهب د يهودي دين او مجوس دين ترکيب دی ،چي اوس يي اکثريت په فلسطين کي ژوند کوي او کنيسه يي هملته ده،ځيني هغوی هم هغه صدوقيان او فريسيان بولي .
۱۶- مقاربه: مقاربه فرقه په خدای باور لري چي خدای (ج)له رسولانو سره د ملايکو په واسطه خبر ی کوي ،خدای بايد وصف نسي، دا اوصاف د ملايکو دي خدای (ج) له دي صفاتو لوړ دی .
۱۷- يورغانيه: يورغانيه و يورغان تو منسوبه فرقه ده ځينو دهغه نوم يهودا بللی دی ،هغوی زاهدان او لمونځ کوونکي دي اود حيواناتو غوښي نه خوري .
۱۸- موشکاتيه: موشکاتيه له مقاربه څخه منشعبه فرقه ده هغوی داسلام پيغامبر مني او وايي هغه د تولي دنيونوليپاره راغلی دی بيله يهودانو.
۱۹- الکسائيه: الکسائيه په دری سوه ميلادي کال کي په اردن کي منځ ته راغلي ده هغوی ستوري مقدس گڼي او د ثنويت عقايد لري .

همداسي تاريخي فرقي په کي رامنځ ته سوي دي . لکه :
۲۰- سمپسان
۲۱- ابيونيان



www.tanzona.com

۲۲- ماسبونيان
۲۳- اوسيان
۲۴- نزاريان
۲۵- ناصورائيان
اوداسي نور

***دمسيحيت مذهبونه او فرقې***

مسيحيت ، عيسوييت يا نصرانيت  درې مذهبونه او ( ۵۰ )فعاله فرقې لري چې مهمې يې دا دي :

(کاتوليک (عمومی) مذهب، ارتدوکس (سنتي) مذهب، پروتستان (معترض)مذهب

کاتوليک؛ کاتوليکان دپاپ  پلويان  دي ، مرکزيې په روم کې دی، کشيشان يې واده نه کوي،  هغوی پاپ بې ګناه بولي، مقدسه ژبه يې لاتيني ده ، اوپه لاتينه ژبه عبادت کوي .

ارتدوکس: ارتدوکسان  اصلاح طلبان  دي ،دقسطنطنيې د امپراطور پلويان دي ،  مرکزيې په يونان کې دی . کشيشان يې واده کوي، پاپ بې ګناه اوخطا نه بولي، مقدسه ژبه يې يوناني ده، په خپله ژبه عبادت کوي .

پروتستان :  د کاتوليک مذهب کې د« مارتين لوتر »لخوا انشعاب راغی اود پروتستانو مذهب را منځ ته سو ،هغوی په کليسا نيوکې کوي  چې هغه له اصل سره توپير لري ،هغوی د کليسا په تکفير او

www.tanzona.com Copyright:

دجنت په رسمي قوالو ورکولو نیوکي کوي ، هغوی په دنیا کي په نیکو کارونو باور لري او وایي له خدای (ج) سره په اړیکو کې کشیش او پاپ څه اغیزه نه لري او هم برزخ نه مني.

***د میسحت دمذهبو او فرقو ډلبندي*** :

د. پطرس پلویان: د پطرس پلویان په لومړی میلادي پیړی کې اوسیدل .

د پولس پلویان : د پولس پلویان( ١ – ۴) پیړیو پورې منځ ته راغله او بیا هغوی په دوو مذهبونوویشل سول .

الف : ارتدکس

ب: کاتولیك

الف : په ارتدکس کې هم انشعابات راغلل هغه په فرعي څانګو وویشل سو

لومړی : هغه فرقي چې( ۴- ١۶ ◌)پیړیو پورې منځ ته راغلي دي

.قبطیه، ۵- کلدانیه، ۶- مارونیه ۴- نساطره، ٢- ارمنیه، ٣- سریانیه، ١-

دویم : هغه فرقي چې( ١۶- ٢٠ ◌)پیړیو پورې منځ ته راغلي دي

ارتدکس په هر سیمه کې په مستقل ډول (اسقف) ایجاد کړچې دهغو تعداد( ١۵) ته رسیدی .

ب :کاتولیك

هغه په درو برخو انشعاب وکړ

لومړی : هغه کاتولیکي فرقي چې ( ٢- ۶ )پیړیو پورې منځ ته راغلي دي :

یعقوبیه: هغه عیسی (ع) یو واحدطبیعت بولي، نن هغو ته بطریرکیه السریان الکاتولیك هم وایي چې په لسو فرعي څانګو یې انشعاب کړی دی .



www.tanzona.com
Copyright: www.tanzona.com

۱-یعقوبه، ۲ -الیانیه، ۳- الیلیارسیه، ۴- مقدانوسیه ،۵- سبالیوسیه، ۶-نوئتوسیه،۷-بولسیه، ۸- موارنه ،۹ ـ ملکانیه (تثلیث پرستان دي)،۱۰-.مونوفیزیه (عیسی (ع) خدای بولي

دویم: هغه کاتولیکي فرقي، چې( ۶- ۱۶) پیریو پورې منځ ته راغلي دي

۱-مونوتولیة- (په واحد خدای باور لري)

۲- یسوعیون-( هغه ته با بابولس ثالث هم وایي)

۳- الکاتاد- د هغه بل نوم انقیاء دی په دولسمه دیرلسمه پیړیکي منځ ته راغلي دي، هغو خدای د خیر اله او شیطان د شر اله بولي او باور لري دواړه په انسان کي را ټول سوي دي .

دریيم : هغه کاتولیکي فرقي، چې ( ۱۶- ۲۰ )پیریو تر منځ ته راغلي دي .

په دي وخت کي دديني اصلاح نهضت منځ ته راغی او کاتولیکان يي په دووبرخو وويشل

۱-کاتولیکان .

۲- پروتستان

مگر دا انشعاب دلته هم ختم نه سو په دواړو کي نور انشعابات راغله

الف : دکاتولیکانو فرقي

مورمونان - دهغه اساس جوزف اسمیت (۱۸۰۵-۱۸۴۴ م) کال کي کیښود هغوی خپل پلویان دیهودیت اصلي کتاب ته دعوت ول .

هغوی باور لري، چي خدای د انسان په شکل دی غوښي او هډوکي لري .

ب : پروتستانو فرقي

(هغوی پاپ نه مني)

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

۱-لوتریه - مارتین لوتر (۱۴۸۳-۱۵۴۶ م) کال کي د هغه اساس ایښی دی .

۲. جیش الخلاص - ویلیام بوث ( ۱۸۷۵م) کال په لندن کې د هغه اساس ایښی دی .

۳. میتودیه-(۱۸۷۶ میلادي) کال په آمریکا کې تأسیس سوي ده .

۴-عنصریه -(۱۹۰۱ میلادي) کال په امریکا کې منځ ته راغلي ده او فقرانو ددین په نامه یاد سوی دی

۵- شهود یهوه-(۱۸۷۴ میلادي ) کال په آمریکا کې منځ ته راغلي ده هغوی پلویان یې د مقدس کتاب د شاګردانو په نامه مشهور دي او په کال( ۱۹۳۱ م)کې د شهودیهوه په نوم مشهوره سوه .

هغوی وایي د امتونو دوران پای ته ورسید ژر به د ملکوت دوران پیل سي اوعیسی (ع) به په روحي ډول رجعت وکړي .

***د اسلام د دین مذهبونه او فرقې***

حدیث کې راغلي دي) ۳۹۸۱ («سنن ابي داود»

«دخدای پیغامبر (ص) پورته سو او ویې ویل: ستا سو څخه مخکې داهل کتابو ډیر تر ۷۲ فرقو وویشل سول دا امت به هم ژر په ( ۷۳) فرقو وویشل سي له هغو څخه به( ۷۲ ) فرقي په اور کې اویوه به یې په جنت کې وي » .

دین څه شی دی :

دین په روحاني موجوداتو اعتقاد یا باور ته وایي یا په بله مانا دین دحقیقت اطاعت ، فرمان منل او تسلیمیدل دي .

ځیني علماوایي دین دخدای تعالی وضع سوي قوانین دي، چې دعقل خاوندان په خپل اختیار هغه مني .



www.tanzona.com

د قرانکریم د کافرون دسوري د شپږم مبارک آیت په اساس«لکم دینکم ولي دین» د مشرکانو مسلک ته هم دین ویل سوی دی .

یولویدیځوال پوه «دورکیم» وایي دین دمقدساتو د باورونو او ادابو دستگاه ده چي خلک په ټولنیزو ډلو کي راغونډوي .

په قرآن کریم کي دین ته ډیري ماناوي لکه : جزا او عوض ورکول [د دفاتحه د سورى ۴ مبارک آیت] ؛اطاعت و بنده گي [د زمر دسورې یولسم مبارک آیت]؛ ملك او سلطنت [دبقري دسورې ۱۹۳ مبارک آیت] ؛شریعت او قانون [د کافرون دسورې ۶ مبارک آیت]؛ ملت [د انعام دسورې ۱۶۱ مبارک آیت] ؛تسلیم [العمران دسورې ۱۹ مبارک آیت] ؛اعتقادات[دالبقرې د سورى ۲۵۶ مبارک آیت شریف]... راغلي دي . او په روایاتو کي هم «دین» ته ډیری ماناوي ورکړ سوي دي

مذهب : علما ددين خانگي ته مذهب وايي ځيني بيا همدا دين ته مذهب وايي

د اسلام دين د فقهي ، شرعي، مادي ، سياسي... مسايلو په اساس په څو ډلو ويشل سوي دي

ياني مذهبونه د يو بله په فقهي مسايلو ، شرعي مسايلو ( اودس ، لمونځ...)، مادي مسايلو ( د دځان د گټي لپاره حديثونه )، سياسي مسايلو ( رسول الله (ص) دځا ی ناستي موضوع) او(قبيلوي تعصباتو( داسلام وسعت د نورو دينونوپيروانو عقايدلکه دعباسيسانو او امويانو په وخت کي تر اغيزي لاندي راوست)،کي سره اختلافات لري ياني مذاهب د يو بل سره په اعتقاداتو، فقهه احکامو ، اخلاقو او عرفان کي سره توپيرونه لري .

مذهبونه په څو ډولو ويشل سوي دي لکه :

فقهي مذاهب چي په فقهي مسايلو کي سره توپير لري .

کلامي مذاهب چي په اعتقادي مسايلو کي سره توپير لري .

او صوفي مذاهب چي په اخلاقي مسايلو کي سره توپير لري .

فرقه :فرقه په لغت کي دخلکو يوې ډلي ته وايي ، چي په اعتقادي مسايلو کي يونظر ولري او له مذهبه جلا سي له هغه مذهب څه مني اوڅه يي نه مني .



www.tanzona.com

# د مذاهبو اوفرقو د راتلو علتونه

ډیرو د نورو دینونواو مشریکانو اغیزه او د مسلمانانو له پاک زړوښخه ګټه اخیستنه، داچي قرانکریم په عربي دی په هغه نه پوهیدل، د اسلام ضد خلکو له دینه بده استفاده کول، له دین څخه د ملايانو مقدماتي او لږه پوهه، له دین څخه سیاسي ګټه پورته کول، د شهرت ، منافقت دپاره له دینه کا راخیستل، د مسلمانانو د تفرقي لپاره دهغه تحریفول، دغیر مسولو علما واک ته رسیدل ،د امویانو او عباسیانو کینه او رخه له اهل بیت سره ، د خلکو ساده توب، جعلي حدیثونه، غلط سیرت النبي ، د قران غلطه ژباړه ، جهالت ، د نوي حدیثونو واردیدل ،د نبي (ص) هیرول، د یو اوبل خلیفه نه منل او داسي نور .

په اسلام کي دډیرو فرقو د منځ ته راتلولو لامل دا دي :

د پیغامبر اکرم (ص) په وخت کي یو واحد اسلام دین و د شیطان بدعت هغه په دو برخو بیا په څو مذهبونواو ۷۳ فرقو ویشئ .

په لومړی سر کي یو داسلام دین و،بیا دوه مذهبونه سنی اوشیعه منځ ته راغله .

او دا مذهبونه په ډیرو فرقو او ډلو وویشل سول

1ـ سني مذهب ( اهل تسنن) : داهل سنت اصطلاح په دویمه هجری پیړی کي رامنځ سوه هغوی ځان دقران او نبوی حدیثونوپیرو بولي، تر ټولو لوی مذهب دی چي دنړی د مسلمانانو اکثریت جوړوي .

اهل سنت فرقي :

1. اهل حدیث (خنبلیه) 2. سلفیه 3. مذهب اشعریه (اشعري) 4. مذهب ماتریدیه 5. مذهب طحاویه 6.مذهب معتزله 7. فرقه مرجئه 8. فرقه اباضیه 9. حشویه 10. فرقه جهمیه 11. خوارج

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

12. قدريه

دا مذاهب  په درې ډلو فقهي ، کلا مي او صوفي فرقو ويشلي سوي دي

له فقهی نظره د اهل سنت دین مذهبونه:

اهل حديث

هغوی وايي محمد(ص) خپل ځايناستی نه دی تعين کړی ،هغوی د مسلمانانو  دشورا په اساس خپل خليفه ټاکي ،اهل سنت د پيغامبر ځايناستي ياني امام يا خليفه يو انتخابي مسله بولي چې بايد حل او عقد شورا هغه وټاکي بر عکس شعيان باور لري امامت يو الهی منسب دی .

په لومړی سر کي يوازې يو دين و، چي بيا په مذهبونو وويشل سو لکه  :

-الداوديه ،- الحنفيه ،-المالکيه ،-الحنبليه ،-العشريه  او شافعه مذهبونو وويشل سو

۱- شافعي مذهب  : شافعی مذهب  بنياد اينونکی  محمد ادريس الشا فعي (۲۰۴-۱۵۰هجري قمري) و چي لقب يي ابوعبدالله دی  دا مذهب  دحنفي اومالکي څخه يوه ګډه لاره ده  چي څلور اصله قرآنکريم ,سنت,اجماع او قياس منی او استدلال قبلوي .

هغوی درې  عمده شرطونه لري :

لومړی - اقرارپه ژبه

دويم  - په زړه تصديق

درېيم - عمل کول

اهل حديث اهل حديث د سلفيه يا حشويه يا حنابله په نامه  هم نوميدل چي اوس  حنبلي ، شافعي، مالکي او  حنفي دي .

۲ ـ حنفي  مذهب : ابوحنيفه نعمان بن ثابت  يي اساس اينونکی دی(۱۵۰-۸۰)هجری دکوفي په ښار کي اوسيده ،چي د افغانستان دپروان ولايت د چاريکار و

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

حنفیان پر اووه اصولو ولاړ دی : قران ، درسول الله سنت ، د صحا به قول ، قیاس اورای ، استحسا ن ،اجماع ،عرف .

۳ -مالکي مذهب : ابوعبدالله مالک ابن انس (۹۳-۱۷۹هجري قمري) کي يي اساس ايښي دی، داستنباط منابع يي قرآنکريم ، سنت، اجماع،قياس، استحسان ،استصحاب مصالح مرسله ، سد ذرايع، عرف،قول صحابي جوړوي هغوی انعطاف پذيري لري .

۴ -حنبلي مذهب : د حنبلي مذهب موسس ابوعبدالرحمان احمدبن حنبل(164-۲۴۱ ) اهل سنت اواهل د حديث دی او رای ته پام نه کوي ،

دهغه استناديوازې په قرآنکريم اوحديث نبوي دي

پنځه اصله ورته معتبردي :کتاب،سنت،د پيغامبر دصابه فتوا،د ځينو صحابه قول منل چي د قران مطابق وي او ټول مرسل اوضعيف حديثونه.

۵ ـ داوديه د( ظاهريه) مذهب : موسس يي داودبن محمدعلي دی ،چي په کال( ۲۰۲ )په کوفي کي زيږيدلی دی .

دهغوپه اند يوازې حقيقت اوسعادت لاره د خدای کلام ا ود پيغامبرحديثونه دي هغوی (قرآن،حديث اواجماع) قبلوي خو قياس،رای،استحسان اوتقليدردوي .

په ديني مسايلو کې عقل اصلي عامل ګڼي د هغه پيروان په هسپانيه کې دي .

۶ـ ديوبندی مذهب : مؤسس يي شاه ولي الله دهلوي دی ،دهغه پيروان په هندوستان ، سويلي افريقا او بريتانيا کې دي ، مذهب يي حنفي دی اوطريقه يي چشتي ده ،هغوی د صوفي او طريقت ټولي ښانګي مني.

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

# د اعتقاد له نظره د اهل سنت فرقې

اشاعره ( جبريون ) : د اشاعره ډير اهل سنت دي، چې د ابوالحسن علي بن اسماعيل اشعري (۲۶۰- ۳۲۴) پيروان دي ، هغوی د دين په اصولو کې استدلال او منطق جايز گڼي. له اشعری وروسته امام غزالی ددې فرقې پايې ټينگې کړې مگر دې فرقې کرار کرار خپل کلامي رنگ بايلود او عرفاني رنگ يې ونيوی او د امام فخررازي په وخت کې يې بيا فلسفي رنگ ونيوی .

معتزله ( اختياريون):- د معتزله فرقې مؤسس واصل بن اعطا دی .

معتزله په دوو عمده ډلو، دبغداد معتزله او د بصرې معتزله وويشل سوه اوبيا په نورو شلو ډلو وويشل سوه لکه ۱- الحسنيه ، ۲- الواصيله ، ۳- هذيليه ، ۴- نظاميه، ۵- بشريه ، ۶- الكعبيه ، ۷- هشاميه ، ۸- حبائيه ، ۹- حاحظيه ، ۱۰- معمريه ، ۱۱- خياطيه ، ۱۲- مداريه ، ۱۳- شماميه ، ۱۴- خابطيه، ۱۵- هاشميه ، ۱۶- اسكافيه ، ۱۷- اسوريه ، ۱۸- جعفريه ، ۱۹- حماريه او ۲۰- عمرويه.

ماتريديه : د ختيځ حنفي مذهبه مسلمانان په دې مذهب دی، مؤسس يې ابومنصور ماتريدي سمرقندي ( ۳۳۳ ه .ق کې وفات کړی) دی ، هغوی وايي عقل په ظاهر غالب دی

خوارج(مارفه) : خوارج په کوفي کې د صفين له جنگ ( د حضرت علي ا وحضرت معاويه)وروسته منځ ته راغله ، هغوی په دريېم اوڅلورم خليفه گانو بد وايي، هغوی علی (رض) څلورم خليفه نه مني ،هغوی باور لري څوک ، چې په فرضو عمل نه کوي کافر دی بايد مړ سي دا فرقه په( ۲۵ )کوشنيو فرقو او ډلو ويشل سوي ده :

Copyright: www.tanzona.com

الزارقه، النجدات،العجارده، البدعیه، الخازمیه، الثعالبه، الحروریه، الصفریه، الاباضیه، الحفصیه، الیزیدیه، البیهسیه، الشمراخیه،الفضلیه، الضحاکیه

مرجئه: مرجئه فرقه یوازې ایمان کافي ګڼي عمل ته دومره اهمیت نه ورکوي هغه په شپږو نور وفرقو ویشل سوې ده.

الزامیه، الغیلانیه، التومنیه، الصالحیه، الشمریه،او الجهمیه

وهابیه : دوهابیه مؤسس محمد بن عبد الوهاب ( ۱۱۱۵ د نجد په ښار کې زیږیدلی او په ۱۲۰۶ مړ سوی دی) پلویان یې په عربستان کې دي .

وهابیان د اهل سنت څلور مذهبونه په رسمیت پیژني مګر جعفري او زیدي مذهبونه نه مني .

دوهابیانو په باور بیله خدای (ج) له بل چا څخه شفاعت نه غوښتل کیږي ، د رسول الله د زیارت په قصد سفر کول ګناه لري ، د قبر ونو جوړول ګناه لري، دخدای داولیاو اثاروته تبرک ورکول ګناه لري هغوی ځان ته سلفیه وایي .



**محمد بن عبد الوهاب**

تصوفي فرقې : د سني مذهبو تصوفي فرقې دا دي :

قادریه،یکتاشیه،چشتیه،حروفیه،دستوقیه،سهروردیه،شاذلیه ،صوفیه ،ملامتیه ،مولویه

نعمت اللهیه،نقشبندیه ،نقطویه اونوربخشیه



www.tanzona.com

چي مشهوره يي قادريه ده ، هغوی د عبدالقادر گيلاني پلويان دي، چي د ايران په لويديځ او اندونيزيا کي ژوند کوي .

نقشبنديه فرقه يي دويمه لويه فرقه ده چي هغوی دخواجه بهاءالدين نقش بندپلويان دي ،چي په اتمه او نهمه پيړيو کي په هندوستان کي اوسيده.

***اسلامی مذاهبو ته ورته فرقی***

يزيديان : يزيديان دبشريت اصلي دښمن شيطان نه بولي شيطان ملک طاووس او مقربه ملا يکه بولي او باور لري خدای (ج) د دنيا اداره هغه ته سپارلي ده


ديزيديانو قبله د« شيخ عدي» مقبره ده چي دعراق په موصل کي ده او دهغو حج هم دشيخ عدی زيارت ته په عمر کي يو وار تگ دی .

پارسان : پارسان ځان خدای پرستان بولي خو اور اونور ته درناوی کوي دا چي هغوی له ايران څخه هندوستان ته تښتيدلي دي دهندو دين په هغو اغيزه کړي ده ،هغوی په تناسخ باور لري د گناه جزا په دنيا کي بولي ، د نوروزجشن لمانځي ،د اور عبادت ځايو ته ځي او قرانو ته خيرات ورکوي .

بهائيان : بهائيان يو خدای مني هغوی وايي دينونه د بشري ټولني نيازونه پوره کولای نسي نو نوی لارو ته اړتيا سته، هغوی دعقل منلي شيان مني ، سود ښه بولي، روحاني طبقه نه مني، جهاد رد وي، مورثي دين نه مني، د ښځو او نارينو حق په ارث کي مساوی بولي، دهغو لمونځ دسهار ، غرمي او ماښام لخوا(۹) رکعته دی قبله يي د «عکا »ښار دی ،هغوی وايي په هر زرو کالو کي دين بدليږي تربهايي دين مخکي اسلام حق و بيا تر زرو کالو پوری بهايي دين حق دی د هغوی موسس **عباس افندی** د بهاءالله زوی چي په **عبدالبهاء مشهور دی** دی



www.tanzona.com



**عبدالبهاء**

احمديه ( قاديانيه ):ـ احمديه د ميرزاغلام احمد (۱۲۵۵ـ ۱۳۲۶هجري ) پيروان دی هغه په هندوستان کې زيږيدلی دی .

احمدلوموړی اهل تسنن و،بيا يې ادعا وکړه چې پيغامبر دی. احمديان هغه مسيح موعود بولي ، هغوی وايي اخير پيغامبر حضرت محمد (ص) نه بلکې غلام احمد دی.احمديان خپل مشر ته خليفه وايي تر اوسه پينځه خليفه گان لري پينځم خليفه يې ميرزامنصوراحمد دی .

Copyright: www.tanzona.com



**ميرزا غلام احمد**



www.tanzona.com

۲ ـ شيعيه مذهب

شيعيه په لغت کې د دوونفرو هماهنگي يا د يوې ډلې پلوي له بلې ډلې څخه ته وايي ،هغوی د حضرت علی (رض) په امامت اوخلافت باور لري .

شيعيه مذهب ډيري مهمي فرقي اوډلي

شيعيه مذهب په پينځو فرقو ويشل سوی دی :

۱- زيديه ،۲- کيسانيه ،۳- اماميه (اثني عشريه)، ۴-اسماعيليه، ۵- مبارکيه

چې اوس زيديه ، اسماعيليه او اماميه پاته دي

۱-اثنی عشري يا جعفري يا اماميه

اثنی عشري په لغت کې د دولسو مانا لري،هغوی په دولسو امامانو باور لري .

۱ ـ علی دابوطالب زوی ۲– حسن دعلی زوی ۳– حسين دعلی زوی ۴– علی دحسين(سجاد) زوی۵ـ محمددعلی(باقر) زوی ۶–جعفردمحمد (صادق) زوی ۷- موسی دجعفر(کاظم) زوی ۸– علی دموسی(رضا) زوی ۹ـ محمد دعلی(جواد) زوی ۱۰– علی دمحمد (هادی) زوی ۱۱– حسن دعلی (عسکری) زوی ۱۲-حجت دحسن(مهدی) زوی .

ټول شيعيه مذهب پلويان اټکلی د نړۍ د مسلمانانو( ۱۶) په سلو کې جوړوي چې لويه فرقه يي شيعه جعفري يا شيعه اثناعشري يا شيعه اماميه ده چې د ايران، عراق، آذربايجان، لبنان، افغانستان، پاکستان او د فارس په خليج په څنډو کې ژوند کوي

۲-اسماعليه يا(الدعوه الهاديه)

اهل سنت اسماعليه باطنيان بولي. هغوی اسماعيل دامام جعفرصادق زوی امام بولي او اووه امامان مني او په اووه امامه ډلي هم مشهوره ده .

هغه په دوو ډلو مستعلوي اونزاري ويشل سو ی ده .

دايران اوشام اسماعليان نزاري دي او د مصر، افريقاد شمال هغي مستعلوي دي .

Copyright: www.tanzona.com

د اسماعیله دشیعیه مذهب دوهمه غټه فرقه ده   چې اقلیت دي ، هغوی ډیر په ایران ، عراق ، شام، یمن ، بحرین، افغانستان او شمالي آفریقا کې ژوند کوي

کریم آقاخان یې حاضرامام دی .

اسماعیلیه ته یې باطنیه، سبعیه، تعلیمیه، ملحده، مزدکیه هم ویل سوې ده

فاطمیان، نزاریه مستعلیه او آقاخانیه هم اسماعیلیه فرعي فرقي دي .

داسماعیلیه ځیني فرعي فرقي یا ډلي دا دي.

خالصه اسماعیلیه: د هغوی په باوراسماعیل نه دی مړ بلکې پټ دی او یو ورځ ظهور کوي .

مبارکیه: هغه وایي چې امانت له امام صادق  څخه وروسته د  اسماعیل زوی محمد ته رسیږي .

قرمطیه دا له مبارکیه څخه جلا سوې ډله  ده، هغوی وایي محمد بن اسماعیل نه دی مړ سوی هغه اووم اواخیرین خلیفه دی.

۳ ـ زیدیه:د شیعه درېیمه فرقي ده  چې په پینځو امامانو(علی،حسن،حسین،علی بن حسین وزیدبن علی)باورلري .

زیدیه فرقه   څلورم امام  زیدبن علي(د امام سجادزوی ) بولي او خپله امام سجاد د علم او معرفت پیشوا بولي  او وایي داچې  امام سجاد  وسله وال قیام نه دی کړی هغه امام نه دی ددې فرقې پلویان په خلیج فارس اویمن کې ژوند کوي .

د زیدیه فرقې ډلې : جارودیه، سلمانیه یا جریریه، صالحیه او ابتریه دي .

د غلات فرقې:

۱ـدروزیان: د دروزیان له  اسماعلیلیه فرقې څخه جلا سوې یوه فرقه ده،هغوی وایي دخدای روح د الحاکم په جسم کې دی له  الحکیم څخه د هغو موخه خلیفه فاطمي دی .



www.tanzona.com

۲-نصیریه: نصیریه فرقه حضرت علی (رض) خدای، سلمان فارس (رض) پیغامبربولي ، شراب نور گڼي

۳- شیخیه : شیخیه فرقه امامان خدای بولي

فرقي: شیعه صوفیه

الحلولیه : چي د شیعه گنابادیانو صوفیه فرقه یي هم بولي، چي شاه نعمت الله ولي له هغي فرقي څخه منشعب سوی دی چي د شاه نعمت الله شیعیه صوفیه فرقه نومیږي چي په پیروان یي په کرمان کي اوسیږي .

النوریه : یانوربخشیه فرقه چي د سید محمد نوربخش چي په اتمه پیړی کي اوسیده جوړه کړي ده ، چي پیروان یي د پاکستان په شمال او تهران کي اوسیږي .

ځیني علما د شیعه مذهب د فرقو ډلبندي داسي کوي

شیعیه مذهب په شپږو مذهبونه ویشل سوي دي لکه: رافضیه، خارجیه، جبریه، قدریه، جهمیه، مرجیه اوهر یو په دولسو فرقو وویشل سوي دي

.ابوالقاسم رازي د اووه نوري فرقي نوم اخلي لکه : کرامیه، هریه، حالیه، باطنیه، اباحیه، براهمیه، اشعریه.

په ځینو متونو کي دنورو فرقو نومونه هم راغلي دي لکه : سوفسطائیه، فلاسفه، سمنیه، و مجوسیه

مذهب فرقي او ډلي

| | |
|---|---|
| رافضیه | علویه، ابدیه، شیعیه، اسحاقیه، زیدیه، عباسیه، امامیه، ناوسیه، تناسخیه، لاعنیه، راجعیه، مرتضیه |
| خارجیه | ازرقیه، ریاضیه، ثعلبیه، جازمیه، خلفیه، کوزیه، کنزیه، معتزله، میمونیه، محکمیه، سراجیه، اخنسیه |
| جبریه | مضطریه، افعالیه، معیه، تارکیه، بحثیه، متمنیه، کسلانیه، حبیبیه، خوفیه، حسبیه، حجتیه فکریه، |



www.tanzona.com

| | |
|---|---|
| قدریه | احدیه، ثنویه، کیانیه، شیطانیه، شریکیه، وهمیه، رویدیه، ناکسیه، متبریه، قاسطیه، نظامیه، متولفیه |
| جهمیه | معطلیه، مترابصیه، متراقبیه، واردیه، حرقیه، مخلوقیه، عبریه، فانیه، لفظیه، قبریه، واقفیه زنادقیه، |
| مرجئه | تارکیه، شائیه، راجیه، شاکیه، نهمیه، عملیه، منقوصیه، مستثنیه، اثریه، مشبهه، حشویه مدعیه، |
| اووه فرقئ | کرامیه، هریه، حالیه، باطنیه، اباحیه، براهمیه، اشعریه |
| متفرقه | سوفسطائیه، فلاسفه، سمنیه، و مجوسیه |

Copyright: www.



www.tanzona.com

# شيطان پرستان

شيطان پرستان شيطان دعالم هستي مخکي طرح يا سېمبول بولي،شيطان پرستان د شيطان عبادت کوي، هغوی شيطان پر مځکه د قدرت او حاکميت سېمبول بولي. په دنيا کې دوه ډوله شيطا ن پرستان سته چي له يو بل سره اړيکي نه لري .

***الف : دختيځ شيطان پرستان***

په نړی کي شيطان پرستي لرغوني ريښه لري، چي يوه پخوانی بيلگه يي د «يزيدي» فرقه وه ، د دغه فرقي بنسټ ايښودنکی "عدي ابن مسافر اموي" و چي په ديرلسمي ميلادي پيړی کي اوسيده . ځينی تاريخپوهان هغه يوه زرتشتي فرقه بولي مگر «يزيديان» دا ردوي هغوی دا فرقه له زرتشتي ، ميترائي او صوفي ځخه منځ ته راغلي يو دين بولي.

يزيديان وايي : خدا (ج) يو مرواريد جوړ کړ چي د څلويښتو زرو کالو وروسته يې هغه مات کړ او ملک طاووس (شيطان)، دخدای نژدې ملايکې له همدې مرواريد له ټوټو څخه مادي جهان جوړ کړ ،بيا د خدای (ج) لخوا نور ي ملايکې پيدا سوې .

يزيدان وايي شيطان دخدای (ج) دښمن نه بلکي د هغه شريک دی ( العياذبالله)، شيطان يوه شړل سوې ملايکه نه ده بلکي انسان ته د پوهې ښودونکی دی .

يزيديان شيطان ددنيا مطلق واکمن او د تياري واکمن بولي ، له پيريانو او پليدو ارواحو څخه د خپلو موخو لپاره گټه اخلي ياني د ټولو پليدو واکونو عبادت کوي .

دې دين ته «داسنی» هم ويل کيږي، چي شيطان ته ملک طاووس وايي .

***ب : دلويديځ شيطان پرستان:***

دلويديځو شيطان پرستانو ځرک له ميلاد څخه مخکي ليدل کيږي له جنوبي امريکا ، مرکزي افريقا او لاتيني امريکا څخه ځيني پيداسوي اثار دا ادعا ثابتوي ، چي هغوی انسانان شيطان ته ډالی کوله دهغو د انسانانو د قرباني کولو ځايونه نبني تر اوسه سته او قرباني سوي پيدا سوي موميالي اجساد دا ښيي چي ډير قربانيان يې ښځې وې .

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

په مرکز ي افریقا کې د « اوکاچا»تبر شیطان دمځکي او آسمان واکمن باله .

دشیطان پرستي د ژبې او لیک دود د مادیانو، سومریانو، بابلیانو په وخت کې ادامه لرله .

***نوی شیطان پرستان***

نوی شیطان پرستي په کال (۱۵۱۴ م)کې په انګلستان کې منځ ته راغله او د شیطان لومړی رسمي عبادت د نجیب زادګانو لخوا پیل سو، ددې لپاره چې د شیطان د واک او د تیارې له واک څخه ګټه پورته کړي نو د شیطان پرستي مراسم تر سره کیدل ،چې له پخواني شیطان پرستي څخه ډیر توپیر لري .

پخوانیو شیطان پرستانو په زیان لرونکو کارونو کې لکه ، په جنګونو کې له شیطان څخه مرسته غوښتل ان په دیرلسمه پیړی کې د فرانسي ملکي د پاچا له مړیني څخه د ژغورلو لپاره دشیطان پرستي مراسم تر سره کړه .

شیطان پرستان جنسي ارضا یو مهم عامل بولي ، هغوی په دوږخ باور نه لري او دوږخ همدا دنیا بولي ، هغوی د مسحیت ضد دي، نجوني يې شیطان ته قرباني کولې .

«آنتوان شزاندر لاوي» د هغه مؤسس دی . دا دین د هغه د فلسفي په اساس جوړ سوی دی، هغوی خدای نه مني د عالم هستي مرکزیت او محور انسان بولي، په اخیرت باور نه لري ، وایي روح اوجسم لیدل کیږي ، انسان خپله خدای دی، هغو ته شیطان یو مثبت موجود دی، هغوی له اخلاقي اړخه تر نورو ځان لوړ بولي ، هغوی شیطان په هر وجود کې بولي ، هغوی وایي شیطان په وجود کې سته چې په جنسي اعمالو ارام او ارضا کیږي، هغوی جسم پرستان دي هر شی داله تناسلي مدیون بولي، په مراسمو کې انساني بولي د سپرم سره په خلکو پاشي خوانساني قربا نيَ نه لري .

انتون لاوی په کال ( ۱۹۶۶ م) کې د شیطان کلیسا جوړه کړه ،شیطاني انجیل د هغو کتاب دی د هغه له مړیني وروسته د هغه میرمني« بلانش بارتون» ددې دین مشره سوه چې اوس د هغه یو زوړ پلوی «پیتر ګیلمور» د هغه مشر دی .

د هغو انجیل څلور چپرکي لري لکه : د شیطان کتاب ، دلوسیفرکتاب ، دبلیل کتاب ، او د لویتان کتاب چي لومړی کتاب يې د شیطان پرستي نهه احکامه لري

شیطان د افراط استازی دی نه ریاضت ۱-

شیطان د مادي ژوند استازی دی ۲-



Copyright: www.tanzona.com

www.tanzona.com

.شیطان دپاك عقل ښودونكی دی نه د ختا ایستونكو ځان غولونكو ۳-

شیطان هغه ته چې لياقت لر ي دميني نښه ده نه نمک نا پيژندونکو ته . ۴-

شیطان موږ ته غچ اخيستل را ښيي هغوی د ظلم په مقابل کې کرار نه کښيني . ۵-

شیطان موږ ته دمسؤ ل په برابرکي او د ويرونکو خيالي موجوداتو په مقابل کې مسؤليت را ښيي . ۶-

شیطان وايي انسان يو بل حيوان دی کله ډير ښه او ډير وخت د خدايي روح او د ذهن له ودې له کبله له هغه بد طينته انسان يا ډير بد حيوان جوړيږي . ۷-

شیطان گناه د فيزيکي ، حسي او ذهني اړتياو د بشپړ ولو عامل بولي . ۸-

شیطان دکليسا ښه ملگری دی ځکه هغه يې کلونوکلونه بوخت ساتلی دی . ۹-

دهغوی په باور شیطان د طبيعت ، تیارې ، شهواني طبيعت ، مريني، د واک سيمبول او د مذهب ضد دی .

Copyright: www.tanzona.com



آنتوان شزاندر لاوی



Peter H. Gilmore



www.tanzona.com

# بې دينان

Atheismبې دينان  :دا ډله په  اتلسمه پيړۍ کې منځ ته راغي ده ، د هغوی په باور خدای  وجود نه لري، هغوی خدای نه مني، د ننني نړۍ په سلو کې ( ۲،۳ ) وګړي بې دينان دي ، چې ډير يې په جاپان  اواروپا کې ژوندکوي .

Not dualistic: دا بې دينه ډله باور لري، چې  روح او جسم ليدل کيږي  اود عالم د خير او شر تر منځ شخړه نسته.

Autodeists ځان پرستان: ، دا ډله  خدا نه مني ،وايي  هر انسان خپله  خدای دی.

Materialistic ماده پرستان : ماده پرستان  خدای نه مني هغوی يوازې ماده مني .

اګنوستيسيم: :  دا ډله د خدای(ج) په موجوديت باور نلري .

د شيطان دربيم او څلورم مهم کړه انسانان ګناه ته هڅول دی

Copyright: www.tanzona.com

# گناه

گناه دخلاف په مانا ده ،هر هغه کار چي دلوی خدای (ج) دامر او فرمان خلاف وي گناه شمېرل کيږی . داسلام ستر پيغامبر (ص) ابوذر (رض) ته داسي وفرمايل :

ژباړه :« دگناه کوشني والي ته مه گوره بلکي دې ته گوره چي له چا سرغړونه کوې»

په قران شريف کي گناه په لاندې کلمو ياده سوې ده :

١ -ذنب : ذنب د پايلي په مانا ده چي(٣٥) ځله په قران عظيم الشان کي تکرار سوی ده.

٢ -معصيت : دسرغړوني مانا لري چي(٣٣)ځله په قران عظيم الشان کي تکرار سوې ده.

٣ -اثم : د سستي او پڅوالي په مانا ده . چي(۴٨)ځله په قران عظيم الشان کي تکرار سوی ده.

۴ -سيه : دناوړه او قبيح کار په مانا ده . چي (١۶۵)ځله په قران عظيم الشان کي راغلي ده .د سؤ کلمه له همدې کلمي څخه اخيستل سوې ده ،چي(۴۴)ځله په قران عظيم الشان کي راغلي ده.

۵ -جرم : په اصل کي له وني څخه دميوې دجلاکيدو او يا دپست په مانا ده . جريمه او جرايم له همدې لفظ څخه دی . جرم هغه عمل دی چي انسان له حقيقت ،سعادت ،ودې او هدف څخه جلا کوي . داکلمه (۶١) ځله په قران عظيم الشان کي راغلي ده.

۶ -حرام : دمنع کړل سوي په مانا ده چي نژدې(٧۵)ځله په قران عظيم الشان کي ذکر سوې ده.

٧ -خطيه : په اغلب گمان چي دغير عمدي گناه په مانا ده او هم دستری گناه په مانا راغلي ده داکلمه (٢٢) ځله په قران عظيم الشان کي راغلي ده.

٨ -فسق : په اصل کي دا کلمه له خرما څخه د زړې د وتو په مانا ده او دبندگی او اطاعت له مدار څخه دگناهکار کس دوتلو څرگندونه کوي چي دالهي فرمان بريد مات کړي او په پايله کي له کلا او ساتونکی (ديوال)څخه پرته پاتې سوي وي . دا کلمه (۵٣) ځله په قران عظيم الشان کي ذکر سوې ده.



www.tanzona.com

۹ -فساد : داعتدال له حد څخه دوتلو په مانا ده داکلمه (۵۰) ځله په قران عظیم الشان کې راغلي ده .

۱۰ -فجور :د آبرو ،حیا او دین د پردې دځیرې کیدو اوشلیدو په مانا ده چې (۶)ځله په قران عظیم الشان کې راغلي ده .

۱۱-منکر : داکلمه د ناآشنا په مانا ده . چې(۱۶)ځله په قران عظیم الشان کې راغلي ده .

۱۲ -فاحشه : ډیر ناوړه ،دشرم وړ او دکرکې وړ کار ته کارول کیږي ، داکلمه (۲۴) ځله په قران عظیم الشان راغلي ده.

۱۳ -خبیث : هر ناوړه او بد امر ته خبیث وایي چې (۱۶)ځله په قران عظیم الشان کې راغلي ده.

۱۴ -شر : د هری بدی او ناوړې کارپه مانا ده چې خلک تري کرکه لري .

۱۵ -لمم : ګناه ته د نژدې کیدو او ډلر ځیز په مانا ده او د وړو یا صغیره ګناهونو له پاره کارول کیږي دا کلمه په قران عظیم الشان کې یو ځل راغلي ده.

۱۶ -وزر : د درونډ په مانا ده او تر ډیره بریده د نورو کسانو دګناه وړلو له پاره کارول کیږي دا کلمه په قران عظیم الشان کې (۲۶) ځله تکرارسوې ده.

۱۷ -خنث : د باطل او باز خواست ته د تمایل په مانا راغلي ده او تر ډیره بریده د پیمان ماتوني او له ګناه څخه وروسته د تعهد په مانا راغلي ده ، دا کلمه دوه ځله په قران عظیم الشان کې راغلي ده.

دا اوولس ګوني کلمې هر یو په خپل وار سره دناوړو او کرغیرنو ګناهونو څخه پرده اوچتوي او رابښیي چې ګناه هم بیلابیل ډولونه لري او هر یو یې په خپل وار سره انسان ته د ګناه خبرداری ورکوي .

په اسلامي روایاتو کې د ګناه په هکله ځیني نورې کلمې هم په کار وړل سوي دي لکه :
جریره،جنایت ،زلت ،عثرت،عیب او نور چې هر یو یې د یو ډول ګناه څرګندونه کوي .

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

### په ګناه لعنت سوی ډلي

«لعن» په اصل کي په غوسي سره له رحمت څخه دليري کولو او شړلو په مانا دی ، په قران عظيم الشان کي اتلس ډلي د بيلابيلو ګناهونو په خاطر لعنت کړل سوي دي لکه :

کافران ،مشرکان ، يهودان ،مرتدان ،قانون ماتونکي ،حيله ګران ،وعده ماتونکي ،دحق پټونکي ، خاينان ، منافقان ، د خدای (ج)د رسول ځورونکي ، ظالمان ، قاتلان ، ابليس ، په پاک لمنو ښځو باندې تورلګونکي ، د رينتينو رهبرانو مخالفان ، درواغجن پروپاګندچيان ، دناپاکه زړونه لرونکي او درواغجنان ...

### دګناه ډولونه

د اسلام علماوو ګناه پر دوه ډوله ويشله ده

۱ -لويي ګناهوي

۲ -وړي ګناهوي

دغه ډلبندی له قران عظيم الشان او رواياتو څخه سرچينه اخيستي ده.

### لويي ګناه وي

لويي ګناهوي هغه دي چي قران کريم ياحديثونو هغه ته عذاب، حد (شرعي سزا)ټاکلي اويايي لعنت پرويلي وي . دتولولويو ګناهوو دوام کفرلازموي خو د ځينولويو ګناهونو يو وار کول هم کفردی او هره لويه ګناه ددوږخ دواجبيدولو سبب کيدای سي. بايد يادونه وسي چي پر له پسي دوړو ګناهونو تکرارول هم لويه ګناه ده.

۱- د خداي (ج )سره شريك نيول

۲- بيګناه مؤمن وژل

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

۳- سحر او جادو كول

۴- په قصدسره لمونځ قضا كول

۵- زكات نه وركول

۶- بيله عذره روژه خوړل

۷- د قدرت په وخت كي حج نه كول

۸- د موراو پلارسره بدسلوك كول

۹- د مؤمنو دوستانوسره اړيكي پريښوول

۱۰-زنا كول

۱۱- لواطت كول

۱۲- سود خوړل

۱۳- ديتيم مال خوړل

۱۴- په خداي (ج) يا رسول( ص )پوري درواغ تړل

۱۵- د جهاد له ميدان ځخه تښتيدل

۱۶- دحاكم لخوا پررعيت ظلم كول

۱۷- ځانمني،غروراوتكبركول

۱۸- په درواغوشاهدي اداكول

۱۹- شراب ځښل

۲۰- خمار كول

۲۱- پرپاك لمونځو د زنا تور لګول

۲۲- ګاونډيان ځور ول

۲۳- غلا كول

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

۲۴- لاره وهل ( شوکماری)

۲۵- ناحقه قسم اخیستل

۲۶- ظلم کول

۲۷- له مسلمانانو څخه ججه اخیستل

۲۸- حرام مال خوړل

۲۹- ځان وژل

۳۰- درواغ ویل

۳۱- غیر عادلانه قضاوت کول

۳۲- بډي اخیستل

۳۳- پرمسلمان لعنت ویل

۳۴- یو چاته د نسب پیغوروركول

۳۵- مسلمان د هغه د ښمن ته ښوول

۳۶- کالي او بدن له بولو څخه نه ساتل

۳۷- له شهرت لپاره عبادت او ښه کارونه کول

۳۸- په وزن او پیمانه کي کمي کول

۳۹- په امانت کي خیانت کول

۴۰- له نیکي وروسته پرچااحسان اچول

۴۱- قضا او قدردرواغ بلل

۴۲- د مسلمانانوپټ رازونه اشوا کول

۴۳- د مسلمانوپه منځ کي فساد اچول

۴۴- نارینه د ښځي یا ښځه د نارینه په څیر ځان جوړول



Copyright: www.tanzona.com

www.tanzona.com

۴۵- وعده نه ماتول

۴۶- د نجومي اوکاهن غیبي ویناوي منل

۴۷- له میره ځخه د میرمني نافرماني کول

۴۸- پردیوال، کاغذ ،ډبره ،وسپنه اونوروشیانو انځورکښل

۴۹- د تکلیف په وخت کي په ځان حملي یا چغي اوناري وهل

۵۰- پر میرمن او ترلاس لاندي کسانو باندي ظلم کول

۵۱- د کامل اسلامي حکومت پر ضد بغاوت کول

۵۲- د بیت المال ،غنیمت اوزکات په مال کي خیانت کول

۵۳-د مسلمان ځورول یا ښکنځل ورته کول

۵۴- د خداي (ج )دوستانوته ضرررسول

۵۵- د کبراوزینت لپاره پایڅې ښکته کول (نارینه )

۵۶- سره زریا وریښم استعمالول (نارینه )

۵۷-له بادارڅخه د مریي تښتیدل

۵۸- د خداي( ج) له نامه څخه پرته دبل چاپه نامه ذبح کول

۵۹- له پلارڅخه پرته بل څوك نسبي پلاربلل

۶۰- حیرانوونکي خبري اوجنجالونه کول

۶۱- له خلکو څخه او به منع کول

۶۲- دیني علم ددنیوي ګټو لپاره حاصلول او علم پټول

۶۳-. د خداي تعالي( ج) د عذاب او سزا څخه بیغمي کول

۶۴- د خداي تعالي( ج) له رحمت څخه نااميدي کول

۶۵- بیله عذره د جماعت لمونځ پریښودل



www.tanzona.com

Copyright: www.tanzona.com

۶۶- ځوجمعي پرله پسي د جمعي لمونځ پرېښوول

۶۷- په وصيت سره وارثانو ته ضرر رسول (پردي خلک په ميراث کي شريکول)

۶۸- دوکه اوچم کول

۶۹- درسول عليه السلام اصحاب( رض) په بدونوموونويادول

۷۰- دمسلمانانو په حال دهغوي د ښمنان خبرول

۷۱ -په کورنۍ کي اخلاقي فساد زغمل (ديوثي)

۷۲- په ګناه اخته مؤمن کافر ، بې ايمانه ، دخداي دښمن يا خداي وهلي بلل

۷۳- دلارو لوحي اونښي بدلول

۷۴- بدکړوته خلک بلل يا نا رواشيان جوړول اوعامول

۷۵- طلاقه سوي ښځه ترنکاح وروسته لمړي ميړه ته طلاقول

۷۶- حيوانات د نښاني کولو لپاره داغول

۷۷- د سروياسپيونوزرولوښي استعمالول

۷۸- تهمت، غيبت، او بهتان ويل

۷۹- د مسجد اواسلامي مدرسي نړول

۸۰- د قران يادکړي آيتونه هيرول

۸۱- د خداي د ذات يا صفتونو پرته په بل شي قسم اخيستل

۸۲- د د خوړونکو توکو په ګراني خوشحاله کيدل

۸۳- کفري رواجونه خوښول

۸۴- حلال بد ياحرام ښه ګڼل

۸۵- سازاونڅاه خوښول

Copyright: www.tanzona.com

### وړې ګناهوی

هغه موارد چې وړه ګناه په لویه ګناه بدلیږي :

له قراني آیاتونو او نبوي روایاتو څخه څرګندیږي چې په څو مواردو کې وړه ګناه په لویه ګناه باندې بدلون مومي :

۱ -په وړه ګناه باندې اصرار او ټینګار

۲ -دګناهونو واړه شمېرل

دګناه دکولو پرمهال خوشالی کول ۳-

۴ -د بغاوت او تمرد له امله ګناه کول

۵ -دخدای (ج) په مهلت باندې مغروریدل

۶ -د ګناه څرګندول او په هغه فخر کول

۷ -د شخصیتونو ګناه

د سترو شخصیتونو ګناه له ټولنیز پلوه کولای سي چې د ټولنې د اوښتون ، غولولو او په دین کې د خلکو دسستی لامل وګرځي .

### د ګناهونو کیلی

هم هغه شان چې زوړ والي او بوډاتوب د راز راز ناروغیو او کسالت لامل ګرځي همدغه شان یو عیب یا یوه ګناه دنورو ګناهونو ته کیلی ګرځي او ورته لاره هواروي .

۱ -حسادت انسان بیلابیلو ګناهونو ته لکه د ژمنې ماتول ، تور ، درواغ ویلواو نورو ته اړباسي

۲ -بخیلي او وړسترګي: بخیلي د زکات ، خیرات او نفقاتو د نه ورکولو سبب کیږي او برسیره خلک له بخیل کس څخه ناارامه او خواشیني وي او همدا ډول دبدویلو او بدګمانی لامل ګرځي همدارنګه دوړسترګي لړ لګښت ، ګراني ته خورونکي توکي ساتل، د بډو اخیستل ،غوړه مالي او نورو ګناهونو لامل ګرځي.



www.tanzona.com

۳ -درواغ : انسان ددرواغو په مرسته خپلو گناهونو ته توجیه جوړوي او ددروغو توجیهاتو تر پردې لاندې په سل گونې نورې گناوې رامینځ ته کیږي .

۴ -خښم او بد اخلاقي : دا هغه عیب دی چې دښکنځلو ،غیبتونو،دښمنی او نورو بدیو لامل گرځي ، ځینې نوروعیبونه او گناوې هم سته چې نورو گناهونو ته لاره هواروي لکه بدگماني ،حرام خوړل ،دار،کبر او داسې نور.

ځلورم-د شیطان بل مهم کړه ، انسان وړوگناهونوته هڅول دی

. هغه څوک چې له لویوگناهونوڅخه ځان ساتي شیطان هغه وړو گناهونو ته هڅوي
دا وړې گناهوي په لمانځه هم بښل کیږي مگر د هغوله تکرار څخه دا وړې گناهوي په لویو گناهو بدلیږي .

شیطان انسان هڅوي خپله گناه وړه وبولي او دهغه په کولو ونه شرمیږي او توبه ونه باسي ، په دې ډول دا وړه گناه هم په لویه گناه بدلیږي.
وایي چې :(( أشد الذنوب ما استهان به صاحبه)) تر ټولو سخته گناه هغه ده چې کوونکی یې هغه تر ټولو وړوکي وبولي ، له دې نه پرته دگناهونو وړوکي گڼل انسان نوروگناهونو ته هڅوي ببله دې چې دهغې له بدو پایلو څخه ووېرېږي .

نو ښه خبره داده چې هیڅکله کومه گناه وړوکې ونه گڼو ، دخدای (ج) په وړاندې دشرم احساس وکړو او له هغه څخه دزړه له کومې ببنه وغواړو

له شرک ، بدعت، لویو گناهو او کوشنیو گناهونو وروسته د شیطان بل کار د انسان وخت په مباح شیانو زیانول دي .

پینځم-دشیطان بل کار د انسان وخت په مباح کارونو زیانول دی

شیطان په مباح کارونو سره د انسان وخت زیانوي او هغوی له عبادت څخه غافلو ي

په اسلام کې پنځه ډوله کارونه سته

۱-حلال : ځینې کارونه په اسلام کې واجب دی واجب کارونه دوه ډوله دی



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

الف : عیني واجب - په شخص اړه لري باید تر سره سي، نه کوونکي یې ملعون دی لکه لمونځ .

ب: کفایي واجب- په ټولو مسلمانانو واجب دی که یې ځیني اجراکړي د نوروغاړه هم په خلاصیږي لکه د جنازي لمونځ .

۲-حرام : هغه کړه چي کول یې ګناه لري لکه : غلا، سود ،جادوګري .

۳- مستحب: هغه کړه چي عامه ګټه ولري ،کول یې ښه دی لکه د روغتون جوړول د یتیمانو سره مرسته

۴- مکروه: هغه کړه چي نه کول یې ښه دي لکه د قران په ښوونه مزد نه غوښتل .

۵- مباح: چي د هغه کول او نه کول سره یو شی وي لکه د شتو لپاره زیار ایستل .

شپږم- دشیطان بل کار انسان کمزوروواعمالو ته هڅول دی
شیطان انسان له غوره کړو څخه راګرځوي اوپه داسي کړو وړو یې بوخت وي، چي که څه هم ثواب لري خوثواب یې لږ وي .

اووم- دشیطان بل کار انسان ته دکړاونو اود رېړونولومه ایښول ده .
شیطان هڅه کوي انسان دامتحانونه سره مخامخ کړي او داسي خبره یې ترخولې وباسي چي الله ترې ناراضه سي .



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

# د شیطان کړه

شیطان خپلې موخې ته د رسیدو لپاره د ډیرو لاروچارو څخه کار اخلي چې له دې لارو او کړو څخه په قرانکریم اونبوي حدیثونو کې یادونه سوې ده .

۱- وسوسه اچول : وسوسه هغه خبره ده چې د انسان په باطن کې تیریږي او دانسان له دننه پیدا کیږي او شیطان یا واسوس (یاني وسوسه کوونکی )له بهره د هغه عامل سي .

د وسوسي لغوي مانا زړه ته دضرر رسولو لپاره دیو شی القاء ده، وسوسه له اړه کرار ږغ ته وايي او بله مانا يې بد ، خراب او ناوړه سوچونه دي ، چې دانسا ن په مغز کې ګرځي یا کرار ږغ دی چې څوک يو کار ته هڅوي او پټ د چا په زړه کې ګرځي .

وسوسه دنفس خبرې دي .

په قرانکریم کې پينځه وارې وسوسه راغلې ده

وسوسه د طه دسورې( ۱۲۰) مبارک آيت شریف کې داسي راغلې ده :

« فوسوس إليه الشيطان... »

ژباړه : شیطان هغه (آدم ) ته وسوسه واچوله

دمؤمنون دسورې( ۹۷ )مبارک آيت شریف کې راغلي دي :

«وقل رب أعوذ بك من همزات الشياطين»

ژباړه :ووايه: «پروردګارا!» زه ستا څخه د شیطان له هڅولو فنا غواړم .

همزات انسان هڅولو ته وايي .

دسوره ناس په(۴) مبارک آيت شریف کې راغلي دي

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

«من شر الوسواس الخناس»

ژباړه- پناه غواړم دشیطان له وسوسي څخه .

د الاعراف دسورې(۲۰۰-۲۰۲ )مبارکو آیتونو کې «نزغ »راغلي چې هغه دفشار راوړولو مانا لري .

«وإما ینزغنك من الشیطان نزغ فاستعذ بالله إنه سمیع علیم ...»

ژباړه: (که تا ته ورسیږي له شیطانه ضرر نو پناه وغواړه له الله بیشکه چي الله ښه اوریدونکی اوښه عالم دی) .

د المجادلي دسورې( ۱۰ )مبارک آیت شریف کې نجوا راغلي ده ، چې هغه هم د وسوسي او پټو خبرو په مانا ده.

«إنما النجوی من الشیطان لیحزن الذین آمنوا ... »

ژباړه :بیشکه چي پټي خبرې( نجوا) د شیطان کار دی لپاره ددې چې ایمان لرونکي کسان خپه کړي .

له دې تولو مبارکوآیاتونو څخه مالومیږي چې د شیطان یو مهم کا ر انسان ته وسوسه اچول دي، چې لومړی وسوسه له آدم (ع) څخه پیل کیږي، هیڅ انسان له هغه خلاصون نه لري مګر یوازینی لاره یې له خدای (ج) څخه فنا غوښتل یا خدای(ج) ته پناه وړل دي .

وسوسه هغه مرموز شعور دی،چې یو ناپیژندونکی خیال له شیطانه یا له هوا څخه د انسان وجود ته ننوځي اوکله هم د غفلت په ډول وي .

۲- غلطې وعدې کول: شیطان دانسان د ختا ایستلو لپاره له هغه سره د درواغو وعدې کوي .

د النسا دسورې( ۱۲۰) مبارک آیت شریف کې راغلي دي

«یعدهم ویمنیهم وما یعدهم الشیطان إلا غرورا»

ژباړه «وعده کوي (شیطان) له دوی سره، په باطلو امیدونو کښې غورځوي دوی اونه کوي له دوی سره وعده شیطان مګر په فریب»



www.tanzona.com

شیطان انسانانو ته وعدې ورکوي او په دې ډول هغوی ختاباسي .

۳- دبدو عملونو ښایسته کول او تزين: د بدو اعمالو ښه ښول دي، شیطان انسانانو ته بد کارونه اوکړه ښه ښيي .

د نمل دسورې( ۲۴) مبارک آیت شریف کې راغلي دي

◌ وزین لهم الشیطان أعمالهم ...»

ژباړه :اوښايينته کړې وه دغو( امتونو) ته شیطان د هغو عملونه

د محمد دسورې( ۲۵) مبارک آیت شریف کې راغلي دي

« ...لهم الهدى الشیطان سول لهم وأملى لهم»

ژباړه :( هغو ته چې دسمې لارې له ښوولو وروسته هغه ونه مني شیطان د هغو بد کړه هغوي ته ښايسته کوي او په اوږدو وعدو يې ختا باسي »

د البقره دسورې( ۲۶۸ )مبارک آیت شریف کې راغلي دي

«الشیطان یعدکم الفقر ویأمرکم بالفحشاء »

ژباړه :شیطان تاسي د فقر اوغريبي وعدې درکوي او حکم کوي تاسو ته په ناوړو کارونو

:۴ ویره اچول

العمران دسورې( ۱۷۵ )مبارک آیت شریف کې راغلي دي

«إنما ذلکم الشیطان یخوف أولیاءه »

ژباړه :شیطان خپل پلويان ويروي .

۵- دانسان احاطه کول

اعراف دسورې(۱۷-۱۶ )مبارکو آيتونو کې راغلي دي



www.tanzona.com

«قال فبما اغویتنی لاقعدن لهم صراطک المستقیم ثم لآتینهم من بین ایدیهم و من خلفهم و عن ایمانهم و عن شمائلهم و لاتجد اکثرهم شاکرین»

ژباړه: (وویل ابلیس نو قسم دی خامخا کښېنم دوی ته په لاره ستا کې چې سمه لاره ده او راځم دوی ته له وړاندې ددوی له وروسته د دوی له ښیو ( خواو) او کینو ( خواو) ددوی اونه به مومې دوی اکثره شکر ایستونکي ) .

۶- دښمني کول

د الانعام دسورې په« ۱۱۲ » مبارک آیت کې راغلي دي

«وکذلك جعلنا لكل نبي عدوا شياطين الإنس والجن ...»

ژباړه :هر پیغامبر انسي او جني دوښمنان لري .

د البقرې دسورې په(۱۶۸-۱۶۹ )مبارکو آیتونو کې راغلي دي :

«...ولا تتبعوا خطوات الشيطان إنه لكم عدو مبين »

ژباړه : مه تابع کيږئ د شیطان پراونو ( ګامونه ) هغه ستا ښکاره دښمن دی .

شیطان لومړی له کوشنیو ګناه ځخه پیل کوي او کرار کرار سری لویو ګناهونو ته اړ باس.

د بیلګې په ډول :

برصیصاي عابد یو لوی پیر و، یو چا یوه ناروغه انجلی هغه ته راوستله چي دعا ورته وکړي، شیطان هغه عابد وسوسه کړ. هغه يې بې عزته او بیا د شیطان په مشوره مړه کړه، بیا يې تر مسلي لاندې ښخه کړه. وروته يې د هغې د احوال لپاره پیر ته راغله . هغه ورته ویل: هغې ته مې دعا وکړه جوړه سوه او ولاړه .

شیطان هغو ته ویل هغه يې تر مسلي لاندې ښخه کړې ده، هغو دخپلې خور مړی پیدا کړ، په پیر يې دعوا وکړه، دولت هغه ته ددار ځړولو سزا ورکړه ، کله چې يې هغه په دار ځړوی، شیطان ورته راغی او هغه ته يې ویل : ته ماته سجده وکړه زه دي خلاصوم.

هغه ورته ویل : زما لاسونه اوپښې تړلې دي .

شیطان ورته ویل: د سترګو په اشاره يې راته وکړه .



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

هغه پير د  سترگو په اشاره شيطان ته  سجده وکړه

شيطان ورته وويل: کفر، تا لوی خدای  (ج)پرېښود او ماته دي سجده وکړه ، ځه !

ستا ځخه مي بد راځي، ستا په پستي مي انسان نه دی ليدلئ، زه چي شيطان يم د خدای (ج) ويرېږم تا شرم  ونه کړ خدای  (ج) دي پرېښود او ماته دي سجده وکړه.  ياني شيطان انسان  پړاو په پړاو کفر ته رسوي

د فاطر دسورې ( ۶ )مبارک آيت کي راغلي دي :

«ان الشيطان لکم عدو فاتخذوه عدوا »

ژباړه :البته شيطان ستاسو دبنمن دی  ؛نو هغه دبنمن وگڼئ .

ديوسف دسورې په( ۵ )مبارک آيت کي راغلي  دي :

«إن الشيطان للإنسان عدو مبين »

ژباړه : شيطان د انسان ښکاره دبنمن دی.

د بني اسراييل دسورې په( ۵۳ )مبارک آ يت کي راغلي  دي :

«إن الشيطان کان للإنسان عدوا مبينا »

ژباړه : تل شيطان د انسان ښکاره دبنمن دی .

۷-  دانسان غولول

شيطان انسان  په غلطه لاري رهي کوي، چي کله  مرسته وغواړي،  مرسته نه ورسره کوي .

او هغه يوازې پرېږدي .

الفرقان دسورې(  ۲۹) مبارک آيت کي راغلي دي  :

«وکان الشيطان للإنسان خذولا»

ژباړه :بيشکه شيطان د انسان خوارونکی دی .



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

دحشر دسورې په( ۱۶ )مبارک آيت کې راغلي دي :

«کمثل الشيطان اذ قال للانسان اکفر فلما کفر قال بري منك اني اخاف الله رب العالمين"

ژباړه :لکه شيطان چې چا ته وايي کفر وکړه چې هغه کافرسي وايي زه ستا څخه بيزاره يم زه د رب العالمين څخه ويرېږم .

۸-موقت هيرول

د يوسف دسورې( ۴۲ )مبارک آيت شريف کې راغلي دي

«فأنساه الشيطان ذکر»

ژباړه :و هير کړل ترې شيطان يادول

انعام دسورې( ۶۸ )مبارک آيت کې راغلي دي

«وإما ينسينك الشيطان فلا تقعد بعد الذکرى مع القوم الظالمين »

ژباړه :اوکه هير کړ له تانه شيطان نو مه کښېنه له ظالمانو سره وروسته د ياديدو .

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

# د شیطا ن شکلونه

د علامه آلوسي په تفسير روح المعاني په پانه ١٤٢ ټوک١٥کي راغلي دي

کله دغه شیطانان له خپلو شکلونو څخه ماسیوا په نورو شکلونو هم لیدل کیږي .

د شیطان د نفوذ مهمي لارې

د شیطان د نفوذ مهمي لارې دا دي

١ -خبنم او شهوت.

٢- بخيلي، حرص او طمع.

٣- ډير خوړل که څه حلال وي

٤-د کور د تزين خيال

٥- په کارو کي عجله کول

٦-بخل او ويره له فقيره

٧- مذهبي تعصبات

٨- شخړه او مجادله

٩-په مسلمانانو بد خيال کول

١٠-د خلکو په زړه کي ناميدي پيدا کول

١١-کورنی له يو بله ليري کول

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

۱۲-په مسخرو اوټوکو کې افراط کول

۱۳-دیو بل سره پټ راز لرل

۱۴- د یوبل غیبت کول

۱۵-دیوبل عیب پلټل

۱۶-د منکراتو په ضد چپه خوله پاته کیدل

۱۷-انسان له صدقې ځخه منع کول

۱۸- انسان هڅول چې له نا پوهې د خدای (ج) په هکله څه ووایي

۱۹-بدو کارو ته خلک هڅول

۲۰- انسان شرک دوله کړو ته هڅول

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

# په بدن کې د شیطان ځای

***۱ ـ د نفس یا هوایا نفس اماره***

شیطان ته د نفس هوا یانفس اماره هم ویل سوی دی کله چې انسان د شیطان د وسوسې تر اغیزې لاندې راسې پام یې د مادیاتو اوخوندونو د نیا ته ګرځي نو د خدای (ج) له ذکره غافل کیږي ، نو انسان نفس د هواپه برابر کې وجودي استقلال نلري خو عملي استقلال لري .

ځینې پوهان وایي شیطان بیله نفس اماره بل شی نه دی چې د غرور اوسرکشې عامل دی .

نو ویلای سو د شیطان لفظ ډیر مفهومونه لري لکه نفس اماره، د واهمې واک. نفساني تخیل، دنیاوي لذات، ریاسات او وهیمه، موذی حشرات، فاسد انسانان، د شیطان لښکر او داسې نور

یاني هر چا ته لکه ،جن ، انس ، خزندې ته چې یاغي،طاغي، شریر او داسې نور وي هغه ته شیطان ویل سوی دی .

پیغامبر اکرم صلی الله علیه و آله و سلم وایي که غواړئ خدای (ج) وپیژنئ خپل نفس وپیژنئ چې دا دخدای (ج) مقابل تکی دی یاني د نفسه لیري سئ ځکه انسان دوې لارې لري یوه دخدای (ج) لاره اوبله د شیطان یا نفس اوهوا لاره ده .

رسول الله (ص) فرمایي :
«اعداء عدوک نفسک التی بین جنبیک»

تر ټولو ستا دښمن ستا نفس دی چې ستا ټول وجود یې نیولی دی .

انسان درې ډوله نفسونه لري : اماره ، لوامه او مطمینه .

اماره نفس:



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

اماره نفس یوه حیواني لایه ده دا د زړه میل او یو نفساني حالت دی ، چې په شهوت، غضب او نفساني کړو خلاصه کیږي په قرانکریم کې اماره نفس په بد کړو تعبیریږي ځکه هغه بدي ته امر کوي اوانسان بدي ته هڅوي او انسان د خدای (ج) له لوري راګرځوي او ګناه ته یې هڅوي .

د یوسف دسورې په ۵۳ مبارک آیت کې راغلي دي :

« وما أبرئ نفسي إن النفس لأمارة بالسوء إلا ما رحم ربي ...»

ژباړه : زه خپل نفس نه تبریه کوم اماره نفس بدي ته امر کوي مګر داچې پروردګارپر ما رحم وکړي .

لوامه نفس

لوامه نفس انسان ښه کارونو ته هڅوي

دقیامت دسورې په دویم مبارک ایت کې راغلي دي

«لا اقسم بالنفس اللوامة»

ژباړه: قسم په لوامه نفس ( ویښ وجدان او ملامت کوونکی )

لوامه کړه د عقل په فرمان نه دي ، کله چې انسان بد کار وکړي نو لوامه نفس انسان ملامتوي ،

نو نفس خپله هم قاضي دی هم مدعي

مطمینه نفس

دا یوه کامله ښوونه ده ځکه انسان په مطمینه نفس کې بد کارونه نه کوي .

دنفس اماره او شیطان اړیکي



www.tanzona.com

اماره نفس د شیطان ابزار او د نفوذ لاره ده د نفس فوځ د شیطان سپاهیان دي .
د شیطان د نفوذ لاره دانسان اند اوسوچ دی خو دشیطاني خیال محور اماره نفس دی .

نفس اوشیطان دواړه دانسان دوجود دننه دښمنان دي .

Copyright: www.tanzona.com

د قرآن کریم لخوا دانسان پیژندل سوي دښمنان

۱- دبدن دننه دښمنان

الف –اماره نفس

ب – شیطان

۲- د بدن بهر دښمنان

الف- کافران

ب- منافقان

ج- مرجفان او مجرمان

د- د دوستانو دښمن

هـ تیری کوونکي مسلمانان

و- محاربان

دطه د سورې په( ۹۶) مبارک آیت کې ر اغلي دي

« وکذلك سولت لي نفسي »

ژباړه : نفس دا ختا ایستل رازده کړه

دا د موسی (ع) کیسه ده چي کله هغه دطور غره ته ولاړ ، یو تن سامري چي له سینډ ه د تیریدولو په وخت کي یي حضرت جبریل (ع) پیژندلی و اود هغه دآس دپښو خاوره یي اخیستي وه هغه یي له زرو اوگاڼو جوړسوي خوسي په کالبد کي واچوله او هغه په خبرو راغی ،کله چي موسی (ع) له هغه



www.tanzona.com

پوښتنه کوي چې ولي دی دا کار وکړ هغه ورته وايي نفس زه ختااېستم هغه د شيطان پر ځای نفس يادوي چې د شيطان معادل دی .

دطه د سورى په( ١۶) مبارک ایت کې راغلي دي :

«فلا يصدنك عنها من لا يؤمن بها واتبع هواه فتردى»

ژباړه: نو څوک چې ايمان نه لري او له خپلو هوسونو څخه پيروي کوي، ته له هغه ګوښه سه چې خوار به سې .

دص دسورى په( ٢۶) مبارک آيت کې راغلي دي :

«يا داوود إنا جعلناك خليفة في الأرض فاحكم بين الناس بالحق ولا تتبع الهوى »

ژباړه : اې داوده ! ما ته پرمځکه خليفه کړ ې نو دخلکو تر منځ عدالت وکړه اودخپل هوا نفس پيروي مه کوه چې تا دخداى(ج) دلارې کوږ کړي .

د محمد د سورې په (١۶) مبارک آيت کې راغلي دي :

«أولئك الذين طبع الله على قلوبهم واتبعوا أهواءهم»

ژباړه :هغوى هغه دي چې خدا ى(ج) د هغو په زړونو مهر اينبي دی او دخپل د هوا نفس پيروي کوي .

دق دسورى (١۶-١٧)مبارک آيتونو کې راغلي دي :

«ولقد خلقنا الإنسان ونعلم ما توسوس به نفسه ◌ »

ژباړه : موږ انسان پيدا کړى دی او پوهيږو دهغه د نفس په وسوسو .

دلته بيا هم وسوسه نفس ته راغلي ده چې بيا هم دشيطان معادل دی .

د المايدې سورې په ( ٣٠ )مبارک آيت کې راغلي دي :

Copyright: www.tanzona.com

فطوعت له نفسه قتل أخيه فقتله فأصبح من الخاسرين

ژباړه : نوښايسته کړ دغه ( قابيل) ته نفس دده وژل د ورور د ده( هابيل) .

شيطان دوې اغيزې لري يوه باندينی او بله دننی چې دننی يې هوای نفس او دانسان اميال دي او باندينی يې وسوسي دي .

هغه وخت چې ابليس انسان ته سجده ونه کړه نو له خدای (ج) څخه يې وغوښتل هغه ته دانسان د ختا ايستلو واک ورکړي او خدای (ج) دا واک ورکړ چې انسانان ختا باسي مگر هغه چې نيکوکاران دي ،نو شيطان ته په مغزکې يوه برخه ورکړ سوه چې ناصيه نوميږي چې د نفس اماره مرکز دی چې له هغه ځايه انسان خرابو لارو ته وهڅوي .

***۲-ناصيه***

دناصيه دسر مخکنی برخي ياني دتندي پورته وينتانو د راوتلو ځای ته وايي .

«نصاه» د تندي وينتان او«وإبل ناصية» ياني اوښ په ورښو کې پورته ولاړ دی .

«المنتصی» لوړي مځکې « نواصي الناس» اشراف او پورته ناستي مانا لري ،دا مالوميږي ، چې عربو ناصيه لوړ اومځکې ته ويل چې همدا تندی د سر مخکنی اوپورته خواده.

قران کريم دا برخه د درواغو ويلو، گناه کولو لارښود او رهبري برخه بللي ده .

په غياث اللغات کې ناصيه د تندي وينته اود سر مخکې وينتو ته ويل سوې ده .

ناصيه هغه برخه ده چې د درواغو په وخت کې ډير فعاليت کوي . قرانکريم لومړی منبع ده چې د دې برخې په هکله يې ويلي دي ، چې دا ساحه دد رواغو سره اړيکې لري .

دالعلق دسورې په(۹-۱۹) مبارکو آياتونو کې راغلي دي :

«ناصية كاذبة خاطئة»

ژباړه :ناصيه درواغجنه ده

دهود د سورې په( ۵۶ )مبارک آيت کې راغلي دي چې هود (ع) خپل کام ته وايي :

«إني توكلت على الله ربي وربكم ما من دابة إلا هو آخذ بناصيتها إن ربي على صراط مستقيم»



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

ژباړه :ما يوازې په الله توکل کړی دی هغه زما او ستاسو پروردګار دی او هيڅ موجود نسته مګر دا چې الله د هغه د تندی وېښتان نيسي زما رب په مستقم لار دی .

نبي اکرم (صلى الله عليه وسلم) په يوه دعا کي وايي(ناصيتي بيدك) زما د تندي ويښتان ستا په واک کي دي، ياني دا د ناصيه اهميت ښيي چي دابرخه تصميم نيسي انسان هدايت وي او مشکلاتو ته حل پيدا کوي .

قرانکريم درواغجن له سپي سره چې سا شړي پرتله کوي چي ژبه باسي او راباسي ياني انرژي مصرفوي .

د انسان مغز د صداقت او ربښتيا ويلو لپاره جوړ سوی دی مګر درواغجن پر ځان فشار راوړي چي درواغ وايي .

د النسا دسورې د( ۱۱۸ ) مبارک آيت کي راغلي دي :

«وقال لأتخذن من عبادك نصيبا مفروضا»

ژباړه : (وويل ( شيطان ) زه نيسم ستا د بندګانو يو برخه مقرر سوې( ورکړسوي جسم) .

دلته دا برخه په مغز کي هغه برخه ده چي انسان ګناه ته هڅوي او په ورپسي آيت شريف کي راغلي دي :

ژباړه : (او زه به هغو په باطلو اميدونو ختا باسم)

ياني په هغه برخه چي زه په انسان کي لرم د هغو ی په زړونو کي به د دنياوي ژوند مينه واچوم .

نو ځکه دا ډول شيطان ته مريد ياني ياغي يا شاګرد ويل سوی دی .

ناصيه د مغز فعاله اوحساسه برخه ده ، چي په سري تړلي ځانګړتيا وي لري هغه د يو کار د پلان او تصميم نيولو دنده لري ياني د مغز مشاوره برخه ده

ساينس پوهان وايي انسان په ډيره لويه ګناه ډيره انرژي دلاسه ورکوي، هغوی د ماغزو د غبرګون لپاره مقناطيسي څپي کاروي ، چي په هغه کي د وينو جريان اوسرعت ښيي ياني په هغه ځايونو کي چي د وينو سرعت ډير وي هلته فعاليت ډير وي،ياني ناصيه درهبري ، کنترول او لارښووني د عمل ځای دی، دا برخه د ماغز دمهمه برخه ده چي تصميم نيسي .

Copyright: www.tanzona.com




www.tanzona.com

نويو ځيرونو ښوولي ده ،چي د تندي مخكنى برخي دماغزو فعاليت د احساساتو د كنترول اوعواطفو او دتصميم نيولو په مهال ډير يري .

ساينسپوهان دي پايلي ته رسيدلي دي ،چي دا برخه د كنترول او لاربشود برخه ده ،نو دا برخه نخښنه ، پلان، د ربړونو د حل او نويو اندونو ځاى دى .

ساينس پوهان وايي رښتيا ويل په مغز هيڅ فشار نه واردوي خو درواغ ډيره انرژي مصرفوي .

په كال( ٢٠٠٣) پوهانو يوه دستگاه كشف كړه چي دوراغ يي كشفول هغه ښيي چي د درواغ ويلو په مهال د ماغزو ځيني برخي فعاليت ډيريږي نو داښيي چي دا برخه د درواغو مسوله ده .



دا سره لكه په درواغ ويلو په وخت كي فعاليت ښيي.

«اسكات فارو» وايي هغه وخت چي انسان رښتيا وايي د مغز لاندي برخه يي فعاليت كوي له دي ځخه دا پايله اخلو چي دا برخه د رښتيا اودرواغو مسؤله برخه ده .

له نويو ځيرونو ځخه دا جوته سوي ده چي ماغزه د درواغو په وخت كي نسبت هغه وخت ته چي رښتيا وايو ډيره انرژي لگوي نو رښتيا ويل د ماغزو واک او انرژي ډيروي .

دا هم جوته سوي ده چي د انسان مغز د صداقت او رښتيا تصميم نيسي .

( سره يوشى بولي چي د درواغو په وخت كي ډير فعاليت كوي RACC**ساينس پوهان ناصيه د)** هر ځه چي گناه لويه وي د هغه فعاليت ډير وي او ډيره انرژي مصرفوي او وينه په هغه برخه كي



www.tanzona.com

ډیر جریان پیدا کوي،دا برخه د هدایت او کنترول برخه ده پلان جوړوي ، د مشکلاتو د حل دندې او دنورو افکارو دنده لري .

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

## دشیطان ډولونه

په قرانکریم کې دشیطان کلمه جن او انسان ته راغلې ده چې جن یې هغه ذره بیني یا په سترګو نه لیدل سوي شیطانان ( دناورغیو میکروب ) دي او انس یې انسانان دي .

***الف :ذره بیني (جن) شیطانان***

دا میکروب دی چې دانسان د ناروغی سبب ګرځي

په قرانکریم کې شیطان میکروب او نارغیو په نوم هم راغلی دی .

د ص سوره( ۴۱ ) مبارک آیت کې ایوب (ع) خدای ته وایي زه شیطان لمس کړی یم

«واذکر عبدنا أیوب إذ نادی ربه أني مسني الشیطان بنصب وعذاب »

ژباړه : یاد کړه بنده زموږ ایوب کله چې یې ږغ وکړ رب خپل ته چې بیشکه زه مس کړی یم شیطان ( میکروب) په ایذاء او تکلیف سره .

لکه چې مخکې مو وویل یو ډول شیطان د انسان د ناروغیو لامل کیږي لکه دایوب (ع) کیسه چې ویل یې زه شیطان مس کړی یم مانا داچې هغه د جلدي په ناروغی اخته و بیا یې دخدای (ج) په امر د تودو اوبو په چینه کې ولامبل او جوړ سو.

په ډیرو نبوي حدیثونو کې شیطان میکروب ته ویل سوی دی . لکه

په یو حدیث کې راغلي، چې بریتونه لنډوئ ځکه شیطان هلته ځای نیسي .

یا داچې په غوښو لړلي دسمال په کور کې مه پریږدئ چې د شیطان ځای کیږي .

دبخاری مسلم په ( ۳۲۹۵ )حدیث کې راغلي دي

شیطان شپه په خیثوم( د پزې په اخیر کې ) تیروي

همداسي په نورو حدیثونو کې راغلي دي ، لکه :

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

شیطان په خځلوکي اوسیري ، د بریتو، د بغل لاندي او نس لاندي وینتان مه اږدوئ ځکه هغه دشیطان پناه ځایونه دي ، نوکان پري کړئ د هغه لاندي د شیطان پټن ځای دی، د غني ځاله ستاسو په کور کي د شیطان ځاله ده ...

داچي شیطان د پیریانو له جنسه دی په یو حدیث کي راغلی دی چي پیریان په مردارو اوچتلو ځایوکي ژوند کوي او دانسان پاته سوي خواړه خوري او ځیني نور یي له انسانانو سره په کور وکي ژوند کوي ، په حمامو او تښنابو کي ژوند کوي چي البته دا کافر پیریان دي اوپیریانو د مشک له بویه یي بد راځي او په سوریو او چاکونو کي ژوند کوي

ابوداود (۲۹)نسايي (۳۴) اواحمد(۸۲/۵) کي راغلی په سوریو کي ادرار مه کوئ ځکه هلته پیریان ژوند کوي .

صحیح مسلم ( ۳۶۰) اوسنن ابوداود(۱۸۴) کي راغلی چي پیریان د اوش د پریوتو پر ځای کي ژوند کوي .

په یو بل حدیث شریف کي راغلي دي ، چي رسول الله (ص) وفرمایل هډوکي او خوشایي د پیریانو خواړه دی .

د بقري د سوری په ۲۷۵ مبارک آیت شریف کي راغلی دی

« الذین یأکلون الربوا لایقومون إلا کما الذی یتخبطه الشیطن من المس»

هغه کسان چي سود خوري راپورته به نسي مگر لکه هغه کسان چي د شیطان له مسه لیوني سوي دي

په اسلامي روایاتو کي شیطان د ناروغیو سبب بلل سوی دی، ډیري عفوني ناروغی چي له بکتریاوو، قارچونو او ویروسونو څخه منځ ته راځي ته د شیاطینو فوځ ویل سوی دی .

ان دا هم ویل سوي چي گناهوي له ناروغیو څخه پیدا کیږي . ځیني ناروغی د کمیاوي موادو له تغیر او تحولاتو څخه پیدا کیږي .
اسکیزوفرني یوه روحي ناروغي ده ، چي پخوانیو خلکو هغه د شیطان او پیري برید باله .

لمونځ د عفونیت، وسواس او روحي ناروغیو له منځ وړولو سبب گرځي .
پیغامبر (ص) فرمایلي دي :

شیطان د وینو د لاري په انسان کي نفوذ کوي او هغوی په رنځ اخته کوي .



www.tanzona.com

دوه ډوله عضوی ناروغي شیطاني منشا لري چې مادي سبب نه غواړي ددي ناروغۍ علت مستقیم شیطان دی .

دا دوه ډوله راغلي دي

ساري طاعون : چې وبا ده ددي ناروغۍ علت ګناه ده پیغامبر (ص) د هغه په هکله وايي( طاعون یو پلید شی دی چې د بني اسراییلو ځینو ډلو ته او ځینو پخوانیو ته نازیل سوی دی، که مو واوریدل طاعون مو ښار ته راغلی دی ، ښار ته مه ځئ، که په هغه ښار کي یاست بهر مه راوځئ، له هغه وتښتئ.

غیر ي ساري طاعون : دا یوه فردي بلا ده ،چې نن هغه ته سرطان وايي، چې تر اوسه ډاکټران د هغه په علت نه پوهیږي پیغامبر (ص) ویل هغه د پیری نیش یا چیچل دي . (د امام احمد په روایت)

ابن سینا په دې هکله وايي هر کله چې دبدن په پستو ځایونوکي لکه ورونونو، دغوږ شا کي یو پرسوب ولیدل سي هغه ته طاعون وايي چې دا بدبویه اوګاته ویني دي، کله دا ویني زړه ته ځي نو انسان ته قی، نفس تنګي پیدا کیږي، ددې پرسوب رنګ سور بیا ژیړ او خطرناک یې تور رنګ لري، چې نه ښه کیږي ( الطب النبوی، ذهبی، ص ۱۶۷).

په ابووسي کي راغلي ،چې پیغامبر( ص) وویل زما د امت له منځه وړولو اسباب یا نیزه ده یا طاعون .

یارانو یې وپوښتل : په نیزه پوهیږو خو طاعون څه شی دی؟

ویل یې : ستاسو د پیري ورور ضرر دی او په دواړو شاهدي سته (امام احمد په روایت)

په بل روایت کي چې بي بي عایشي (رض) کړی دی وایي ددي حدیث په هکله مي له پیغامبر(ص) څخه وپوښتل: نیزه اوخنجر پیژنم مګر دا طاعون څخه مو موخه څه ده ؟

هغه وفرمایل :یوه غده ده لکه د اوښ غده چې دېښنو اود بغل لاندي راوځي (زاد المعاد، ابن قیم )

دا هغه ځایونه دي ، چې خوله کوي او د شیطان د نفوذ ځای هم بلل سوی دی .

هغه ځایونه چې خوله کوي هغه د شیطان د اروحو لپاره ځانګړي سوی دی (پیری او شیطان عجایب او غرایب ، شبلی )



www.tanzona.com

کله چې پیری وغواړي د نس خوله وڅښي د هغه د نیش وهلو له ځایه غده راوځي( صحیح سنن ترمذی، آلبانی،)

حیض دشیطان یو حرکت له حرکاتو څخه دی (زاد المعاد، ابن قیم )

امام ابن قیم وایي : د جادو یو درمان د هغه ځای پاکول دي ، چې هلته جادو نفوذ کړی دی .

ابوعبید په «غریب الحدیث» کتاب کې د عبدالرحمن بن ابي لیلي په سند وایي :

کله چې پیغامبر جادو سوی ود حیوان دښکر په سر یې حجامت وکړ (بخاری، ۱۲۶/۱۰، ۱۲۷ او مسلم حدیث نمبر ۱۵۷۷)- دا حدیث ضعیف دی


پیغامبر (ص) د احرام په وخت کې د سر دردي لپاره حجامت وکړ (صحیح حدیث)

په هر اندازه چې انسان بدن پاک وي شیطان هغه ته نه نژدې کیږي هر څه چې روح یې ناپاکه وي ناروغي ورته مخه کوي ځکه شیطان خپله وایي په خالصو ( پاکو) خلکو غلبه نه لرم.

د صافات د سورې ( ۶۵ )مبارک آیت کې راغلي دي

(طلعها كأنه رءوس الشياطين)

د زقوم پاني لکه د شیطان سر غوندې دي




دناروغیو میکروب



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com





د زقوم بوټي

ناروغيو درملنه

د الاعراف دسورې په( ۲۰۱ )مبارک آيت کې د درملنې په هکله راغلي دي :

ﭑﭒ«ذين اتقوا إذا مسهم طائف من الشيطان تذكروا فإذا هم مبصرون

وإخوانهم يمدونهم في الغي ثم لا يقصرون»

ژباړه : هغه پرهيزګاران ، چې هغوى د شيطان ( ميکروب ) ديوه طايفې ( يو ډول ) لخوا مس( ناروغه ) سي ، راو غواړئ هغه چې دي مبصرون ( بينايان ، پوه خلک ډاکتران) اود هغو ورونه ( همداسې پوه خلک ) چې مرسته ورسره وکړي د هغې ( ناروغى ) په منځ وړولو( درملنه ) کې نو بيا به کسر ( زيان) کوونکي نه ياست.والله واعلم

ددې مبارک آيت په اساس بايد په هره خطرناکه ناروغي کې له پوه خلکو او ډاکترانو څخه مشوره وغوښتل سي او په علمي ډول د هغه درملنه وسي او په دې ډول دناورغ ژوند وژغورل سي .

نو د ناروغيو لپاره درملنه لازمي ده .
ډير ميکروبونه لکه بکترياوي ، فنګسونه، ويروسونه ، ډير کوشني دي چې په عادي سترګو نه ليدل کيږي، هغوى موږ وينې او موږ له هغه ځايه ( حيث) چې کوشني د ي هغه نه وينو .

الاعراف د سورى په (۲۷)مبارک آيت کې راغلي دي :

«إنه يراكم هو وقبيله من حيث لا ترونهم»

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

هغه او کام يي تاسوويني (د کوشنوالی ) له حيثه تاسو هغه نه وينئ .

ياني هغه ډير کوشني دي .

تر هغه چي ذره بيني موجودات نه وه ليدل سوي چا باور نه کوی، چي په يوې څاځکي وينه کي زرګونو ژوندي موجودات چي انسان هغه نه ويني لري .

پوهان وايي دانسان سترګي لږ رنګونه ويني اوغوږونه يي يوه محدوده فريکوينسي ږغونه اوري ،نو ځکه انسان کوشني موجودات نه ويني او د هغو ږغ نه اوري .

په بدن کي ډيري ناورغی له بې نظمی بي نارملی څخه پيدا کيږي . لکه :

مغزي زيان، ککړ تيا، ارثي متابوليکي ګډوډی ، دجنين په دوره ياد زيږيدو په مهال ټپينو، د اکسيجن له کمبوده ،له لوېدو،عفوني علتونو، مغزي آنسفاليتونو، منژيتونو، دمغزي رګودناروغيو، د لوپوس ناروغيو ، دسر ټکانونو ، مبنتلو، ، په وينو کي د قند کچه، د بډوډي بيماری، د ځکر ناروغی ... په بدن کي دګډوډويو لامل کيږي، چي دا هم درملني ته اړتيا لري .

*د ميرګي ناروغي*

صرع ( مرض خرابول )يوه نابېره د بي سدي او شين و الي ناروغي ده ، پخوا خلکو دا ناورغی دانسان بدن ته د پيري ياشيطان دننوتلو له امله ګڼله او طبيبانو هڅه کوله په ډول ډول چمونو شيطان د هغه له بدنه وباسي.

يونانيانو داسي بيمار ځوروئ، ان د ناروغانو سر يي په تيږو او ډبرو سوری کوئ يا يي هم جادو باندي کوئ .

بقراط لومړی سړی و ،چي ددې نظر مخالفت يي وکړ ، هغه ويل : دا يو ډول مغزي ناروغي ده .

اوس ډاکټران داناروغي دمغزي سلولونوګډوډي بولي، چي« اپي ليپسی» ورته وايي دا بيماري نه ده بلکه د مغز يوه برخه ښه کار نه کوي ، چي مغز په طبيعي ډول کا روکړي برښنايي څپي پيدا کوي او په مغز ی اعصابو کي تيريږي او د خرپړ تيا په حال کي يوه بريښنايي سپرغی(جرقه) پيدا کوي ، چي دا سپرغی د انسان دبي سده کيدو يا مرض خرابيدو لامل ګرځي .



www.tanzona.com

***ب: انساني شیطانان***

داهغه انسانان دي چي انسان د خدای دلارې راګرځوي

۱-منافقان ، کافران، مشرکان.

- دبقره سورې ۱۴ مبارک آیت کي راغلي دی

: (و إذا خلوا إلى شیاطینهم)

ژباړه (کله چي یوازې سي د شیا طینو( مشرانو) خپلو سره)

دلته له منافقانو څخه موخه کعب بن اشرف او نور و مشرکانو ته ویل سوي دي .

(النفال دسورې په ۴۸ مبارکآیت کي راغلي دي

«وإذ زین لهم الشیطان أعمالهم وقال لا غالب لکم الیوم من الناس وإني جار لکم ◌ ...»

ژباړه « ښایسته کړي دي شیطان (کفارو) عملونه ددوی او ویې ویل چي نسته هیڅ غالب پر تاسو نن ورځ له خلقو اوزه همسایه ( پلوی ) یم ستاسو...»

ددې آیت شریف په تفسیر په هکله علما وایي ،چي شیطان د عربو دیوه کافر سردارسراقه بن مالك بن جعشم په شکل له یوشمیر لښکر سره راغي او هغو ته یي د بري ډاډ ورکړ.

***۲-ساینس پوهان او تیوریسنان***

هغه ساینس پوهان دی چي په غطو شیانو خلک ختا باسي ، آسمان ته د مالوماتو لپاره فضایي بېړۍ اوشتلونه استوي ،چي یو نیم سم مالوت تر لاسه کړي بیا سل نور درواغ د رښتیا په نامه ورسره یوځای کوي او په هغه د خلکو عقیدې خرابي وي .

دالحجر دسورې په (۱۶-۱۸ ) مبارکوآیاتونو کي راغلي دي :

للناظرین وحفظناها من کل شیطان رجیم «ولقد جعلنا في السماء بروجا وزیناها
» استرق السمع فأتبعه شهاب مبین إلا من
کي مو برجونه جوړ کړي اوهغه مو لیدونکو ته ښکلي کړي دي ژباړه : په تحقیق په آسمان



www.tanzona.com

شیطان څخه ساتلي دي، مګر هغه څوک چي په پټه هغه ته غوږ نیسي او هغه مو له هر رټلي کیږي ښکاره شهاب د هغه پسي.

هغه فضايي بيرى چي فضا ته توغول کيږي او مالومات راټولوي شهاب ثاقب پسي را غورځول کيږي .
د صافات دسورې په(۶-۱۰)مبارکو ایتونو کي راغلي دي:
»إنا زينا السماء الدنيا بزينة الكواكب وحفظا من كل شيطان مارد لا يسمعون إلى الملإ الأعلى ويقذفون من كل جانب دحورا ولهم عذاب واصب إلا من خطف الخطفة فأتبعه شهاب ثاقب«
ژباړه : موږ آسمان د دنیا په ستورو ښکلی کړ او هغه مو د هر سرکښ شیطان څخه وساتی، هغوی نسوای کولای ملک الاعلی ته غوږ ونیسي ، له هری خوا شهاب اوري، مګر هغه چي خبره واوري له هر یخواوییښتل کیږي او (هغوی )په تیزي لیري کیږي او ورته دایم عذاب دی مګر هغه چي څه واوري شهاب دهغه پسي غورځول کیږي .
په دې مبارک ايت کې« مارد» خبيث او نا خبره مانا لري، (مدحور) ياني رټل سوي او( واصب )د واجب او لازم مانا لري او)خطفة ( د يوشى پټ غلا کولو ته وايي .

هغه ساینسپوهان فضايي بيرى چي غواړي دملک اعلی په اړه مالومات پيدا کړي په شهاب ويشتل کيږي هغو نسوای کولای د هغه په اړه مالومات تر لاسه کړي کله کله یو نیم مالومات تر لاسه کړي خو ژر له ویرې تښتي .

دالجن دسورې( ۹ )مبارک آیت کي راغلي دي:
» الآن يجد له شهابا رصدا وأنا كنا نقعد منها مقاعد للسمع فمن يستمع»
لپاره پټ کښیناستو، مګر اوس هر څوک چي وغواړي غوږ ژباړه : په ( اسمان ) کي د اوریدولو ووینې . ونیسي شهاب به د ځان پسي
شیطان مارد هغه ګمراه الحاج دکتور محمدامین نظری ددې مبارکو آیتونو په تفسیر کي وایي دلته مرسته) آسمان ته د مالوماتو د ساینس پوهانو ته ویل سوي دي ، چي دیو بل په اوږو ( دیو بل په کایناتو د اسراروځان خبر کړي، نو کله چي یو راغونډولولپاره فضايي بيرى توغوي او غواړي د وي اوخلک په هغه بي لارې کوي . نوی شی ووینې له هغه سره سل نور درواغ ګډ
شهابي ډبرو سره مبتلي کله کله دغه فضايي تو غندۍ اوپه هغه کي سپاره فضانوردان په فضا کي د یا ویشتل کيږي چي ښه بیلګه یي په فضا کي ددوو فضايي بيريو اور اخیستنه ده ، چي په ترڅ کي یي ( ۱۴) تنه فضا نوردانو مړه سوي دي .
دالشعرا د سورې( ۲۲۳) مبارک آیت کي راغلي دي
السمع وأكثرهم كاذبون» «يلقون
. ژباړه : شیطان غوږ نیسي ډیر یې درواغجن دي


www.tanzona.com

ستوری پیژندونکي چي یو ستوری کشف کړي  له هغه سره سل درواغ له ځانه یوځای کوي  .یاني یو ربښتیا سل درواغ وایي .

کړې چي یو نوی شی رابرسیره کړي   سل نور   ساینسپوهان  غواړي په پټو رازونو ځان خبر خرابیدو سبب ګرځي  یا هغه شیان وایي چي خلاف د  غلط شیان ورسره  ګډوي او د خلکو د ذهنیت د *سفیني چي آسمان ته توغول کیږي  شهاب هغه تعقیب وي .*  هغه قران  اواسلام وي. نو *سوري کوونکي او اور اچوونکي   ته وایي شهاب ثاقب.*

## فضا ته  فضایي شتلونو په اړه لنډ مالومات

لومړی شوروي اتحاد د اسپوتنیک بیړی  فضا ته  له لومړی فضا نورد یوري ګاګارین سره وتوغول   هغه د مځکي په مدار  وچورلید.
بیا د کاینانو د اسرارو د افشا په خاطر د امریکا لخوا  د مرکوري، جمیني او آپولو سفیني فضا ته وتوغول سوې، دامریکا په لومړی اپولو کي دری فضا نوردان مره سول او کال  (۱۹۶۹ م)کي یولسمه  اپولو له درو فضا نوردانو سره  په سپوږمی ته ورسیده اولومړی سړی نیل آرمسترانګ  وچي پر سپوږمی  یي ګام کیښود . والله عالم
اوبیا  په فضا کي (۱۸) آپولو  د مځکي په مدار کي د سایوز-۱۹ سره یو ځای سوله او وروسته  په کال ( ۱۹۸۱م) کښي لومړی شاتل   فضاته وتوغول سو تر اوسه اوه شاتله:  انترپرایز، لاره مونډونکی (پت فایندر (کلمبیا، چلنجر، دیسکاوري، آتلانتیس او اندور جوړ سوي دي  چي دوه یي نامکمله پاته سوي او له  پینځو شاتلو څخه دوه« چلنجر»او «کلمبیا» ویجاړ سوي او دري یي په فضا کي په فعالیت بوخت دي. په دي دوو پیښو کي( ۱۴ ) تنه فضا نوردان مړه سوي دیاو اوس  روسي شاتل  چي «بوران » نومیږي په فضا کي په څیړونو بوخت دي .
په آسمان کي په  میلونونه کوښني جرمونه په حرکت کي دي ،  چي هغه ته شهاب ویل کیږي .

شهاب ثاقب
که چیري دا آسماني جرمونه یا ډبري د مځکي له جو سره ټکر وکړي  موږ هغه د یو شهاب په ډول وینو، شهاب د نور  هغه توتي ته وایي چي موږ یي د مځکي له جو سره دمښتیدو په وخت د یوې سرې غورځکي په ډول وینو، شهاب ته لویدلي ستوري  هم وایي مګر په هیڅ ډول هغه ستوري نه دي.
دا ډبري  ( ۷۰ )کیلو متر په یو ساعت  کي  حرکت کوي ، مځکي له دې چي مځکي ته راورسیږي ( ۷۵ -۱۱۵( کیلومترلیري واټن کي له مځکي سوځي دهغه له مښتیدو څخه ډیره تودخه  او روښنایي



www.tanzona.com

پیداکیږي د هغه سوځل څو ثانیې دوام کوي .
که یو جرم ونه سوځي او مځکې ته راسي هغه د شهابي ډبرو په نامه یادیږي چې ډیری داسې ډبرې مځکې ته راغلي دي .

***۳-دپلاستکی طب ماهران اود تیتوانځورګران***

هغه ډاکترانو ته هم شیطان ویل سوي دي . چې دانسانانو جنسیت تغیروي یا هغه خلک چې حیوانات سینګار وي اویا دانسان په بدن عجب اوغریب انځورونه باسي .

دالنسا دسورې په( ۱۱۹) مبارک آیت شریف کې راغلي دي :

«ولأضلنهم ولأمنينهم ولآمرنهم فليبتكن آذان الأنعام ولآمرنهم فليغيرن خلق الله ۝ ومن يتخذ الشيطان وليا من دون الله فقد خسر خسرانا مبينا »

ژباړه :( شیطان وا یي) اوزه به هرومرو هغوی ګمراه کړم، زه به هغوی په باطلو امیدونو کې واچوم او امر به وکړم دوی ته په څیرولو د غوږونه د بوده ګانو اوامر به وکړم چې تغیر ورکړي پیداینت دخدای د مخلوقو او هر چا چې شیطان د خدای پر ځای سر پرست اوخپل یار ونیوئ نو په ښکاره زیان کې دی .

یاني هغه برخه چې زه په انسان کې لرم له هغه لارې به دانسانانو په زړونو کې دنیاوي ژوند مینه واچوم د ځیناورو غوږونه به څیري او د بتانو په نامه به یې خوشي کوي او دالله تعالی پیدا کړي صورتونه او د هغو مقررکړي څیرې به واړوي چې په دې کې دبدن سوري کول ، پلاستکي عملیات، خالونه ایښول ، ډول ډول وېښتان جوړول او مخونه رنګول او داسې نور راځي.



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

# شیطان او ساینس

هروخت چې دانسان د تندي ماغزه ستړي سي انسان د ستړیا احساس کوي، صبر او حوصله له لاسه ورکوي .اوس دا جوته سوې ده ، چې انسان دوه ډوله یوشیطان صفته اوبل ملایک صفته ماغزه لري او دواړه په هم آهنګه شخړه کښې دي .

ملایک صفته ماغزه د ښه ژوند او شیطان صفته ماغزه دګناه برخه جوړوي.ملایک صفته ماغزه انسان سمي خواته او د شیطا ن صفته ماغزه انسان بدوکاروته هڅوي .

دځینو پوهانو په اند شیطان صفته ماغزه خپل ځانګړې صفتونه ، ځانګرې اندونه اوکړه ،او خپل دستورات او قوانین لري ، چې د شر اوفساد اصلي منشا ده او د هغو له دخالته پرته انسان هیڅ د شر عمل نه کوي ځکه شیطان له زړه سره لاره لري چې انحرافي تصورات او سوچونه د مغز د کرکی له لارې دانسانانو فکرونو ته القا کوي او هغوی د حق له لارې کږووي .




مغز اټکلا سل میلیارده «نورونونه» لري او یو کوادریلیون «سینا پسونه» لري ،چې کولای سي په یو ثانیه کې لس محرکې غریزې پر مخ بوځي، دنړی تر تولو تیز ترین کمپیوتر( ۱,۷۵ )پتافلاپونه په اوه میلیون وات انرژې پر مخ بیولای سي خو مغز په شل واته انرژې سل پتا فلاپونه په مخ بیولای سي. نو مغزڅه کارونه چې کولای نسي ؟!

Copyright www.tanzona.com



www.tanzona.com

صبر او تصمیم د تندي یا «فرونتال لوب» پر غاړه دی، دا د ماغزو ډېره پر مختللي برخه ده ، دېنځو د ماغزو دا برخه دسړیو په پرتله لویه ده.

دکلفورنیا د تکنالوژي ډاکټر« انتونیو رنجیل » د ساینس په ژورنال کي لیکلي دي :

ځیرونکي داخیري چي ولي ځیني خلک دځان د کنترول واک لري او نور یي خطر مني

په کال( ۱۹۸۳ )کي د امریکا د طبی انجمن ژونال ولیکل :

د تندی ماغزه( فرونتل لوب )موږ دهیجاناتو د کنترول مرکز دی او زموږ د شخصیت کور دی

د مغز بله داسي برخه نسته چي دهغه خرابیدل دومره بد علایم ولري ( کولب او وشیو

(Kolb & Wishaw, ۱۹۹۰.

د مغزدا برخه ډیري دندي لري لکه : د پرابلمونو حل، بي خودي ، حافظه، دخبرو پیل، قضاوت، دټکان( ضربه) کنترول او اجتماعي او جنسي خویونه او داسي نور

دا چي دا برخه ډیر ژر ضرر ویني ده نو ځکه د هغي مخي ته جمجمه پرته ده ، اسفنویید ور ته نژدې او هغه ساتي .

د دې برخي په تناظر کي توپیر سته ،چیه برخه یي حرکت او راسته خوا یي دخبرو د کنترول دنده لري دي برخي ته په زیان رسولوسره په انسان کي ډیر دراماتیک تغیرات راتلای سي ،که چپه خوا زیان وويني یو کاذبه نتلی او غمجن حالت رامنځ ته کیږي اوکه راسته خوا زیان وويني یو کاذب سایکوپاتیک پیښیږي( ۱۹۷۵ بلمر او بنسن)

(Blumer and Benson, 1975)

ددې برخي ماغزوته په ضرر رسیدو سره جنسي سلوک هم اغیزمن کیږي او جنسي کړه غیر نارمل کیږي یاني له سکس سره مینه کمیږي .

دماغزو دا ځانګړې برخه دبنه کړو او معنویت مسؤله ده، په ایتالیا کي یوی ځیرني ښولي ده چي د ماغزو داځانګړې برخه د ماغزو د دننی ارامي احساس لوړ وي .

د «نیچر» د راپورت په اساس عصب پیژندونکي «کازیمو یورګسي» د« یودین» د پوهنتون استاد له خپلو ملګرو سره په هغه کسانو چي په مغزي ناروغیو اخته وه ځیرنه وکړه اودعملیاتو مخکي او وروسته یي د هغوی احساسات بررسي کړل،




www.tanzona.com

د هغوکسانو چې د ماغزو د شا برخي يې جراحي سوي وې له درو تر اووه ورځو پورې ښه احساس ښوولی دی، مګر د هغوناروغانو چې د ماغزو مخکنۍ خوايې جراحي سوې وه داسې احساس نه ليدل کيده.

دهغه يو ملګری وايي داسې مالوميږي ، چې دانسانيت جوهر د بشر يو جز دی .

د اناتومي په اساس مغز دغه لاندې برخي لري :




۱د تندی ماغزه (Frontal Lobe)

۲د نزلې ماغزه (Parietal Lobe)

۳- دسر د شا ماغزه( Occipital Lobe )

۴- موقت ماغزه( Temporal Lobe )

۵ -اړخي ماغزه (marginal Lobe )

ددې څېړونو په اساس که د ماغزو لاندې دوې بر خې له منځه ولاړې سي په انسان کې د معنويت احساس لوړيږي يو د نزلې د ماغزو په چپه خوا کې لاندې برخه اوبل راسته خوا د زوايې د ماتيدوبرخه ده ، دا دوې برخې زموږ دبدن د ادارک مسولي او له بهرنۍ نړۍ سره په اړيکې کې دي، چې دا دبدن د معنوي اوعرفاني احساس ځا ی دی .

«يورګسی» وايي تر ټولو مهم يې په انسان کې دا ژر تغير دی .

په( ۸۸) مغزی تومور لرونکو ناروغانو څېړنه وسوه چې له هغو څخه دلسو نفرو تمور د عمليات وړ نه و، له هغو نورو څخه د عملياتو مخکې ددينې عقايدو او مذهبې عاداتو پوښتنه و سوه،

Copyright: www.

له عملیاتو وروسته ډاکتر وویل ، چي دتندي ماغزه او دنزلي ماغزه له مذهبي باورنو سره اړیکي لري خو معنویت او تعالی احساس دقیقا په هغو اړه نه لري .

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

# ددعا او عبادت اغيز

د شيطان د دفع لپاره بل لاره د دعا او عبادت لاره ده که انسان خپل ځان تل پاک وساتي او ذهن د خداتعالى په ياد بوخت کړي پر هغه شيطان اغيزه نسواى کولاى .

د النسا د سوري په ( ۸۳) مبارک آيت کي راغلي دي :

«...ولولا فضل الله عليكم ورحمته لاتبعتم الشيطان إلا قليلا»

ژباړه :( که د خداى (ج) فضل اورحمت نه وي پر تاسو د شيطان متا بعت کوى مګر لږ)

له دي مبارک آيت څخه مالوميږي چي دعا او په خداى توکل او له خدا يه پناه غوښتل انسان دمشکلاتو او ناروغيو ساتي .

طبي څيړنو اوس منلي ده چي هغه خلک چي په منظم ډول په پوره اخلاص او صداقت دعا او عبادت کوي له نورو په پرتله لږ ناروغيږي او د نورو په پرتله له ناروغيو سره په ښه ډول مقابله کولاى سي ، دنورو په پرتله بي د جراحي تپونه ژر رغيږي، او ژر شفا کيږي .

دالاعراف سورې په (۲۰۰)مبارک آيت کي او دحم سورى په (۳۶) راغلي دي :

«وإما ينزغنك من الشيطان نزغ فاستعذ بالله ۞ إنه سميع عليم »

ژباړه (که په تا باندي شيطان بريد وکړي نو پناه وغواړه له الله بيشکه چي الله ښه اوريدونکى اوښه عالم دى)

دلته نزغ د ميکروب بريد ته ويل سوى دى کله چي ناروغ سوى دخداى (ج) پناه وغواړه . والله علم

دالمومنون سورى په (۹۷)مبارک آيت کي راغلي دي

«وقل رب أعوذ بك من همزات الشياطين»



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

ژباړه: اووایه خدایه! د شیطانانو له هڅولو څخه ستا څخه پناه غواړم .

دلته همزات هڅول راغلی دی د هغو کسانو ( کافرانو) چي تا هڅوی د خدایه پناه وغواړه

دالنحل سورې په (۹۸)مبارک آیت کې راغلي دي

«فإذا قرأت القرآن فاستعذ بالله من الشيطان الرجيم»

ژباړه: نو هغه وخت چې قران لولې د الله پناه وغواړه د رټل سوی شیطانه .

دالمجادله سورې په (۱۰)مبارک آیت کې راغلي دي :

إنما النجوى من الشيطان ليحزن الذين آمنوا وليس بضارهم شيئا إلا بإذن الله ۝ وعلى الله فليتوكل المؤمنون

ژباره :پټي خبرې د شیطان ( منافقانو )غمجن وي هغه چې ایمان راوړی دی هغو ته ضرر رسولای نه سي مګر په اجازه د الله، مؤمنان باید پر خدای توکل وکړي .

دلته له شیطان څخه مرادمنافقان دي د هغو له ضرر ه باید په خدای توکل وسي.

طبي څیړنو ثابته کړې ده ،چې عبادت او دعا د انسان دفاعي سیستم د پیاوړتیا سبب ګرځي.

په دې څیړونو کې یو ډول مواد پیژندل سوي چې د دعا په وخت کې دانسان په دماغ کې تولیدیږي او دا مواد په نیغه د انسان د دفاعي سیستم له حجراتو سره اړیکي لري، دا هم جوته سوې ، چې د دعا په وخت کې د انسان په دماغ کې یو ډول حجرات چې

دفاعي سیستم د( استروسایتس) په نامه یادیږي د« انترلوکین-یو» په نامه یوه ماده چې د انسان په د وینې د سپینو اغیزه لري تولیدوي . همدارنګه هغه کسان چې په منظمه توګه دعا کوي، د دوي حجراتو په یو ډول کې چې« لمفوسایتونه »نومیږي او د انسان په دفاعي سیستم کې رول لري، د هغه کیمیاوي موادو په مقابل کې چې د انسان له مرکزي عصبي سیستم څخه ترشح کیږي یو ډول آخذي موجودې وي، سربیره پر دې، د دعا ځینې رواني (روحیاتي فکتورونه لکه آرامتیا، غوښتنه، تمه او هیله، د اندیښني کموالی او د ژوند کولو لپاره)هیله او اراده یو ډول مواد چې د انسان د وجود دفاعي سیستم پیاوړی کوي ترشح کوي، چې انسان د ناروغیو په مقابل کې وقایه کوي او د ناروغیو په مخنیوي او علاج کې رغنده رول لوبوي .

د امریکې د ډوک په پوهنتون کې د مذهبي څیړنو د مرکز مشر« هارولد کوئنیک» په اند د دعا په نتیجه کې په وجود کې روحي آرامتیا د هغه هورمون د کمښت سبب ګرځي چې په انسان کې د



www.tanzona.com

روحي فشارونو په وخت کې په لوړه کچه څخیږي . دا هورمون له یوې غدې چې د پښتورګیو په پاسنی آخري برخه کې ځای لري ترشح کیږي .

دعا کول دهغه هورمون د کمښت سبب ګرځي چې په انسان کې د روحي فشارونو په وخت کې په لوړه کچه د عملیات مخکې د تشویش او خفګان سبب ګرځي مخنیوی کوي .

دعا او عبادت هغه ناروغانو ته چې په ډول ډول ناروغیو اخته وي یوه ښه تګلاره ښودل سوې ده چې دې درملنې ته د لرې لارې درملنه ویل کیږي . دنوروکسانو د دعا په وخت کې په ناروغ کې د سیپخلتیا انګیرنه پیدا کیږي، او ناروغ د همدردی زړسوي او خواخوږی احساس پیدا کوي چې دا ټول فکتورنه د ناروغي په علاج کې مهم رول لوبوي . څیرونکي زیاتوي، که چیرې د ناروغ او روغو کسانو لپاره نور خلک په پوره صداقت او اخلاص دعا وکړي نو دا کار به د نویو ناروغیو په مخنیوي، کموالي، د ناروغیو د شدت په کموالي کې د ملاحظې وړ اغیزې ولري .

د دې څیړنو د مثبتو پایلو په نتیجه کې، د امریکې په ځینو طبي پوهنتونونو کې دعقیدې او طب تر منځ د مثبتې او نامه لاندې ځانګړې مضامین تدرسیږي تر څو ډاکترانو ته د دعا اودرملنې اغیزمنې اړیکې په باره کې مالومات ورکړي .

دناروغ پوښتنه او د ناروغ د شفا لپاره د دعا اهمیت ته اسلام ( ۱۴۰۰ )کاله پخوا نغوته کړې ده .

مبارک دین په اساس له ناروغیو څخه شفا د الله تعالی په بشپړ واک او قدرت کې ده. د اسلام

دنړی پوهان او څیړونکي د پرمختللي ساینس پر مټ اوس اوس پر دې مسایلو څیړنې کوي .

داچې شیطان ( میکروب )انسان ته سجده ونه کړه یاني د هغه فرمانبرداره نسو ،دهغه روغتیا یې نه غوښته نودانسان د نارامي سبب سو.

ډاکتر توماس هایسلوب وایي: "زما د اوږدې تجربې له مخې، لمونځ د خوب لپاره تر خورا مهمه وسیله ده، په دې مانا که چا ته خوب نه ورځي، لمونځ دې وکړي چې خوب ورسي، او د یوه ډاکتر په حیث دا ویل غواړم چې لمونځ د انسان د نفس او اعصابو د ارامی تر ټولو غوره وسیله ده.

خو ډاکتر الیکسیس کارلیل – چې په طب کې یې د نوبل جایزه ګټلې ده ، بیا وایي: "لمونځ د انسان په بدن او د جسم په سیستم او غړو کې یو عجیب فعالیت راولي، لمونځ د فعالیت یو ستر مولد دی، ډېر ناروغان مې ولیدل، چې په درملو یې هېڅ چاره ونه سوه، خو لمونځ یې غوره علاج وګرځېد. لمونځ د رادیوم معدن په څېر دی، چې وړانګې لري او د ذاتي نشاط لپاره مولد دی، لمونځ د ګڼو او وژونکو ناروغیو علاج ګرځېدلی دی .

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

# پايله

دشيطان مفهوم وصفي دی ،چي د شرير په مانا دی، هر موجود کيدای سي شيطان اوسي ياني هغه څوک ،چي انسان بدو کارونوته هڅوي اوپه ربړونو اخته کوي، هغه ته شيطان ويل سوی دی،شيطان د انسان دښمن دی ، شيطان انسان نه پرېږدي موخي ته ورسيږي که يي وه نه سوای کولای لاره ورته غباري کوي چي ناوخته ورسيږي ،نو هر شی چي د انسان دښمن وي هغه شيطان کيدای سي.

شيطان له انسان سره غلطي وعدې کوي ، هغه ويروي او پړاو په دېړاو انسان ختا باسي.

خدای تعالی شيطان دانسان دښمن بللی دی، دښمن هغه څوک دی، چي انسان غلطي لارې ته برابروي ، هغه ناروغه وي چي عبادت ونه کړي، هغه ته د کايناتو په هکله درواغ وايي، دهغه ذهنيت خرابوي ...

په دې ټولو کړو کې شيطان خپلو پيروانو ته وايي : زه په تاسو هيڅ ډول واک نه لرم زه يوازې تاسوته بلنه دروکوم ،ستاسو زړه که هغه منئ يا يي نه منئ ، ياني منل يي د انسان کار دی، هغه په چا زور نه راوړی چي هرمرو دهغه بلنه ومني ځکه شيطان خپله وايي په خالصو ( پاکو) خلکو غلبه نه لرم .

په قرانکريم کې شيطان په مفرد ډول (۷۰) واري او جمع( ۱۸) واري راغلي ده ،شيطان يو عام نوم دی هر متمرد شرير او موذی ته ويل سوی دی، دا يو وصف دی نه نوم،

تکبر، کفر، حرص، حسد، تعصباو جهالت د هغه کړه راغلي دي ،

وسوسه اچول، فحشا ته امر کول ، ګناه ته هڅول،دښمني اچول، دجادو ښوونه ، اوددبدو کارونو محور دی .



Copyright. www.tanzona.com
www.tanzona.com

دشيطان مرسته کوونکو   نورو قوتونه اولاد، ګونډ، اوليا  اولښکر ويل سوی دی .

په قرانکريم کې د شيطان په اړه ټوله مسايل علمي دي .

دالناس  په مبارکې سورې کې راغلي دي ،  چې شيطان هم  انسي او جنسي دی . انسي يې  هغه مخلوقات دی چې په سترګو ليدل کيږي او جنسي يې هغه موجودات دي  چې په عادي سترګو نه ليدل کيږي .

همداسي چې شيطانان ډول ډول دي د هر يوه د کار کړنلاره هم بيله ده ، په قرانکريم کې د هر يو ډول شيطان  لپاره دهغه کړنلاره راغلی ده  ـلکه :

«نجوا » (په غوږ کې څه ويل)، چې منافقانو  ته راغلي ده

«همزات » ( هڅول) د مشريکانو  ته راغلی دی ،« نزغ (» په انسان بريدکول) د ناروغيو يا ميکروب لپاره راغلی دی، او«استز» ( ښويول يا ختا ايستل )  ساينسپوهانو ته راغلي دی ...

شيطان د ځلور خواو پر انسان بريد کوي او د هغه اند او خيال تصرفوي څکه ميکروب هر چيرې سته او موږ يي احاطه کړې يو، نو يو ډول شيطان ميکروب دی. انسان چې د خدای بنده دی که دخدای (ج) په امر کړه وکړې شيطان پر هغه تسلط پيدا کولای نسي .

تر هغه چې ذره بيني موجودات  نه وه ليدل سوي،  چا باور نه کوی، چې په يوې ځاځکي وينه کې تر زرونو زيات  ژوندي موجودات چې انسان هغه نه ويني لري. پوهان وايي  دانسان سترګې لږ رنګونه ويني اوغوږونه يې يو محدوده  اندازه فريکوينسی ږغونه اوري .

دانفال د سورې په   (١١) مبارک آيت کې راغلي دي :

«ويذهب عنکم رجز الشيطان»

ژباړه :پاکوي تاسو د شيطان  له نجاسته

هغه اوبه چې دآسمانه راځي ( باران ) تاسو د دوړو او خاورو  ( چې د ميکروبو ډک دی  )پاکوي .

ساييس پوهان وايي  د ورځي تر يو ميلون ميکروبونه په مخ او لاسونو موښلي چې په  پرېولو له منځه ځي .



www.tanzona.com

مشريكان ، منافقان او كافران مسلمانان ختا باسي، د هغو د دين بد وايي ، هغوی ته غلطي وعدې وركوي . ساينس پوهان او فضانوردان اوتيوريسنان انسان ته يو رښتيا اوسل درواغه سره ګډوي اووايي خلک د پرمختګ او د يموكراسى په نامه ختاباسي او په دى ډول غواړي دخداى قانون تغير كړي او په ناعلمي اونه ثابت سوو درواغو د خلكو ذهنت خدابوي همدا سي لكه داروين په خپلې غلطو نه اثابت سوي تيوري خلک ختا باسي چي دې تولو ته شيطانان ويل سوي دي .

دشيطان د كړونو دمنلو اونه منلو مركز په انسان كې د تعقل هغه برخه ده چي« ناصيه» بلل كيږي اودا برخه دانسان د تندي ماغزه دي ، چي هغه ته د شيطان مركز يا د نفس اماره ځاى هم وايي چي انسان د خداى (ج) د بندګي له لارې باسي، انسان په ځان پرستي او هوا پرستي اخته كوي .

دشيطاني خيالونو محور اماره نفس دى ،په حديثونو كې د دانسان د بدن دننني دښمن اماره نفس بلل سوى دى چي بايد جهاد اكبر ورسره وسي .

دانسان وجود منفي بعدونه لري ، چي يو يې منفي صفتي يا شيطاني لاره ده اوبله يې دخداى لاره ياني مثبت صفتي ده.

په واقع كي اماره نفس دشيطان د نفوذ عامل دى، نو د خداى خالص او صالح بندګان د شيطان له تسلطه امن دي . والله علم

Copyright: www.tanzona.com

# اخځونه

ADYAN.PORSEMANI.IR

ALE-MAHAMMED.COM

ASKQURAN.IR

BABOLNAME .COM

BEAYAN.NET

BLOGUNA.COM

BPIC.IRANBLOG.COM

DAILYLINK.IR

DASTEHKELID.PERSIABLOG.IR

ERAMNEWS.IR

FARDANEWS.COM

FIS-IRAN.ORG

GHADEER.ORG

GODME.BLOGFA.COM

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

GOTQUESTIONS.ORG

HALEEMI.BLOGFA.COM

HAWZAH.NET

HUJURAT.PERSIANBLOG.IR

ISLAM411.COM

ISLAMIC-NOTES.BLOGFA.COM

ISLAMPEDIA .IR

JASJOO.COM

MEASONIC .IR

MONIBIN.COM

NIAZM.WORDPRESS.COM

NIKSALEHI.COM

NOOREASEMAN.COM

QURAN –P.COM

QURAN-M.COM

RASEKHOON.NET

SEYEDHADI 1.BLOGFA.COM

SHIABLOGGERS.IR

SHIA-NEWS.COM

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

SONNY-IRAN.PERSIANBLOG.IR

TEBYAN-ZN.IR

UNHINDEREDLIVING.COM

VIJEEEEEEH.PERSIANBLOG.IR

YEXAR.COM

YORIKHUDO.MIHANBLOG.COM

ZITOVA.COM

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com